# د خوب مانا (تعبیر)

(والله اعلم)

لیکوال:

پیرمحمد باوري

باسمه تعالی

# د خوب مانا (تعبیر)


لیکوال:

**پیرمحمد باوري**

خپروونکی: **خپله لیکوال**

کمپوز او ډیزاین: **عثمان عاصي**

چاپ کال: ۱۳۹۹ش/ ۲۰۲۰ع

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د مخونو شمېر: ۱۸۲



**ټول چاپي حقوق په خپروونکي اړه لري!**

# خوب څه شي دئ؟

هر انسان چي کله بیده کیږي خوب ویني. خوب ویني چي ماشوم سوی دئ، ښېرېږي، ږغېږي، الوزي، له خوبه خوند اخلي، خلك چي پېژني یا نه پېژني خوب ته ورځي. کوم ځایونه چي پېژني یا ئې نه پېژني مینه کوي، کرکه کوي او داسي نوري په زرگونو پېښي ... خو کله چي راویښ سي ځیني ئې په یاد او ځیني ئې هېرېږي.

خلك په دې باور دي چي دا خوبونه کله کله رښتیا کیږي او د راتلونکي په اړه انسان ته خبر ورکوي. هر خوب ځانگړی مفهوم او معنی لري.

په پخوانیو کیسو کي راغلي چي یوه بادشاه خوب لیدلی وو او بیا ئې خوب رښتیا سو او یا هم بېلابېل تعبیرونه ورکول کېدل، پخوانیو پادشاهانو به ځانته سلاکاران، پهلوانان، مسخره کوونکي او هم دا راز د خوبونو له پاره تعبیروونکي درلودل.

دغه راز زما خپله په یاد دي چي پخوا به مذهبي واعظانو هم په مسجدونو کي داسي تبلیغ کاوه چي قیامت رانژدې سوی دئ او پلانکي مشر او امام داسي خوب لیدلی دئ او له خلکو به ئې غوښتل چي توبې وباسي او خیراتونه وکړي.

په قرآنکریم کي هم د خوب ذکر سوی دئ، مثلاً د سورت یوسف په څلورم او پنځم ایت کي راغلي چي حضرت یوسف علیه السلام خوب لیدی

چي یوولس ستوري، لمر او سپوږمۍ سجده ورته کوله. پلار ئې د خوب تعبیر وکړ چي پادشاه کیږې، خو خپلو وروڼو ته خپل خوب مه وایه چي کوم بد پلان درته جوړ نه کړي.

د مصر پاچا هم خوب لیدلی وو او د دربار تعبیر کوونکي ته ئې ویلي وه چي د خوب تعبیر ئې وکړي، خو په دربار کي هیچا و نه سو کولای چي د هغه د خوب تعبیر ورته ووایي. په دې وخت کي یوسف علیه السلام په زندان کي دئ. یو تن پیشخدمت پاچا ته وایي چي زه یو څوك پېژنم چي ډېر هوښیار او ځیرك سړی دئ. هغه کولای سي چي ستا د خوب مانا په ښه وجه سره وکړي. هغه اوس په زندان کي دئ یوسف نومیږي.

هغه یو وخت په زندان کي زما د یوه ملگري او زما د خوب مانا او تعبیرونه وکړل او وروسته په رشتیا هم هغه څه پېښ سول چي راته مانا سوي وه.

د یوسف علیه السلام دغه خبري د سورت یوسف په ۳٦م آیت کي هم راغلي دي چي یو ئې وایي: ما خوب لیدی چي د واینو شیره باسم او بل وایي چي د ډوډۍ شکور مي پر سر وي او مرغان له هغه څخه ډوډۍ خوري. دغه خبره د دوولسم سورت په ۴۱م آیت کي راغلې او وایي هغه یو چي د واینو شیره باسي ډېر ژر به په دربار کي دنده پیدا کړي او پاچا ته به واین اچوي چي وې چښي او هغه بل چي د ډوډۍ شکور ئې په خوب لیدلی دئ په غاړه به وځړول سي، مرغان به ئې غوښې خوري چي بیا وروسته همداسي وسول.

پادشاه ورته وایي چي ورسه او یوسف ما ته راوله، هغه ځي او یوسف علیه السلام ورته راولي چي د پاچا خوب ورمانا کړي.

پادشاه خوب لیدلی وو چي اووه دانې ډنگر غوایي او اووه دانې چاغ غوایي خوري او اووه دانې د جوارو وچ بوټي اووه دانې هم تازه بوټي په خوب ویني (سورت یوسف: ۴۷ - ۴۹ آیتونه). یوسف علیه السلام ئې د خوب مانا داسي کړېده:

اووه کاله به حاصلات پرېمانه وي او یوازي هغومره به مصرف کړي چي ستاسي د خوراك له پاره کفایت وکړي او نور ئې ذخیره او سپما کړئ، چي اووه کاله به حاصلات بیخي لږ وي او سپما سوي حاصلات دي ورسره مصرف سي او وروسته کاختي پای ته رسیږي. حاصلات او اوبه بیرته خپل عادي حالت ته راگرځي.

ځرنگه چي حضرت یوسف علیه السلام ویلي وه هماغسي وسول. پاچا پوه سو چي یوسف علیه السلام ډېر پوه او هوښیار سړی دئ. هغه ئې خپل لومړی وزیر وټاکه. یوسف علیه السلام خپله ټوله کورنۍ مصر ته راوستله او هلته ځای پر ځای سول او پلار ئې د سترگو دید بیرته پیدا کړ او ټول په خوښي سره هلته ژوند کوي.

# آیا خوب په رشتیا هم کومه مانا او مفهوم لري او کوم خبر رسوي؟

په دې باب بېلابېل نظریات موجود دي او د بېلابېلو ټولنو په کلتور پورې اړه لری، چې څرنګه د پېښو وړاندېز کوي.

## د خوب علمي څېړني څه وايي؟

د خوب تعریف: غیرآګاهانه تصورات، خیالات، هیجانات، تصویرونه، آوازونه او په انسان کې داسي نور څیزونه دي چې هغه ته (اوناى رولوجي) ویل کیږي او خوب د خوب په وخت کې لیدل کیږي چې د انسان سترګي په ډېر سرعت سره حرکت کوي او انسان ګومان کوي چې ویښ دئ، په داسي حال کې چې هغه ویده وي او په غیرارادي توګه تر سره کیږي.

دا چې خوب څه هدف لري او کوم پیام رسوي معلوم نه وي، خو ډېر بحثونه راپارولاى سي، اما ډېرى کسان په دې باور دي چې خوب هیڅ کوم هدف او مقصد نه رسوي او دا یوازې یو بایوکیمیکل جریان دئ چې د خوب په وخت کې رامنځته کیږي.

خوب ته د انسان د ویښ حالت تاثیرات هم ویلاى سو چې د ویښي په وخت کې ئې انساني ماغزه ثبتوي او وروسته ئې تکرار او یا هم یوه برخه په بل ډول په خوب کې ویني.

د خوب ډېري کمي برخي د انسان په حافظه کي پاتيږي او تقريباً ۹۰ فيصده ئې کله چي انسان راويښ سي له ياده ځي. د خوب موده فرق کوي له څو ثانيو څخه نيولې بيا تر نيم ساعت وخت نيسي او کله چي راويښ سي بيا ئې زياتره برخه بيرته هيريږي. په خوب کي د ليدو تر څنګ اوازونه هم اورېدل کيږي، څېرې او رنګونه هم وينو.

## آيا خوب ليدل انسان ته ګټه که زيان لري؟

خوب ليدل انسان ته تاوان نه رسوي او شايد ګټه لا هم ولري او د انسان مزاج ښه کړي.

د خوب يو لوی تيوريسن اتريشی زګ موند فرويډ وايي:

د انسان مغز د شعوري او غيرشعوري فعاليتونو مسئوليت پر غاړه لري، هغه د پسيکوانالتيک تيوري چي د روحي ناروغيو درملنه لاس ته راوړه. زګ مونډ فرويډ د خوب او د هغه د مانا په هکله ليکلي دي چي خوب ژور او عميق احساسات، تحريکات، هيجانات او افکار تعريف کړي دي چي اکثراً د کوچنيوالي د دورو له خاطرو څخه بيان کوي. وروسته وايي: بې له دې چي د خوب ليدلو مضمون په نظر کي ونيسو جنسي ميلان او لېوالتيا هم ښکاره کوي، لکه موږ چي د شيطان بازي ورته وايو.

ډاکتر مسعود انصاري خوب ليدل د ذهن د ناآګاه فعاليت يو اړخ بولي. هغه په خپلو څو کتابونو کي چي د اسلام په باره کي ئې ليکلي دي، ليکي چي: د ويښتيا په حالت کي د ذهن آګاه اړخ د انسان ټول فعاليتونه تنظيم او پر مخ وړي، مګر کله چي بيديږي د ده د ذهن آګاه اړخ هم د ده د بدن سره يو ځای بيديږي او فعاليت نه کوي. په دې وخت کي د انسان د ذهن

غیرآگاهانه اړخ چي د ویښتوب په وخت کي غلی وي او هیڅ ډول فعالیت نه لري واک په لاس کي اخلي او انسان په ډول ډول خوبونو د کوچنیوالي د وخت، ځوانۍ، ښه خوبونه، ډاروونکي خوبونه او داسي نورو ته راکاږي.

خوب هم دا ډول غیرآگاهانه تصورات، خیالات دي چي په بې خوابۍ، د الکهولو په چښلو، د ډېري ډوډۍ په خوړلو اړه لري، او انسان و ډول ډول خوبونو ته راکاږي.

## خوب ولي هېرېږي؟

ویل کیږي د خوب په وخت کي په مغزو کي تغیرات راځي، د مغز هغه برخه چي معلومات ثبتوي خوب نه سي کولای چي ثبت ئې کړي، له دې کبله څه وخت چي راویښیږو دستي مو خوب هیریږي.

ښځي او نر مختلف خوبونهویني. نارینه اکثراً فزیکي فعالیتونه، زور ازمایي، د وسلې استعمال او نور نارینه په خوب ویني، مگر ښځي بیا ښایسته جامې، زېورات او فېشن په خوب ویني.

هغه حوادث چي انسانان په خوب ویني د دوی له کنټرول څخه وتلي دي، ښه خوب د ټولو انسانانو خوښ دئ او له وحشي او ډاروونکي خوب څخه کرکه کیږي.

لیدلي به مو وي کوم کارونه چي په ویښه څوک کوي هغه بیا په خوب ویني، د ښوونځي درسونه، ازمویني، همصنفیان، معلمان او داسي نور.

که څوک خالي معذرت نیولی وي په خوب کي تشناب ته ځي، مگر ستونزه ئې نه حلیږي، تر څو راویښ نه سي او ولاړ نه سي.

## د خوب تعبيروونکي درناوی د پوښتني په وخت کي:

کله چي يو څوک د خوب مانا کوونکي ته ورځي، لومړی بايد سلام وکړي او کښېني. خدای او رسول ياد کړي او له پاك خدای څخه مرسته وغواړي، بيا نو خپل خوب بې له دې چي لږ يا ډېر ئې کړي ټکي په ټکي عرض کړي. تل بايد رشتيا ووايي تر څو چي خوب ئې په حقيقي ډول مانا سي.

د خوب مانا کوونکی بايد ښه صبر او حوصله ولري چي د راغلي کس بيان په ښه غور سره واوري او د پلار د نامه پوښتنه ئې وکړي. د هغه حال او احوال بايد ښه په دقيق ډول وپوښتي او بيا ئې خوب ورته مانا کړي.

د خوب مانا بايد د لمر راختلو او لمر لوېدلو په وخت و نه غواړي، تر څو چي يا لمر سم راختلی نه وي او يا سم لوېدلی نه وي او څوك چي خوب ويني بايد و بې عقل، لېوني او خپل دښمن ته ئې و نه وايي.

که چا خوب ليدلی وي او له مانا څخه ئې ډاريږي درې واره دي قل هوالله ووايي او خوب دي ووايي او دا دعا دي وکړي: خدايه! ته توانا يې او زه ناتوانه يم، ته دانا يې زه عاجزه يم، ته پر هر شي قادر يې که زما خوب ښه وي نېکي زما روزي کړې او که بد وي له ما څخه ئې ليري کړې.

## له خوب ليدلو څخه خوند واخلئ!

که په ويښه څوك سالم او روغ سوچ ولري همدا سوچونه په خوب کي پر انسان غلبه کوي او په خوب کي ئې ويني.

که په خوب کي يو ښه انساني خوب ويني، د چا لاسنيوی دي کړی وي، چا ته دي خير رسېدلی وي، د چا سره دي مرسته کړې وي او يا دي

ځوك و نېكو كارونو ته هڅولی وي. كله چي له خوبه راويښ سي پر خپل خوب خوند اخلي او د پاك خدای شكر باسي.

او كه دي په خوب كي ډاروونكي، غيرانساني، د سيمي او انسان په ضرر عمل او كړنه تر سره كړې وي كله چي راويښ سې پر خپلو كړو پښېمانه يې، خولې درباندي راغلي وي او ډېر بېرېدلی يې، بيا هم شكرونه كاږې چي ښه سو دا ناوړه كارونه مي په ويښه نه دي كړي او له دې ناوړه عمل څخه وژغورل سوم.

هو دا سوچ او فكر هغه كس كولای سي چي په ويښه هم د ښو او نېكو كړنو او اعمالو پلوی وي، كه په ويښه ورانكاری وي نو بيا هيڅ پښېماني نه كوي، ولي چي دا ډول كارونه د ځان دنده بولي، په كولو ئې هم هيڅ نه شرميږي

نو كه غواړی له خوب ليدلو څخه او هم په ويښه له ژوند څخه خوند واخلی، روح او وجدان مو آرام وساتئ، نېكه لاره ځانته غوره كړئ، زيار وباسئ چي له بدو او ناروا كارونو څخه لاس واخلئ، ولي چي په هماغو كارونو چي تاسي بوخت ياست هغه په خوب كي درځي.

لكه دا ټوكه:

يو سړی ډاكتر ته ورغی، ورته وې ويل: په خوب كي څو نجوني زما كوټې ته راسي، زه چي و هغو ښايستو نجونو ته وګورم هڅه وكړم چي ټينګي ئي كړم، كله چي ورولاړ سم هغوی د كړكيو له لاري وتښتي. بيا نو ټوله شپه ناآرامه يم.

ډاكتر ورته وويل: سمه ده، زه درمل دركوم چي دغه نجوني بيا په خوب كي درنه سي.

سړي ورته وويل: نه خير دئ رادي سي، کله چي زه ورولاړ سم راڅخه تښتي دي نه، سړي غوښتل په خوب کي هم خوند څني واخلي.

# [آ]

## آزادي

که څوک په خوب کي وويني چي آزاد سي او يا ئې څوک آزاد کړي، داسي مانا لري که ناروغ وي خدای پاک شفا ورکوي، که پوروړوی وي له پور څخه خلاصيږي، که حج ته نه وي تللی حج ته ځي، که بندي وي له بنده خلاصيږي، که ګناهکار وو توبه کاږي، که غمګين وو خوشحاله کيږي.

په لنډ ډول آزادي په خوب کي ډېر نېک او بختور شی دئ.

## آسمان

که څوک ځان په خوب کي په اول آسمان کي ووينې مانا ئې دا ده چي اجل ئې نژدې سوی دئ او که ئې ځان په دوهم آسمان کي وليدی په دې مانا چي علم او پوهه لاس ته راوړي. که ئې په دريم آسمان کي ځان وليدی په دې مانا چي نړيوال عزت او بريا تر لاسه کوي او که ئې ځان په څلورم آسمان کي وليدی په دې مانا چي له لوړپوړو چارواکو سره نژدې کيږي او که ئې ځان په پنځم آسمان کي وليدی مانا ئې ببره او ډار دئ او که ئې په شپږم آسمان کي ځان وليدی په دې مانا چي بخت او ښېګڼه تر لاسه کوي.

او که چیري له آسمان څخه ملایکي راکښته سوې او د ده له څنګ څخه تېري سوې په دې مانا چي د علم او پوهي دروازه د ده پر مخ خلاصیږي، که څوك ځان پر آسمان باندي وویني په دې مانا چي په سفر به ولاړ سي او په هغه سفر کي به ئې ډېري بریاوي په برخه سي. او که د آسمان پر مخ الوتی وو په دې مانا چي د برکت سفر به ئې په برخه سي.

که له آسمان څخه کوم مرغه خبري ورسره وکړې په دې مانا چي خوښي به ئې په برخه سي او که آسمان ته ولاړې په دې نیت چي بیا مځکي ته نه راځي پاچهي او بزرګي ئې په برخه کېږي.

که څوك له آسمان څخه ږغ اوری دا هم د خیر او برکت مانا لري.

که چا په خوب کي ولیدل چي له آسمان څخه عسل اوري په دې مانا چي د خلکو له پاره د خوښې او نېکۍ زېری دئ.

که له آسمان څخه رېګ او خاوري اورېدلې که لږ وي د ښو مانا لري که ډېري وي بده مانا او بدبختي راولي.

او که چا ولیدل چي له آسمان څخه لړمان، ماران او یا ډبري اوري په دې مانا چي پر هغه سیمه د پاك خدای عذاب نازلېږي.

او که چا ځان په خوب کي له آسمان څخه راوځړاوه په دې مانا چي کارونه ئې پر مخ ځي او بریاوي ئې په برخه کېږي.

که چا په خوب کي ولیدل چي د آسمان دروازې پرانستي وې یا خلاص سوې په دې مانا چي په هغه کال کي د خلکو دعاوي منل کیږي، ډېر بارانونه اوري. اوبه ډېري وي.

که چا شین آسمان په خوب ولیدی په هغه هیواد کي خیر و برکت، صلح و تېکاو راځي.

که آسمان سپين وو، په دې مانا چي هلته رنځ او ناروغی وي. او که ئې آسمان سور په خوب وليدی هلته بيا شخړه او وينه تويېدنه وي. او که ئې تور آسمان په خوب وليدی په هغه سيمه کي بلا، فتنه او بدبختي راځي.

که آسمان صاف او پاك وو په دې مانا چي د دين رڼا ئې په برخه کيږي.

که ئې آسمان داسي په خوب وليدی چي دده پر سر آسمان شين سو، په دې مانا چي رزق او روزي ئې ډېريږي. پوه او حکيم کيږي او د ده له لاسه څخه خلکو ته روزي رسيږي.

او که چا آسمان ته سجده کوله او د هغه عبادت ئې کاوه په دې مانا چي بې دينه او ګمراه کيږي.

که چا په خوب کي اشپزي يا پخلی کاوه که ئې ښه خوندور خواړه پاخه کړل ګټه ورته رسيږي او که ئې بې خونده خواړه پاخه کړل زيان ور رسيږي.

که چا په خوب کي وليدل چي له آسمان څخه ډبري لکه باران اوري په دې مانا چي د هغه ځای پر خلکو بده بلا راځي.

او که له آسمان څخه غنم او اوربشي اورېدلې په هغه سيمه کي د خدای تعالی ډول ډول نعمتونه چي د خلکو د سوکالی لامل ګرځي ډېريږي.

## آذان

که چيري يو مؤمن مسلمان آذان واوري او يا پخپله د لمانځه له پاره آذان وکړي داسي مانا لري چي حج ته به ولاړ سي.

که ئې آذان په مسجد يا منبر کي وکړ دا مانا چي خلك د خدای تعالی لاري ته رابولي او که ئې په خپله بستره کي آذان وکړ په دې مانا چي د خپلي

ښځې سره مینه لري او که ئې آذان په خپل کور کې کاوه په دې مانا چې مفلس او ملنګ ځنې جوړیږي او د کور کوم غړی ئې وفات کیږي. او که ئې آذان په کوڅه کې کاوه په دې مانا چې جاسوس او مخبر به سي.

که چا خپلې ښځې ته آذان کاوه په دې مانا چې له دې نړۍ څخه ځي.

که چیرته ماشوم آذان کاوه په دې مانا چې د مور او پلار سره د خدای په امانې اخلې.

او که ئې به حمام کې آذان کاوه د ژوند د تریخوالي په مانا دي.

که چیرته بندي په محبس کې آذان کاوه او اقامت ئې وایه له زندان څخه خوشې کیږي.

که ئې په ریشخند آذان کاوه په دې مانا چې له منځه ځي او که ئې د غره پر سر آذان کاوه دا مانا لري چې پاچهۍ ته رسیږي او یا پاچا ته رشتیا خبري کوي.

او که ئې د جنګ په وخت کې آذان کاوه په دې مانا چې بزرګۍ ته رسیږي، که ئې د کور په کونج کې آذان کاوه په دې مانا چې په کار کې خیانت کوي.

## آس

آس په خوب کې لیدل د عزت، پت، بزرګۍ او لوړوالي مانا لري.

که چیري پر آس سپاره واست او هغه ستا په امر او قوماندہ وو، مانا ئې عزت او بزرګي ده او هم دولت او کامراني تر لاسه کوی.

که د هغه آس زین، کراسته یا قیضه نه وه په هم هغه اندازه په بزرګي کې زیان دئ.

که د چا آس ښه ګڼه لکۍ درلوده په هم هغه اندازه ئې نوکران، خادمان په چوپړ کي وي.

که چیرته ئې د آس لکۍ لنډه او پرې سوې وي په دې مانا چي نوکران او خدمتګاران ئې په چوپړ کي نه وي.

که چیریته د آس کوم غړی کم وي او یا زیان ولري په هغه اندازه ئې عزت او شرف زیان لري.

که چیرته ئې له آس سره جنګ کاوه او هغه یاغي وي ستا قومانده او فرمان و نه مني په دې مانا چي مصیبت او ګناه کوې.

که چیرته په خوب کي پر لغړ آس سپور وې په هغه اندازه مصیبت او ګناه ئې ډېره وي او که آس د بل چا وي نو ګناه ئې و خاوند ته رسیږي. که چیرته آس شاتوری وو او ستاسي فرمان ئې منی په دې مانا چي بزرګي او شرف مو ډېر دئ.

که څوک پر آس سپور وو او هغه پر بام یا دېوال ولاړ وو په لړه یا ډېره ګناه اخته کیږي. که چیري په خوب کي څوک پر آس سپور وي او هغه والوزي او یا لکه مرغه وزرونه ولري په هوا سي په دنیا او دین کي شرف او بزرګي تر لاسه کوي. خاوند ئې سفر هم کوي.

که څوک پر ابلق آس سپور وي مانا ئې دا ده چي هر کار چي وکړي هغه شاهدي ورکوي.

که پر ژړ آس سپور وي مانا ئې دا ده چي په لږه ناروغي اخته کیږي.

که له آس څخه ولوېدی په دې مانا چي له شرف او بزرګۍ څخه لویږي.

که د شاتوري آس څخه ولوېدی په دې مانا چي له ګناه او مصیبت څخه لاس پر سر کیږي.

که چیرته په خوب کي پر آس سپور وي، په وسله او زغره مجهز وي په دې مانا چي بزرگي او شرف پیدا کوي. داسي چي هیڅوك مقابله نه سي ورسره کولای او پر غلیم تل بریالی وي.

او که ئې آس ځغلاوه چي جنګ وکړي له ده څخه ګناه کیږي او هم بېره ورته رسیږي.

که چیرته پر آس سپور وي او هغه جومات ته یووړی په دې مانا چي هیڅ خیر او برکت نه لري.

که چیرته بېګانه آس د چا کور یا کوځې ته ورغی په دې مانا چي یو نامتو او شریف سړی د دوی و کور او کوځې ته ورځي. او که آس د کور او یا کوځې څخه ووت په دې مانا چي شریف او بزرګ سړی د دوی له کوځې څخه ورکیږي او یا مړ کیږي.

که چا په خوب کي ولیدل چي پر رهداره آس سپور دئ، په دې مانا چي غښتلې او راستکاره ښځه به وکړي.

که ئې د آس غوږ پرې وو په دې مانا چي نوکران او خدمت کوونکي ځني ځي، که ئې آس سر واخیست په دې مانا چي به خپل کاروبار کي زیان ویني مګر بیرته ئې کارونه سمیږي.

که ئې چیرته بې لکۍ آس رانیوی او پر هغه سپور سو په دې مانا چي داسي ښځه به ئې په برخه سي چي اصل او نسب و نه لري. که څوك په خوب کي وویني چي پر آس هوا ته پورته سي او وروسته بیرته راکښته سي په دې مانا چي د یوه لوړپوړي حاکم له خوا په هلاکت رسیږي.

که چیرته خپل آس په لغته وواهه او یا ئې خوله ورواچوله په دې مانا چي مېرمن ئې د ده په پټه خیانت ورسره کوي. او که چا آس ورڅخه غلا کړ په

دې مانا چي ښځه به ئې مړه سي. او که ئې آس ورك سو په دې مانا چي خپله ښځه به طلاقه کړي.

که ئې خپل آس خرڅ کړ په دې مانا چي عزت او پت به ئې لړ سي او یا به ئې ښځه ځني بېله سي.

که چیرته چپه پر آس سپور وو په دې مانا چي په لوی لاس په بېکاره او ناکاره کارو لاس وهي چي په هغه کي به ډېر شرمنده او پړ وي.

که د چا آس سرزوری وي په دې مانا چي نفس به ئې په خپل واك نه وي او که د چا آس د ده په امر او قومانده وي او فرمانبرداري ئې کوي په دې مانا چي نفسي غوښتني ئې تر خپل واك لاندي وي.

د ځل آس په خوب کي د هغه بخت دئ، په هره اندازه چي آس د ده په قومانده وي په هغه اندازه ئې بخت او طالع ډېره وي. که چیرته د ځل آس چي په بل عبارت یابو هم ورته وایي و یوه کلي او یا ښار ته راغی په دې مانا چي یو بېگانه او غریب سړی په هغه ځای کي ښکاره کیږي.

که چیرته پر داسي یوه آس چي اوږده لکۍ ولري سپور وي د هم هغې اوږدې لکۍ په اندازه ئې دوستان او ملگري ډېر وي او که ئې لکې لنډه وه خپل ملگري او دوستان له لاسه ورکوي.

## آش

که چا په خوب کي ولیدل چي د پسه یا وري له غوښو سره آش خوري په دې مانا چي په هغه اندازه د نظامي کسانو څخه گټه تر لاسه کوي او که چا د غوایي له غوښو یا د سوی له غوښو، قروتو او مستو سره خوړی لږ گټه تر لاسه کوي.

بل روایت بیا داسي دئ چي په خوب کي آش د سوی له غوښو او یا بل تریو شي سره خوری د غم او ویر په مانا سره دئ.

## آهنگر

که چا په خوب کي ولیدل چي آهنگري ئې کوله او په خپله آهنگر یا پښ نه وو په دې مانا چي له چا سره په دښمني اخته کیږي.

آهنگر د حاکم او لوړپوړي په مانا دئ.

که چيري آهنگر په خوب ووینې چي آهنگري کوي د خیر او ګټې په مانا ده.

# [الف]

## اوبه

که مو په خوب کي وليدل چي د اوبو پر مخ لکه د رود او يا سمندر روان ياست، د دې مانا پاکه او سپېڅلې عقيده او باور دئ او همدارنگه د ايمان قوت دئ.

او که مو په خوب کي روڼي او خوږې اوبه ډېري وچښلې دا مانا لري چي د اوږده عمر خاوند به ياست او ژوند به مو په خوښيو او خوشحاليو کي تېر سي او که مو په خوب کي ترخې او تروې اوبه وليدلې د دې لوړو خبرو خلاف خبره ده.

که مو د سمندر خوږې او روڼي اوبه وچښلې په دې مانا دي چي له لويانو څخه به په هماغه اندازه نعمت تر لاسه کړی او که مو د سيند اوبه وچښلې مانا ئې دا ده چي بزرگي او نعمت ئې په برخه کيږي. ولي چي اوبه رڼا ده په تېره بيا روڼي اوبه. که اوبه خړي وي دا نو بيا زيار، زحمت، بېره او خواري ده.

که چا په خوب کي تودې اوبه چښلې د دې مانا رنځ او زيار دئ، که څوك په اوبو کي ولوېدی هم د رنځ او غم مانا لري چي په اخته کيږي.

که چا اوبه په يوه ښايسته او بلورين لوښي کي خپلی ښځي ته ورکړې مانا مېرمن ئې اميندواره ده او کوچنی لري، که چيري لوښی مات سي او اوبه ئې

توی سي د دې مانا لري چي ښځه ئې مړه کيږي او اولادونه ئې يتيمان کيږي او که اوبه توی سوې لوښی تش سو، د دې مانا لري چي اولاد به ئې مړ سي او مېرمن به ئې ژوندۍ پاته سي.

که ئې اوبه وړيا و خلکو ته ورکولې داسي مانا لري چي په دنيا او آخرت کي ئې خلکو ته خير رسيږي او وران ځايونه جوړوي.

او که د روڼو اوبو پياله لکه سپی داسي چښي په دې مانا چي ژوند به په عيش او عشرت تېروي.

که ډېري اوبه لکه باران د خلکو پر سر واوري يا توی سي په هغه کال کي د پاک خدای نعمتونه ډيريږي. او که په کور کي خړي اوبه ودريږي بدبختي او نېستي وي په هغه کال کي.

که چا خپل باغ يا مځکي ته اوبه ورکولې د ويالې يا رود څخه څخه په دې مانا دي چي له ستونزو او غم څخه ژغورل کيږي.

په خوب کي خلکو ته اوبه ورکول نېک عمل او د دين ټينګښت دئ، که څوک اوبو ته ورننوځي او په هغه وخت کي غښتلی وي په ستونزمن کار لګيا کيږي او د له هغه څخه په خوښې راوزي. او که په روڼو اوبو کي ئې ټول ځان پټ سي په دې مانا چي دين ئې قوي او غښتلی کيږي.

که چيري ئې اوبه باغ ته بېولې په دې مانا چي ښځه کوي.

که څوک په خوب کي ويني چي له پزي څخه ئې اوبه راځي په دې مانا دي چي زوی به ئې وزېږي.

که څوک ويني چي له پزي څخه ئې اوبه څڅيږي په دې مانا دي چي پورونه ئې ادا کيږي او د رنځ او غم څخه ژغورل کيږي او که ناروغ وي ناروغي ئې جوړيږي.

که څوک په خوب کي ووینې چي په یوه نابلده ځای کي رفع حاجت (شاشي یا متیازي) کوي په دې مانا چي له هغه ځای څخه ښځه په نکاح کوي.

په خوب کي متیازي کول د بېوزلی له پاره چاره، د غلام له پاره آزادي، د ناروغ له پاره شفا، د بندي له پاره آزادي، د مسافر له پاره راتګ، د خلیفه له پاره مرګ، د قاضي له پاره له وظیفې شړل او د سوداګرو له پاره په کاروبار کي د زیان په مانا دي.

که څوک په خوب کي ووینې چي نس ئې لکه د میندواري ښځي دومره غټ سوی وي هغه ته مال او دولت ډېر په لاس ورځي او بډای کیږي.

## اور

که څوک اور په خوب ووینې چي هغه ته زیان و نه رسوي داسي مانا لري چي له یوه حاکم سره نژدې سي او د ستونزو غوټه به ئې خلاصه سي. او که چا هغه په اور کي واچاوه او اور هغه وسوځي دا مانا لري چي حاکم پر هغه ظلم وکړي، مګر ژر د هغه له ظلم څخه وژغورل سي.

که ئې اور د ډېر تودوالي سره په خوب ولیدی په دې مانا چي په تبه اخته کیږي او که ئې د ده د وجود غړي وسوځل په دې مانا چي په هغه اندازه ده ته زیان او ربړ رسیږي او که د اور تودوالی وروسېدی په دې مانا چي څوک د ده غیبت کوي.

که ئې په خوب کي پر چا اور یا لمبه شیندل په دې مانا چي د خلکو تر منځ دښمني او بې اتفاقي اچوي.

که په خوب کي چا ولیدل چي جامې په اور سوځي په دې مانا چي د خپلو خپلوانو سره په شخړه او دښمنۍ اخته کیږي.

که چا په خوب کي پر ډېر لوی اور ځان تودواوه په دې مانا چي ډېر لوړ مقام ته رسیږي.

که چا په خوب کي ولیدل چي له مځکي څخه اور راوزي او رڼا کوي دا مانا لري چي هلته خزانه پټه ده.

که چا په خوب کي اور خوړی په دې مانا چي د یتیمانو مال خوري.

که د چا له خولې څخه اور راوتی په دې مانا چي د رواغ او بهتان وایي.

که چا په خوب کي ولیدل چي پر څنګ ئې اور بل دئ او هغه ته زیان رسوي په دې مانا چي هغه ته خیر او نېکي رسیږي.

که چا په خوب کي ولیدل چي داسي اور ئې بدن سوځوي چي رڼا نه لري په دې مانا چي په بده ناروغي اخته کیږي او که اور رڼا درلوده په دې مانا چي د هغه په خپلوانو کي د چا زوی زیږي، یا ډېري پیسې تر لاسه کوي او لوړ مقام ته ځان رسوي.

که څوك پر اور باندي ولاړ وو، په دې مانا چي هغه ته درد او رنځ رسیږي.

بې له دوده اور په خوب کي قوت، زور، شان او دبدبه ده.

که څوك په خوب کي اور بلوي چي ځان په تود کړي او یا بل څوك له سړو څخه وژغورل سي په دې مانا دي چي کوم شی وغواړي له هغه څخه ګټه پورته کوي.

که چا په خوب کي په دېګ پسي اور بل کړی وي چي کوم شی پوخ کړي په دې مانا دي چي مېرمني ته به ئې ګټه رسیږي.

که په خوب کي چا اور بل کړ چي له ربړا څخه ئې کار واخلي ستونزي ئې له منځه ځي او خپل مطلب ته رسيږي.

که چا په تنور يا دېګدان کي بې له دې چي کوم شی پوخ کړي اور بل کړ، د خپل دوست او يا د کورنۍ له غړي سره شخړه او دښمني کوي. که چا غوښتل چي به خوب کي اور بل کړي او هغه نه بلېدی او ربړا ئې هم نه کوله په دې مانا چي د خپلي پوهي څخه ګټه پورته کوي. که چيري دا سړی حاکم وي ځای، مقام او دولت ئې ډېرېږي.

او که چا په خوب کي اور لګاوه او هغه مړ سي د دې مانا دا ده چي د هغه د مرګ خطر هم سته، بايد خيراتونه، عبادتونه او نېک کارونه وکړي چي له دې خطر څخه وژغورل سي.

که چا په خوب کي پر لويه لار او بيابان باندی اور بل کړی وي چي خلك ئې له ربړا څخه خپله لاره ومومي دا په دې مانا دي چي له خپلي پوهي او حکمت څخه ئې ګټه لاس ته راوړې ده او ښه لاره ئې نيولې ده.

که چا په تناره کي د اور يا څراغ له پاره سجده او عبادت کاوه، دا مانا لري چي د ښځو په چوپړ اخته کيږي.

که چا نغری يا دېګدان په خوب وليدی په دې مانا چي د کور مېرمن يا خدمه (مينځه) ده چي د کور خدمت کوي.

که چا په خوب کي د اور ربړا وليده او د هغې ربړا په مرسته ئې لار پيدا کړه، په دې مانا چي تقوا او پرهېزګاري ئې ډېرېږي او که ئې په خپل کور کي اور بل وليدی چي له ربړا څخه ئې کور روښانه سوی وي په دې مانا چي کارونه ئې ښه کيږي او دولت ئې ډېرېږي.

که چا په خوب کي ولیدل چي کوم څوك یا پخپله د اور څخه شمع یا څراغ لګوي د خدای په لاره کي انساني ګامونه اخلي او پر لار برابرېږي.

## اوړه

که چا په خوب کي اوړه ولیدل داسي مانا لري چي حلال رزق او روزي ئې ډېرېږي بېله ستونزو په لاس ورځي.

که اوړه لکه باران داسي اورېدل په دې مانا چي په هم هغه اندازه ئې مال او دولت ډېرېږي، چي هغه هیڅ هیله او امید نه ورته درلود.

د اوربشو اوړه بیا د دین ټینګښت دئ او د غنمو اوړه بیا مال او دولت دئ چي د سوداګرۍ له لاري ئې لاس ته راځي.

په خوب کي اوړه پلورونکی په دې مانا دئ چي دین په دنیا پلوري.

## ابلیس (شیطان)

ابلیس په خوب لیدل دښمني، درواغ او چل و فرېب او دوکې مانا لري.

که مو د ابلیس سره شخړه درلوده او هغه ته مو ماته ورکړه د دې مانا لري چي د خیر او برکت پر لار لېوال دئ.

که چیري ابلیس ماته درکړي په دې مانا چي د شر او فساد پر لور روانېږی.

که چیري ابلیس خبري درسره کولې په دې مانا چي هغه دي له نېکي لاري څخه راګرځوي.

که چیري ابلیس نصیحت درته کاوه او ستا د هغه نصیحت خوښ سو، په دې مانا چي ستا ځان او مال ته زیان رسیږي.

که دي د ابلیس په غاړه کي کړۍ ورواچوله په دې مانا چي خپل دین ته خدمت کوې او په دې لاره کي خوښي تر لاسه کوې.

که ابلیس کمزوری او اړ وو په دې مانا چي پوهان او نېک خلک قوت او زور اخلي.

که دي په خوب کي ولیدل چي د ابلیس تابع سوې په دې مانا چي د نفس په غوښتنه اخته یې.

که ابلیس خوشحاله وو د خلکو کارونه په زغرده مخ پر ورانېدو کیږي.

که چا د ابلیس غوښتنه په توره ووهله او هغه وتښتېدی داسي مانا لري چي لوړ مقام او ځای ته رسیږي او پر خلکو باندي رحم، عدل او انصاف روا کوي.

که ئې ابلیس مړ کړ داسي مانا لري چي د خپل نفس سره مبارزه وکړي او نېکه لار اختیار کړي.

## اره

که مو په خوب کي ولیدل چي په اره باندي درخته اره کوی، دا په دې مانا چي د درختي و خاوند ته زیان اړوی.

که مو ولیدل چي په اره باندی خپل زوی، ورور، خور یا بل څوک دوه ځایه کوی په دې مانا چي زوی، ورور، خور او یا بل دوست دي پیدا کیږي.

که چا په خول کي ولیدل چي اره ئې په لاس کي ونیوله یا ئې رانیوله او یا بل چا هغه ته ورکړه داسي مانا لري که ئې زوی درلود د بل زوی خاوند

کيږي او که ئې لور درلوده بله لور به پيدا کړي، که اولاد نه لری حيوان لري د هغه حيوان غوندي به د بل حيوان خاوند سي.

اره په خوب کي درې ماناوي لري: زوی، خور او شريک.

## اژدها یا اژدهار

اژدها په خوب کي لوی دښمن او غټ ویر او غم دئ.

که مو په خوب کي وليدل چي اژدها مو درلودی په دې مانا چي د بزرگانو سره یو ځای کيږی.

که مو د اژدها سره جنګ سو او هغه ته مو ماته ورکړه په دې مانا چي خپل دښمن ته ماته ورکوی.

که اژدها وچيچلی په دې مانا چي د دښمن څخه ډار په کار دئ چي ممکن له منځه مو یوسي.

که پر اژدها باندي سپاره سی او هغه ستاسي تابع وي په دې مانا چي غټ دښمن ستاسي تابع کيږي او ستاسي خبره مني.

## اوښ

که څوک پر اوښ باندي سپور وي او هغه په منډه وي مانا ئې دا ده چي په سفر ځي. او که اوښ پورته او کښته غورځاوه په دې مانا چي ويرجن کيږي.

که څوکۍ پر اوښ باندي سپور وو او لار ځني ورکه سوه او په دې هم نه پوهېدی چي سمه لار کومه یوه ده په دې مانا چي په خپلو کارو کي سردرګومه او ګیچ وي.

که چا اوښه وموندله په دې مانا چي ښځه غواړي، که چیرته اوښ مست او په خښم وو او څوکۍ پر سپور وي په دې مانا چي پر ډېر غټ او لړ سړي باندي زورور کیږي.

که څوکۍ په خوب کي د اوښ سره جنګ کوي په دې مانا چي د یوه بېګانه سړي سره په شخته اخته کیږي. که چا د اوښانو ګله پېوله په دې مانا چي د لوړ مقام او ولایت خاوند به سي.

او که چا اوښه لوشله په دې مانا چي د حاکم یا پاچا څخه پیسې تر لاسه کوي. او که د شیدو پر ځای د اوښي له غولانځي څخهویني راتلې په دې مانا هغه پیسې او مال چي ده ته رسیږي هغه حرام دئ.

که چا اوښه رانیوله او یا چا ورته ډالۍ کړه په دې مانا چي ښځه به وکړي او یا به مینځه کور ته راولی.

که د چا اوښه ورکه سي یا ئې غله بوزي په دې مانا چي له ښځې څخه بېلیږي او یا د دوی تر منځ شخړه او بد سلوک رامنځته کیږي.

که په خوکۍ کي د چا اوښه مړه سی په دې مانا چي ښځه ئې مړه کیږي.

که په خوب کي د چا اوښه لنګه سي په دې مانا چي مېرمن به ئې لنګه سي. که چا په خوب کي د اوښ غوښي خوړلې په دې مانا چي ناروغ به سي. که چا ته چا په خوب کي ډېري د اوی غوښي ورکړې په هغه اندازه مال او دولت پیدا کوي.

که چا اوښ قرباني کړی وو او هر چا ته ئې غوښې ورکولې، په دې مانا چې یو غټ سړی په هغه سیمه کې وژل کیږي او یا مړ کیږي.

که چا په خوب کې ولیدل چې اوښان په غنمو او اوربشو بار دي په دې مانا چې ده ته خیر او برکت رسیږي.

که څوک پر یو کلن اوښ باندې سپور وو په دې مانا چې ویرجن کیږي.

که چا په خوب کې د اوښ پړی کشاوه په دې مانا چې د یوه لوی سړي سره به په شخړه بوخت سي.

که چا ډېر اوښان درلودل په دې مانا چې پر ډېرو خلکو به بادار او امیر سي.

## اوښ مرغه (شترمرغ)

اوښ مرغه په خوب کې بیاباني سړی دئ. که اوښ مرغه ښځه وي بیاباني ښځه وي. که چا ښځه اوښ مرغه ونیوله او یا چا ورکړه په دې مانا چې هغه څوک دغسې بیاباني ښځه کوي او یا دغسې یاغي مینځه راولي.

که څوک پر اوښ مرغه سپور وو په دې مانا چې سفر کوي او په غټ او لوی کار باندې بوخت کیږي.

که چا اوښ مرغه مړ کړ په دې مانا چې پر خپلو دښمنانو غښتلی کیږي.

که چا د اوښ مرغه چرګوړی درلود په دې مانا چې یو کلیوال هلک په لاس ورځي.

که چا په خوب کې ولیدل چې پر اوښ مرغه سپور و هوا ته پورته سو او هغه د ده په قومانده وو او بیرته مځکې ته راکښته سو په دې مانا چې د یوه بل چا سره به په سفر ولاړ سي او ډېره ګټه به تر لاسه کړي.

## امامت

که چا په خوب کي د یوه قوم او یا کومي ټولني امامت وکړ مانا ئې دا ده چي د هغه قوم او ټولني مشر به سي او هغه ټول به ئې تابع سي.

که چیرته یوه لویه ټولنه د لمانځه په وخت کي له چا څخه وغواړي چي موږ ته امامت راکړه او هغه هم امامت وکړي مانا ئې دا ده چي د هغې سیمي امیر او قوماندان به سي.

که چا په ناسته امامت ورکړ په دې مانا چي ناروغ به سي.

که پر اړخ پروت وو او په خوب کي ئې په لمانځه کي څه شي ویل په دې مانا چي ژر به وفات سي او هغه خلك به لمونځ ورکړي.

که یو امام یوه ټولنه په خوب ووینې په دې مانا چي د هغه امام قدر او عزت ډیریږي.

که څوك له امام سره کور ته ولاړ او یا امام هغه ته څه شي ورکړ او یا د یوې ټولني له امام سره ئې دوډۍ وخوړله په دې مانا چي ده ته غم او سرګرداني رسیږي.

که چیرته چا په خوب کي له امام سره په جهاد کي وو داسي مانا لري چي په دولت او ولایت کي د کلي او ښار په مسجد کي شریکیږي.

## انار

انار په خوب کي لیدل د مال مانا لري. که چیري څوك په خوب کي انار له وني څخه وشکوي او وې خوري په دې مانا چي د یوې ښایستې ښځي څخه ګټه تر لاسه کړي.

که څوك خوږ انار په خوب کي ووینې د مال ټولول دي.

که څوك انار په ژمي کي وخوري په دې مانا چي د انارو د دانو په اندازه په لښتو وهل کیږي.

د تریو انار خوړل ښه شګون نه لري.

که څوك خوږ انار په خپل موسم کي خوری که مسافر وي سفر ئې په خیر او برکت کیږي.

که چا د انارداني په خوب کي درکړې د غم مانا لري.

که چا خوږ انار له پوست سره خوړی په دې مانا چي د زړه مراد ئې حاصلیږي.

## انبور

انبور په خوب لیدل خاصه مانا لري. په دې ډول چي په آساني سره مال له بادشاه څخه تر لاسه کوي او که ئې خلکو ته ور ووېشي او یا په انبور څه شي له اور څخه راوباسي او خلکو ته ئې ورکړي په دې مانا چي له پاچا څخه ګټه تر لاسه کوي.

## انځر

په خوب کي د انځرو لیدل بد شګون لري، که څوك په خوب کي ووینې چي انځر خوري یا ئې ټولوي او یا ئې څوك ورته بخشش کړي په دې مانا چي غم او ویر ورته رسیږي. ښایي چي داسي کار وکړي چي د هغه له کولو څخه پښېمانه سي.

د ژړو انځرو ليدل د ناروغۍ په مانا دي، تور انځر د غم او د شنو او خوږو انځرو خوړل بيا زيان نه لري.

## انجيل (آسماني كتاب)

كه چيرته چا په خوب كي انجيل وايه په دې مانا چي له حق څخه پر باطل لور روان دئ.

كه چا انجيل په رواني وايه په دې مانا چي له حق لاري څخه پر باطله لار روانيږي او د مسيحيانو دوست كيږي او د هغوی له لوري يو څه ګټه ورته رسيږي.

## انګور

په خوب كي د تورو انګورو خوړل غم او پرېشاني ده او بې له هغه ډار او بېره ده.

په بل روايت سره د انګورو هر څو دانې چي دي په خوب كي خوړلي وي په هغه اندازه لښتي يا چلاخي (شلاق) خوري.

د سپينو انګورو خوړل د انګورو په موسم كي بيا د خدای نعمت او خير دئ تر هغه ډېر چي هيله ورته لرې.

د سرو انګورو خوړل د لږ ګټې مانا لري. د انګورو پوست چي كلك او سخت وي په دې مانا چي مال په ډېر زيان سره لاس ته راوړي او د سپينو او پستو انګورو خوړل په خوب كي د حلال مال په مانا سره دي.

د هغو انګورو شربت يا اوبه چي خټه يا تېره وي د حرام مال مانا لری.

د سرو انګورو خوړل بيا د عزت، پت او سرلوړي مانا لري.

په هره اندازه چي انګور خواږه او تازه وي د مال د ډېروالي او عزت په مانا سره دي.

## الوتل

که مو په خوب کي وليدل لکه مرغه له يوه ځايه بل ځای ته الوزی په دې مانا چي په سفر ځی او هر څومره چي لوړ والوزی په هم هغه اندازه لوړوالی او پوهه مومی.

که لوړ آسمان ته والوتلاست زيان در رسيږي او که ډېر لوړ الوتل مو وکړه او آسمان ته ورسېدلاست او هلته ورک سولاست په دې مانا چي له دې نړۍ څخه ژر رحلت کوی.

که د قبلې له لوري مو الوتل ورکړل او بيرته خپل ځای ته راوګرځېدې په دې مانا چي ډېر ګټور سفر به ولرې.

که چيرته له خپل بام څخه و بل بام ته والوزي په دې مانا چي خپلي ښځي ته طلاق ورکوي او د بلي ښځي په لټه کي وي.

که په خوب کي څوک و لوړو ستورو ته وختی په دې مانا چي حج ته ځي.

که چيري له خپل کور څخه بېګانه کور ته څوک والوزي په دې مانا چي اجل ئې پوره سوی دئ بايد توبه وباسي او سمه لار ونيسي. که چيرته ئې وزرونه درلودل او د مرغانو وزرونو ته ورته نه وه په دې مانا چي په ډېره سخته او درنه ناروغي اخته کيږي، مګر بيرته روغتيا مومي.

الوتل په خوب کي پنځه ماناوي لري: لومړی سفر، دوهم حج، دریم بزرگي، څلورم د حال او احوال بدلېدل او پنځم ناروغي.

## اغزی

اغزی یا ځوز په خوب کی پور او پوروړی دئ. که د چا په ځان اغزی جگ سو او یا چا اغزی په جگ کړ په دې مانا چي له چا څخه پور اخلي او هم دا ډول د هغه اغزي په اندازه د هغه سړي څخه وراني خبري اوري او که په خوب کي په بل چا اغزي جگ کړي په دې مانا چي چا ته پور ورکوي.

که چا په خوب کي ډېر اغزي درلودل مگر ده ته ئې کوم زیان نه رساوه په دې مانا چي ډېر پوروړي به لري مگر ټول پورونه ئې لاس ته ورځي بې له کومي ستونزي.

## ایره

ایره بې مانا او باطل شی دئ.

که څوک په خوب کي ویني چي ایرې ټولوي په دې مانا چي مال ټول کړي، مگر د ده و لاس ته شی نه ورځي او ځیني کسان بیا داسي مانا او تعبیر کوي، لکه څوک چي پوهه تر لاسه کوي چي په هغه کي هیڅ خیر او برکت نه وي.

## اختر

که څوک لوی اختر په خوب ویني په دې مانا چي د پوهانو او هوښیارانو کسانو سره اړیکه او کار ولري.

او که ئې کوچنی اختر په خوب ولیدی په دې مانا چي له یوه پرهېزګاره سړي څخه به ګټه تر لاسه کړي البته دیني ګټه.

که چا په خوب کي اختر ولیدی چي خلکو ښه کالي اغوستي دي، که ښه پرهېزګاره سړی وي بزرګي او درجې ئې لوړيږي او که بندي وي له بنده څخه خلاصيږي.

## اور

د اور یا اورلګیت لیدل په خوب کي غم او ویر دئ.

که له اور سره لوګی هم وي دا ډېر عذاب دئ. که څوک په توره شپه کي اور بل کړي تر څو خلکو ته لاره وښيي، ډېر علم به تر لاسه کړي او خلکو ته به سمه لارښوونه وکړي او که له تیارې پرته اور بل کړي د بدعت مانا لري.

او که چیري د ورځي اور بل سي دا جګړه او فتنه ده.

که څوک په ژمي کي اور بلوي او ځان په تودوي شتمني به ئې ډېره سي.
که څوک په خپل تنور کي اور بل سوی وګوري ښځه به ئې میندواره سي.

## اودس

که څوک په خوب کي وویني چي په پاکو او روڼو اوبو اودس کوي په دې مانا چي خپل مقصد او مرام ته رسيږي او که اوبه خړې او ناپاکه وي چپه مانا ورکوي یعني مقصد ته نه رسيږي.

که چا په روڼو اوبو اودس تازه کاوه په دې مانا چې غمونه ئې پای مومي. که په بېره او ډار کي وي هغه هم پای ته رسیږي او ډاډه کیږي. پور ئې ادا کیږي او ناروغي ئې شفا کیږي.

که چا د لمانځه له پاره اودس تازه کړی وي او مخکي تر لمانځه ئې اودس مات سي په دې مانا چې په خپلو کارونو کي پاته راځي. که چا اودس کاوه او بل چا ورته کتل په دې مانا چې د هغه سړي د ده په لاس یا د ده له لوري و توبې ته لېوال کیږي.

## اخبار

که چا اخبار واخیست زېری او خوشحالي به تر لاسه کړي. که چا ته کومه ښځه اخبار ورکړي رزق او روزي به ئې ډېره سی. که چا اخبار سره ونغاړی د مرگ وېره ورسره سته. که د چا په چپ لاس کي اخبار وي په خپلو کارونو کي به پښېمانه وي، که چا ته اخبار ورکړل سي او په هغه کي يو تاوه سوې پاڼه وي لور به ئې پیدا سي او که څوك اخبار ته وگوري او وئې نه لولي میراث به ئې په برخه سي.

## امیر یا مشر

په خوب کي د امیر یا مشر لیدل د مشهور سړي په مانا دي. که څوك د لښکر مشري پر غاړه واخلي، که ئې وړتیا او اهلیت ولري خیر او برکت سره د عزته به ورته ورسیږي که ئې وړتیا و نه لري د مرگ دلیل ئې کېدای سي.

## امانت

که څوک له چا څخه کوم شی په امانت واخلي او د هغه بيه معلومه وی، په هغه اندازه زيان ورته رسيږي. که څوک چا ته شی په امانت ورکړي او د هغه هم ډېر خوښ سي خير او برکت ورته رسيږي.

## اوږه

په خوب کي اوږه ليدل د سړي ملګری دئ، که اوږه ئې ښکلی او غښتلی وي د نارينه توب او قوت په مانا سره ده.
که ئې پر اوږه باندي کوم پېټی بار کړی وي د ګناهونو په مانا سره ده.

## اوښه

په خوب کي اوښه د ښځي په مانا سره ده، که څوک اوښه لوشی نېکه ښځه په نکاح کوي. که واده ئې کړی وي نارينه اولاد به پيدا کړي. که د چا اوښه مړه سي ښځه به ئې مړه سي. که چيرته اوښه ښار ته ننوزي د زيان او فتنې په مانا سره ده.

## اوبدل

که کومه ښځه خوب ووينې چي اوبدل کوي ورک سوی کس به ئې راسي. که چيرته کوم شی سست اوبدي سفر به وکړي، يا به ئې مېړه سفر

وکړي. که چیرته وړی یا وېښته اوبدي خیر به ورته ورسیږي، که څوک ئې وران اوبدي پر وعده به وفا نه کوي.

که چیرته کتان اوبدي د حکمت او پوهي د زده کړي په مانا سره دي.

## اوربشي

په خوب کي وربشي د لږ ګټي په مانا سره دي، که چا وربشي درلودې او یا چا ورته ورکړې د هم هغو په اندازه ګټه ورته رسیږي او د روغتیا زېری هم ورکوي.

که چا وربشي په مځکه کي کرلې د دې په مانا چي دولت ئې ډېریږي او داسي کار به وکړي چي الله ځني خوښ سي.

## الماری

د کتابونو الماری په خوب کي د قیمتي او ښکلیو خبرو په مانا سره ده او ځیني وخت د شتمني ښځي یا شتمن سړي په مانا سره وي.

د ګټو او اړتیاوو پوره کېدو په مانا سره هم ده. که چا په الماری کي مرغلري یا بل شی لکه سره زر او سپین زر وي د زېري او خوښی مانا لري.

## اور مړ کول

چا چي په خوب کي اور مړ کړ، د فتنې مخ به نیسي.

## اقرار کول

که څوک په خوب کي د چا پر دښمني اقرار وکړي، له هغه سره به ملګرتوب لري. که چيري پر ګناه باندي اقرار وکړي عزت او شرافت به ئې په برخه سي. د چا پر قتل اقرار کول رياست، ولايت او لوړ مقام تر لاسه کول دي.

## انسان

که څوک په خوب کي نامعلوم سړی وګوري، اکثره وخت دغه څوک خپله ځان ويني. که په خوب کي وګوري چي په کوم ښه کار بوخت وي. دا ښه کار به پخپله وکړي. او که په بد کار بوخت وي نو په همدې بد کار به اخته سي.

که څوک په خوب کي يو مشهور څوک وګوري، دغه کس به لوړو مرتبو او مقامونو ته ورسيږي.

## ايرې

په خوب کي ايرې ليدل د حرام سوځول سوي مال په مانا سره دي. ځيني بيا وايي چي د پاچا له خوا رزق دئ، که څوک ايرې وګوري د پاچا په کار کي به ځان ستړی کړي، مګر هيڅ شی به ئې لاس ته رانه سي او ځيني بيا وايي چي ايرې د باطلو خبرو او د بې ګټې علم په مانا سره دي.

**۴۰**

## انځر

په خوب کي انځر ليدل حلال مال او ډېري ګټي باندي دلالت کوي. که څوك لږ انځور وخوري رزق به ورته حاصل سي او هم دارنګه د ښه نسب لرونکې او مالداري ښځي په مانا سره دي.

# [ب]

## بادام

بادام په خوب کي ليدل نعمت او روزي ده. مگر په ستونزو په لاس راځي. که مو به خوب کي بادام په لاس کي ونيوی په هغه اندازه به د نعمت او روزۍ خاوندان سي.

په بل روايت سره بيا بادام د پوهي په مانا سره دئ او هم د روغتيا مانا ورکوي. که د بادام مغز وي خو ډېر ښه.

که په خوب کي چا بادام د پوست سره درلود يا چا ورکړ داسي مانا لري چي د بخيل او سوگت سړي څخه په ډېره سختي سره شی لاس ته راوړي که د ترخو بادامو څخه غوړي راوباسي دا ئې په گټه تماميږي.

## باد پرېکول

که په خوب کي له چا څخه باد پرېږ سو چي بږغ ئې وانه ورېدی په دې مانا چي ورانه خبره کوي او خلك ئې ملامتوي او د خلکو په منځ کي رسوا کيږي.

که له چا څخه په خوب کي باد پرېږي سو چي لوړ بږغ ئې وکړ او بد بوی هم ولري په دې مانا چي یو داسي کار به وکړي چي خلك ئې پر کړي او بد او رد ورتهووایي.

که چیري ئې بږغ درلود او بد بوی ئې نه درلود داسي مانا لري چي د بې گټې کار له کولو څخه به لاس واخلي.

که له چا څخه باد پرېږي سو او خلکو پر وخندل او دی وشرمېدی په دې مانا چي له بېکارۍ او لټۍ څخه ژغورل کیږي.

## بانجڼ

د بانجڼو خوړل په خوب کي که اومه وي یا پاخه به هره اندازه چي وي په هم هغه اندازه ئې غم او سختي ډېره وي.

که چا په خوب کي ډېر بانجڼ درلودل مگر له هغو څخه ئې یو څه چا ته بخشش کړل یا ئې وپلورل او یا ئې له خپل کور څخه دباندي وغورځول له غم څخه ژغورل کیږي.

## باد

که چا په خوب کي سخت او تند باد ولیدی په دې مانا چي د هغې سیمي د خلکو له پاره به بېره او ډار پیدا سي او که باد په دې اندازه سخت او تند او چابك وي چي ونې له بېخه وباسي او کورونه وران کړي په دې مانا چي د هغې سیمي خلکو ته لویه بلا، د طاعون ناروغي او وبا راځي.

سوړ باد په خوب کې د ناروغۍ په مانا سره دئ. نرم باد بیا د خلکو له پاره روغتیا منځته راوړي او د خوښۍ او نېکبختۍ دلیل دئ.

او که باد څوك له یوه ځای څخه بل ځای ته وړي په دې مانا چې یوه لیري ځای ته به سفر وکړي او په هغه سفر کی به لوړوالی او بزرگي ور په برخه سي.

او که له باد سره دوړي او خاوري ملگري وي دا بیا د بېري او اندېښنې په مانا سره دي.

که باد ډېر تند او سخت وو او څوك ئې د آسمان و لور ته یووړ په دې مانا چې اجل ئې نژدې سوی دئ او که ئې د آسمان له لوري مځکې ته راکښته کړ په دې مانا چې ناروغ به سي او بیرته شفا مومي.

که نرم باد د لوېدیځ له لوري وو په دې مانا چې د هغه ځای خلك به نعمت او مال ډېر تر لاسه کړي او که باد یا شمال ډېر نرم چلېدی د خلکو د روغتیا او راحت په مانا سره دئ.

او که د دې څخه خلاف وي د خیر مانا نه ورکوي، که چیرته د باد د چلېدو څخه بږغ پورته کېدی په دې مانا چې د باچا له لوری څخه خلکو ته خیر او برکت رسیږي.

## باران

باران په خوب رحمت او برکت دئ. که باران ورو ورو اورېدی د هم هغې سیمې له پاره د خیر او برکت مانا لري.

که چیرته د کال په سر کې او یا د میاشتې په سر کې باران اوري په هم هغه کال او یا هغه میاشت کې خیر او برکت ډېر وي حاصلات هم ډېر وي.

که چیرته خړ او تېز باران اورېدی په دې مانا چې په هم هغه سیمه کې ناروغۍ او مړینه ډېرېږي.

که چیرته بې وخته چې د باران موسم نه وي سخت باران اوري په دې مانا چې په هغه سیمه کې به رنځ او بلا نازل سي.

که په خوب کې د چا پر سر باران اورېدی په دې مانا چې سفر ته به ولاړ سي مګر د ګټې سر بیرته راوګرځي.

که د خلکو پر سر لکه توپان داسې باران اورېدی په دې مانا چې په هغه سیمه کې نابېره مرګونه (مرګ مفاجات) ښکاره کیږي. که د باران له هر څاڅکي څخه بږغ پورته کېدی په دې مانا چې عزت او درناوی ئې ډېرېږي.

که چیرته د باران پر ځای شهد اورېدل په دې مانا چې په هغه سیمه کې نعمت، برکت او غنیمت ډېرېږي.

که چا د باران روښي اوبه چښلې په دې مانا په هغه اندازه خیر او هوسایي ئې په برخه کیږي.

## بارانې جامې

که چا په خوب کې ولیدل چې بارانې جامې ئې اغوستې دي او د حاکم به خدمت کې دئ، په دې مانا چې نېک او لوړ نوم ئې په ټولنه کې ښکاره کیږي.

که چیرته بارانې د کالیو په بڼه یا شکل سره وي په دې مانا چې د دین او دنیا ګټه ورته لري. که چا په خوب کې ولیدل چې بارانې ئې د وړیو، پنبې او کتان څخه وې او رنګ ئې هم شین وي د بخت او طالع په مانا سره دئ او

که ئې رنگ ژړ وو د رنځ او ناروغۍ مانا لري او که ئې رنګ بانجني وو د ګناه او مصیبت مانا لري او که ئې رنګ سپين وو د خير او ګټې مانا لري.

## بار وړل

کله چې انسان په خوب کې ووینې چې بار ئې درووند وي، د بد ګاوندي مانا ورکوي او کله کله د ګناه مانا هم ورکوي.

د ښځې له پاره درووند پېټې د حمل یا د بد خاوند مانا ورکوي.

## بخیلي

په خوب کې بخیلي کول په داسي ناروغي دلالت کوي چې هیڅ درمل و نه لري. ځیني وخت په خوب کې بخیلي د نفاق او د جهنم والا کارونو باندي دلالت کوي.

داسي خوبونه اکثراً هغه کسان ویني چې په ویښه کې هم بخیل وي. په خوب کې بخل لیدل بده معنی لري.

## برېښنا

په خوب کې برېښنا لیدل له ګمراهۍ وروسته د هدایت په مانا ده او د نظر د ډېرېدو مانا هم ورکوي.

د ورک سړي د راتلو په زېري او رزق زیاتېدو باندي هم دلالت کوي. په خوب کې د برېښنا لیدل له مشکلاتو او سختیو د پراخۍ او سکون حالت ته راګرځېدو باندي هم دلالت کوي.

که چیرته دغه خوب په ژمي کي لیدلی وي، پر ډېرو نعمتونو، ښېگڼو او ابادو فصلونو باندي دلالت کوي، که چیري ئې په دوبي کي لیدلی وي د دانو او غلو د لږېدو وېره ده.

## بلنه

په خوب کي خواړو ته بلنه کول په نېک کار باندي د راټولېدو په مانا سره ده. که چیري خلك د ډوډې له پاره رابولي، په یوه داسي کار به بوخت سي چي خلك به ئې ملامتوي.

## بوس (پروړ)

په خوب کي بوس لیدل د زرغونتیا او ډېر مال په مانا سره دي.

یو روایت دئ چي ابن سیرین په ویښه بوسو ته وکتل او وې ویل: کاش چي دغه په خوب کي وای.

بل ځای بیا راغلي دي: په خوب کي بوس لیدل په ډېر مال باندي دلالت کوي چي په ویښه به ورته ورسیږي. مگر په ډېره ستړیا او سختط سره به تر لاسه سي.

په ښار کي د بوسو زیاتېدل د کرهڼي او فصل ډېرېدو مانا لري.

## بدن

په خو کي د بدن قوت لیدل د ایمان او دین قوت دئ.

که څوک په خپل قدن کي څه زيادت وګوري او زيانمن نه وي، نو د نعمت زياتېدو باندي دلالت کوي. که څوک ځان ډېر چاغ او مزی ووينې، مال، شتمني او نعمت به ئې زيات سي او ډنګر کېدل پر فقر او مال کمېدو باندي دلالت کوي.

## بېلچه

په خوب کي د مجرد له پاره ښځه ده. همدا ډول د غم، خپګان او قرض خلاصېدو باندي هم دلالت کوي. که څوک خپل لاس کي بېلچه ووينې هر خير او فضل به تر لاسه کړي، د کار، عمل او ښځي په مانا هم راځي.

## بړستن (تلتک)

په خوب کي بړستن ليدل ښځه ده، که څوک ئې د شپې واخلي او واده ئې نه وي کړی، نکاح به وکړي او يا به سکون او راحت تر لاسه کړي.

## بيرغ

په خوب کي د عالم، زاهد، شتمن او نېک انسان په مانا سره دئ چي خلک ورپسې اقتدا کوي.

سره بيرغونه د جنګ اعلان دئ، ژړ بيرغونه د مصيبت رامنځته کېدو دليل دئ، شنه بيرغونه د خير سفر دليل دئ، سپين بيرغونه د باران په مانا سره دي او تور د کاختې په مانا.

که ئې مجرده ښځه په خوب ووينې، د خاوند په مانا سره دئ.

## بوډۍ

په خوب کي بوډۍ ليدل د عاجزۍ دليل دئ. د اغوا، مکر، چل، دوکې، عيب او له نااميدۍ وروسته د حمل مانا هم ورکوي.

که کومه بوډۍ د چا کور ته راننوځي د دنيا د راتلو دليل دئ او که ترې ولاړه سي دنيا او شتمني ځني ځي.

## باز يا باښه

که چا په خوب کي باز ونيوی او يا چا ورکړ چي د ده تابع وي داسي ئې اموخته کړی وي چي پر لاس ئې ناست وي د لوړوالي، بزرگۍ او قدر مانا لري.

که چيرته سپين باز ئې پر لاس ناست وي د حاکم يا پادشاه څخه قدر او لوړوالی تر لاسه کوي، که چيرته ئې له لاسه څخه ولوېدی او مړ سو په دې مانا چي د خپل مقام او منزل څخه و بېچارگۍ او غريبۍ ته لوېږي.

که باز ئې پر بام کښېنستی په دې مانا چي له لوړو کسانو سره به ناسته ولاړه پيدا کړي او له هغو څخه به خير او گټه تر لاسه کړي.

که باز و کور ته ننوتی او يا ئې د مېرمني تر لمني لاندي پټ سو په دې مانا چي د ښه ښايسته زوی خاوند به سي.

که چيرته د باز په پښه کړۍ يا زنگوله وه په دې مانا چي خدای به ئې د لور خاوند کړي. که څوك په خوب کي باز ومومي او هغه مړ کړي دا بيا د بدبختۍ مانا لري.

که چيري باز د چا له لاسه څخه وتښتېدی په دې مانا چي له مقام څخه لوېږي او که باز بيرته راغی او پر لاس ئې کښېنستی په دې مانا چي ډېري برياوي ئې په برخه کيږي.

## باغ

په خوب کي د باغ ليدل د ښځي په مانا دي، که ئې باغ ته اوبه ورکولې په دې مانا چي له خپلی ښځي سره بيده کيږي. که ئې په باغ کي د ريحان ګلان کرل په دې مانا چي صالح بچی به راوړي.

که چا په خوب کي شفتالو ايښوول په دې مانا چي زوی به ئې وزېږي چي ډېر ژر به علم او ادب زده کړي. که چا ريحان کرلي وه او ډېر ښه بوی ئې تلی او دماغ ئې تازه کاوه د ښه زوی خاوند به سي چي ډېر دلاوره، هوښيار او لايق به وي.

که چا باغ درلود او يا چا ورته ورکړ چي مېوه ئې خوري په دې مانا چي بډايه ښځه به ئې په قسمت سي.

بل ځای بيا وايي په خوب کي د باغ ليدل د يوه بزرګوار سړي چي ډېر ښايسته او بډای وي په مانا دي.

که په باغ کي اوښان وه په دې مانا چي د دې ملك پاچا به پر خپلو دښمنانو بری مومي. که په باغ کي پسونه سوه په دې مانا چي د ملك له حاکم څخه به مال او نعمت په لاس راوړي. که په باغ کي مرغان وه په دې مانا چي د حاکم لښکر به ورته وفادار وي.

که چا له باغ څخه مېوه کور ته راوړه په هغه اندازه ګټه ورته رسيږي. په بل روايت سره په خوب کي باغ اصلاً شغل او کاروبار دئ. که په باغ کي شين ګياه ووينې مانا ئې دا ده چي کاروبار ئې د برکت او نېک وي.

که چيري باغ له مېوې او شينګياه څخه تش ووينې مانا ئې دا ده چي کارونه ښه کيږي.

که چا په خوب کي باغ په خپل لاس نوی جوړ کړ او وني ئې پکښې کښېنولې او پر مېوه راغلې په دې مانا چی ډېره غښتلې ښځه به ئې په برخه سي چي ډېر ښه اهل و صالح اولادونه ورڅخه ولری.

که باغ د انګورو وي په هم هغه اندازه به مال او قدر په لاس راوړي.

## باقلي (باغلي)

په خوب کي د باقليو خوړل که پاخه وي يا اومه د وير او غم مانا لري. که مو په خوب کي وليدل او ومو نه خوړل په هغه اندازه ئې وير او غم لږ دئ.

که په خوب کي چا باقلي درکړل او ومو خوړل په دې مانا چي ويرجن کيږی. که چا به کور کي باقلي درلودل وې نه خوړل دباندي ئې وغورځول زيان نه لري.

## بت

که مو په خوب کي وليدل چي د بت عبادت کوی مانا ئې دا ده چي پر خدای تعالی درواغ واياست.

که بت له لرگي څخه جوړ سوی وي او تاسي ئې عبادت کوی په دې مانا چي په دين کي منافق ياست.

که بت له سپينو زرو څخه جوړ وو د دې مانا بيا دا ده چي د جنسي غوښتنو لاندي راځی.

که بت له جواهرو څخه جوړ وي د دين څخه ئې مطلب پاچهي ده يا بل کوم لوړ مقام ته د ځان رسول دي.

## بخشش

که چا په خوب کي وليدل چي خپل مال د خير په کار کي بخشش کوي په دې مانا چی خپل زوی ته ښځه وکړي او يا خپل وراره يا بل نژدې کس ته ښځه غواړي.

که چا خپل مال د فساد په لاره کي بخشش کړ په دې مانا چي د فساد او حرامو پر لور روانيږي.

## بريتونه

په خوب کي بريتونه د همت او لوړوالي علامه او بېلگه ده.

که په خوب کي د چا بريتونه په بياتي سره لنډ سول چي هغه ته زيان و نه رسيږي د نېکو او ښو مانا لري او که چيري ئې بريتونه له بېخه ووتل يا کل سول دا نو بيا د زيان مانا ورکوي.

که د چا بريتونه اوږده سوي وه دا بيا د غښتلتوب مانا لري. که په خوب کي چا بريتونه دروشکول دا بيا د دښمنی مانا لري.

## بربنډ يا لڅ

که چا په خوب کي وليدل چي بربنډ دئ او له خلکو څخه شرميږي په دې مانا چي حج ته ځي.
که چيرته ښځه دا خوب ويني ګناه ئې عفوه کيږي.
بربنډتوب په خوب کي د ښه او پرهېزګاره سړي له پاره خير او برکت دئ او د مفسد له پاره بيا بدي او رسوايي ده.

## بزاز

بزازي په خوب کي ناکاره او بېکاره مانا لري تر دې پولي پوري چي خطرناکه وي.
که چيرته چا په خوب کي بزازي کوله او د ټوکرانو بيه ئې نه غوښتل بيا هم ښايي چي زيان ور ورسيږي او که ئې نور شيان پلورل په دې مانا چي مراد ئې حاصليږي.

## بستر

په خوب کي بستر ليدل د ښځي په مانا سره دئ، ښه او بد ئې هم په ښځه پوري اړه لري.
که چا په خوب کي بستر رانيوی او يا ئې اليش کړ او يا له يوه بستر څخه و بل بستر ته ولاړ دا مانا لري چي بله ښځه غواړي او خپلي پخوانۍ ښځي ته طلاق ورکوي.

که چا په خوب کي خپله بستره وپلورله او یا ئې ټوله کړه، په دې مانا چي ښځي ته به طلاق ورکړي او یا به ئې ښځه له ده څخه لیري سي او یا به یو له دوی څخه مړ سي.

که چا خپله بستره په یوه نابلده ځای کي ولیدله دا مانا لري چي زیان وررسیږي. او که ئې خپله بستره د بل چا پر کټ هواره ولیدله او پر هغه ناست وو په دې مانا چي لوړ مقام او بزرگي تر لاسه کوي.

بل ځای بیا وایي چي په خوب کي بستر لیدل د ولایت او هوسایي مانا لري.

که چیرته چا په خوب درې یا څلور بستره ولیدل په دې مانا چي ممکن د درو یا څلورو ښځو یا مینځو خاوند سي.

که چا په خوب کي بستره له خپل کور څخه دباندي واچوله او بیرته ئې راوړه په دې مانا چي ممکن د ده او ښځي تر منځ ئې رجعي طلاق واقع سي.

که چا په خوب کي ولیدل چي پر ښه پسته بستره ویده دئ په دې مانا چي په همدغه کال به د ښه ژوند خاوند وي. که ئې بستر له وړیو وو په دې مانا چي ډېره غښتلې ښځه به ئې په برخه وي.

که چا په خوب کي ولیدل چي بستر ئې خیري او یا سوی دئ په دې مانا چي مرگ ئې نژدې سوی دئ.

که د چا بستر د وریښمو وو او هغه ئې د کرباسو په بستر بدل کړ داسي مانا لري چي بې عقله او فاسقه ښځه به خوشي کړي او د هغې پر ځای به پاکه او هوښیاره ښځه وغواړي.

که چا په خوب کي ولیدل چي بتسره ئې له هوا څخه مځکي ته راغله په دې مانا چي ښځه به ئې ناروغه سي او بیرته به جوړه سي.

که چا په خوب کي خپله بستره شنه وليدله په دې مانا چي ديناره او پرهېزګاره ښځه به ئې په برخه سي.

که چا خپله بستره سره وليدله په دې مانا چي ښځه ئې بده ده.

که د چا بستره زېړه وه په دې مانا چی ښځه ئې له بدي لاري څخه و نېکي لاري ته راګرځي.

که چا په خوب کي وليدل چي بستره ئې سره وي هغه بيا سپينه يا ژېړه سي په دې مانا چي ښځه ئې له ګناه څخه توبه کاږي.

که په خوب کي د چا بسترې اور واخيست او وسوځله په دې مانا چي ښځه به طلاقه کړي او يا به ئې ښځه مړه سي.

## بلور

د بلور ليدل په خوب کي د بېعقلي او بې اصله او نسبه ښځي په مانا ده.
که چا په خوب کي بلور درلودی او يا چا ورکړ په دې مانا چي د همدغه ډول ښځي سره به واده وکړي.

که بلور ځني ورك سو په دې مانا چي ښځي ته به طلاق ورکړي، د بلورو کاروبار په خوب کي د ښځو د دلالۍ مانا لري.

## بند يا پټۍ

که چا په خوب کي وليدل چي پر خپله پښه ئې بند ايښی وو په دې مانا چي هولکي او وبه ډار سي او که چا وليدل چي پر پښه باندي ئې دوه بندونه

يا پټې ايښي دي او هغه هم په جومات کي وي په دې مانا چي په دين يا لمانځه او يا جهاد کي يا د دين په بله نېکه لاره کي کلک ولاړ دئ.

که څوک په سفر تلی او بند ئې پر پښه تړلی وي په دې مانا چي سفر ئې اوږديږي او هلته ځای پر ځای کيږي.

که چا په خوب وليدل چي پر پښه باندي ئې بند دئ په دې مانا چي د زيار او زحمت څخه ژغورل کيږي.

که لوړ چارواکی وي په دې مانا چي هغه مقام ته تر ډېره پاته کيږي.

که چا په خوب کي وليدل چي د اوسپني بند ئې په پښه کي دئ په دې مانا چي دين ئې بشپړ نه دئ او په درواغو د مسلمانۍ دعوه کوي، سوګت او بخيل هم وي او له هغه څخه هيڅ خير او برکت چا ته نه رسيږي او که نېک سړی پر خپل لاس بند ووينې په دې مانا چي د ورانکاريو څخه لاس پر سر کيږي. که څوک په خپله غاړه کي د لرګي بند په خوب ووينې په دې مانا چي امانت د ده پر غاړه پاته وي او هغه هم نه ورکوي.

او که د لرګي بند ئې په پښه باندي وي په دې مانا چي د خدای پاک اطاعت او بندګي په حقيقت سره کوي.

په لنډه توګه ويلای سو چي په خوب کي بند د دين ثبات دئ. که چا په خوب کي وليدل چي په دواړو پښو ئې بند ايښی په دې مانا چي د لوړ مقام او ولايت خاوند به سي.

## بنسټ يا تهداب

که چا په خوب وليدل چي د خير بنسټ ئې ايښی دئ چي له هغه څخه عام او خاص ګټه پورته کړي که دا بنسټ پر خپله مځکه وي په دې مانا دئ

چي حلاله گټه او روزي په لاس راوړي او که پر بېگانه ځای وي په دې مانا چي د دين او دنيا په کار کي خرابي او تباهي ده.

که چا دا بنسټ له پخو خښتو او گچو څخه ايښی وي په دې مانا چي مال او دولت ئې له حرامو څخه لاس ته ورغلی دئ.

که چيرته ئې له اومو خښتو او خټو څخه ايښي وی او پورته کړي يا لوړ کړی ئې وي په دې مانا چي له عامو خلکو څخه گټه تر لاسه کوي. که چا په خوب کي د کلا بنسټ کښېښود په دې مانا چي د دښمنانو د شر او فساد څخه به وژغورل سي او که چا سرای جوړ کړ او په هغه کي ئې ژوند اختيار کړ خير او ثواب به ئې په برخه سي.

او که ئې د مسجد بنسټ کښېښود په دې مانا چي ټولني ته ئې خير رسيږي او خلك د انسانيت پر لور راهڅوي. او که ئې مناره جوړه کړه د هغه نېک نوم به مشهور سي.

## بيزو

بيزو په خوب ليدل د وير او غم مانا لري که چيرته پر بيزو سپور وو او هغه د ده تابع وه په دې مانا چي پر دښمن بريالی کيږي او هغه ته ماته ورکوي.

که له بيزو سره په جنگ سو په دې مانا چي په ناروغي اخته کيږي.

که چيرته ئې بيزو مړه کړه بيا هم ناروغه کيږي مگر بيرته ژر شفا پيدا کوي.

په خوب کي ښځه بيزو د ناکاري او جادوگري ښځي مانا لري.

که چيرته بيزو کور ته راداخل سوه په دې مانا چي په هغه جادو کوي.

او که بیرو خبري ورسره وکړې په دې مانا چي ښځه ئې ژبه ورسره چلوي او که بیزو په خوب کي څوك وداړی په دې مانا چي ناروغ به سي او یا له خپلو اولادو څخه ورانې خبري او کنځاوي اوري.

## بوی

ښه او بد بوی په خوب کي د صفت او یا غندلو په مانا دئ، که چا په خوب کي ولیدل چي هغه ئې خوشبویه کړی دئ په دې مانا چي د هغه مدح او صفت دئ او که د چا بد بوی تلی په دئ مانا چي په بد نامه سره مشهوره کیږي.

## بېره یا ډار

بېره په خوب کي نصرت او بریالیتوب دئ.

بېره په خوب کي امنیت دئ او که په خوب کي له یو چا څخه وبېرېدی ښايي د هغه کس له خوا زیان ور ورسیږي.

# [پ]

## پښه

که چا په خوب کي وليدل چي يوه پښه ئې پرې سوې او يا ماته سوې وي په دې مانا چي خپله نيمه دارايي او دولت له لاسه ورکوي. که ئې دواړي پښې ماتي او يا د لاسه ورکړي وي په دې مانا چي خپله ټوله سرمايه له لاسه ورکوي او يا خپله له منځه ځي.

ځيني بيا وايي که چا دواړي پښې له لاسه ورکړي وي په دې مانا چي په سفر ځي، که ئې پښه د اوسپني او يا مسو وي په دې مانا چي اوږد عمر به ولري او ژوند به ئې ډېر ښه وي.

که يو چا وليدل چي په خوب کي ئې پښې په پړي تړلي وي په دې مانا چي د يو چا له لوري گټه ورته رسيږي.

د دواړو پښو ليدل په خوب کي د مور او پلار په مانا دي.

که چا په خوب کي وليدل چي پښې ئې د اوښ يا غوايي په بڼه دي په دې مانا چي زور او قوت ئې ډېريږي.

## پري يا شاه پېرۍ

د پري په هکله ډول ډول مانا وي وجود لري، ځيني وايي پري په خوب کي دښمن دئ او ځيني بيا وايي بخت دئ.

د رسول مبارك (ص) له خوا روايت سوی دئ چي پري په خوب ليدل دولت او بزرگي ده او لاس په لاس کي ورکول او خبري ورسره کول د تازگۍ او شادابۍ مانا لري.

شاپېراني هم پر دوه ډوله دي: مسلماناني او کافراني. که چيرته چا مسلماناني په خوب وليدلې بخت او دولت دي او که چا کافراني وليدلې او ورسره مخامخ سو مانا ئې دا ده چي د دشمن سره به مخامخ سي بدبختي او زوال به ئې په برخه وي.

که چا په خوب کي وليدل چي د شاپېرانو په منځ کي وو په دې مانا چي په سفر ځي او هغه سفر به ئې بختور وي او که چيري پري په اوږو کي سپور کړ او ولاړ په دې مانا چي بزرگي او لوړوالی به ئې په برخه سي.

او که ئې له اوږو څخه لاندي واچاوه د مقام او بزرگۍ څخه لويږي. که پري طلا او سپين زر ورکړل بخت او اقبال ئې ډيريږي.

که پري يو وار ځان ورښکاره او بيا پټه سي په دې مانا چي ښځه ئې مکر او غداري ورسره کوي.

## پراخي يا آزادي

که چا په خوب کي وليدل چي له تنگ ځای څخه و لوی او پراخ ځای ته ولاړ په دې مانا چي تړلی او ناممکنه کار ئې خلاصيږي او له غمه ژغورل کيږي. که چا وليدل چي کور يا دوکان ئې غټ سول په دې مانا چي رزق او روزي ئې ډېريږي.

د ځای لوی والی او غټوالی د کارو د خلاصون په مانا سره دئ.

## پل جوړول

پل په خوب کي د حاکم په مانا سره دئ، یا د هغه چا په مانا سره چي ځوك د هغه په مرسته و خپلي موخي او مراد ته رسیږي.

پل په خوب کي ښه مانا لري که ځوك په خوب کي له پله څخه تېر سو په دې مانا چي و لوړ مقام او عزت به ئې په برخه وي.

که چا پر پله باندي د یو ځای پنسټ ایښودی په دې مانا چي ولایت او حکومت کی به لوړ مقام تر لاسه کړي او ډېر مال او دولت به راټول کړي.

## پړانګ

پړانګ په خوب لیدل د غښتلي دښمن په مانا سره دئ. که چا په خوب کي د پړانګ غوښي خوړلې په دې مانا چي د جنګ او شخړي سره به مخامخ سي مګر بریالی کیږي، شرف او بزرګي تر لاسه کوي.

که چیري پر پړانګ سپور سو د ده سرلوړی، پت او عزت سره د ویاړه ډګ ژوند مانا لري او دښمن ته ماته ورکوي.

که چیرته په خوب کي چا د پړانګ پوست، هډوکی یا وړی ورکړې په هغه اندازه د دښمن څخه غنیمت تر لاسه کوي.

که ئې پړانګ مړ کړ په دې مانا چي له اسلام څخه مخ اړوي او هیڅ خیر پکښي نسته.

د پړانګ لیدل په خوب کي درې ماناوي لري: لومړی قوي دښمن، دوهم غنیمت مال له دښمن څخه په لاس راوړل او دریم له حاکم څخه بیره.

## پولیس

که څوک په خوب کي له ښو پولیسو سره ګرځېدی د ګټي په مانا سره ده او که د ورانو پولیسو سره یو ځای وو د زیان په مانا سره دئ.

که چیرته پولیسو ئې جامې ورڅیري کړې او هغه ئې محبس ته بوت داسي مانا لري چي د پاچا د خلکو له خوا څخه بې عزتي او بې حرمتي ویني.

## پنبه

په خوب کي پنبه لیدل د حلال مال مانا لري او پنبه دانه بیا هغه مال او دارایي ده چي بې له زیار څخه په لاس راځي.

د پنبې لیدل درې ډوله مانا لري: لومړی حلال مال، دوهم ګټه، دریم پر نورو خلکو لوړوالی او برتري.

## پوڅه یا پنیر

لانده پنیر په خوب کي په پېخر مال او دولت دئ او وچ پنیر یا پوڅه بیا لږ ګټه ده چي هغه هم په ډېر زیار او رحمت سره لاس ته راځي.

## پوست

د انسان پوست په خوب کي ليدل سينګار او ښايست دئ، که چا خپل پوست په خوب کي شين وليدی په دې مانا چي غمګين او ويرجن به سي.

که د پښو پوست ئې روڼ وو په دې مانا چي کارونه به ئې ښه پر مخ ولاړ سي.

د ټولو حيواناتو پوست په خوب کي ليدل مال او دارايي ده. د اوښ پوست ميراث دئ، د لوړ سري د پسه پوست بيا رزق او روزي ده هغه چا ته چي په خوب ئې ليدلی وي.

که چا د غوايي پوست کيښ په دې مانا چي هغه سړی پخواني شيان چي له منځه تللي وي بيا رغوي او جوړوي.

## پوستين

که چا په خوب وليدل چي په ژمي کي پوستين اغوستی وو په دې مانا چي يو څه سپما او معاش په لاس راوړي او که ئې په دوبي کي پوستين اغوستی وي نو بيا داسي مانا لري چي ويرجن او غمګين کيږي.

که چا سمور پوستين اغوستی وي په دې مانا چي بډايه او غښتلې ښځه به ئې په برخه سي.

او که ئې نوی د ګيدړي پوستين اغوستی وو په دې مانا چي يوه چالاکه او دوکه ورکوونکې ښځه به ئې په برخه وي او که ئې پوستين د سوی له پوست څخه وو په دې مانا چي د هر ځايي او بدکاري ښځي سره به واده وکړي.

او که ئې د پيشو له پوست څخه پوستين جوړ کړی او اغوستی وي په دې مانا چي له ښايستې او جنګره ښځي سره به واده وکړي.

## پیاز

پیاز په خوب لیدل حرام مال او دولت او ورانه خبره ده.
که چا پوخ پیاز وخوړی په دې مانا چي له حرامو څخه به توبه گاره سي.
پیاز په خوب لیدل پر درې ډوله دئ: لومړی حرام مال، دوهم وراني خبري او غیبت او دریم په کارو کي پښېماني.

## پیاله

په خوب کي د پیالې لیدل د مینځي او خدمې په مانا سره ده چي له هغې سره عیش او عشرت کوي. که ئې له پیالې څخه اوبه یا شربت چښل په دې مانا چي له مینځي سره به په حلال او مشروع ډول یو ځای سي او له هغې څخه به صالح اولاد پیدا کړي.
که چیرته هغه اوبه او شربت توی سول له اولاد څخه به چنداني خیر و نه ویني.

## پرتوگ

پرتوگ په خوب کي ښځه ده.
که چا پرتوگ کلک تړلی وي په دې مانا چي ښځه کوي یا ښځه غواړي.
که د چا پرتوگ ورک سي په دې مانا چي له ښځي څخه بېلیږي. که ئې پرتوگ څیري سو دا ئې د ښځي عیب او زیان دئ که ئې پرتوگ په اور کي وسوځي د ښځي ناروغي او افت ئې دئ.

که د چا پرتوګ وړین او یا د پنبې وي په دې مانا چي ښځه ئې دینداره او پاك لمنې وي که د چا پرتوګ زوړ او خیرن وي ښځه ئې ناپاکه وي.

## پورته کېدل

که څوك په خوب کي پر غره، غونډۍ یا لوړ بام ناست وو د دې مانا دا ده چي کوم شی د هغه غوښتنه وي ورته رسیږي او حاجت ئې پوره کیږي.

که څوك په زیار سره کوم ځای ته پورته کېدی داسي مانا لري چي هر څه په زیار سره تر لاسه کوي او که څوك پر زینه پورته کېدی داسي مانا لري چي په دین کي به بزرګي تر لاسه کړي.

## پزه یا پوزه

پزه په خوب لیدل د لوړوالي او مقام په مانا سره ده.

که څوك ووینې پزه ئط لنډه سوې ده په دې مانا چي قدر او بزرګي ئې لږیږي که ئې پزې که ئې د پزې سوري غټ سوي وه د عیش او عشرت لاره ئې سمیږي او ژوند ئې هم اوږدیږي او که ئې د پزې سوري واړه سوي وي په دې مانا چي معاش او روزي ئې مخ پر لږېدو ده.

که په خوب کي د چا د پوزې څخه مچ، چنجی او یا مچۍ راووزي په دې مانا چي د اولاد خاوند به سي.

که د چا له پزې څخه وینې راتلې په دې مانا چي ډېر مال او دارایي تر لاسه کوي.

که چیرته په خوب کې د چا د پزې سورې دواړه یو سورې سوی وو په دې مانا چې د پوه او هوښیارې ښځې سره به واده وکړي. که د چا د پزې سر پرې سوی وي په دې مانا چې خپل زوی به سنت کړي او ځینې بیا وایي د مقام او بزرگۍ څخه به ولوېږي.

## پیسې

په خوب کې پیسې لیدل په دې مانا سره دې چې په ویښه کې هم پیسې په لاس راوړي. وایي هر څوک چې پیسې په خوب کې ووینې په دې مانا چې ښه خبر په واوري.

که په خوب کې لږ پیسې ومونده‌لې د کوچنې او یا زوی په مانا ده.

که د چا پیسې ورکې سوې په دې مانا چې د زوی له لورې ورته یو څه درد او زیان رسیږي.

## پخول یا اشپزي

که چا په خوب کې ښه خوندور خواړه پاخه کړل گټه ورته رسیږي او که ئې بې خونده او ناکاره خواړه پاخه کړل په دې صورت کې زیان وراوړي.

## پړی یا رسۍ

پړی په خوب کې د قول او وعدې په مانا سره دئ.

پړی په خوب کې په څلور ډوله سره مانا کیږي: لومړی وعده، دوهم دین، دریم امانت او څلورم قضاء حاجت.

## پولیس

که څوك په خوب کي له وسله والو پولیسو سره ګرځېدی په دې مانا چي ده ته ګټه رسیږي.

## پرچل (عطسه)

که چا په خوب کي وپرچل او الحمدلله ئې وویل هر مراد او هیله چي لري د لوړو خلکو په واسطه به خپلو موخو ته ورسیږي.
که ئې درې واره وپرچل ښه مانا لري او که ئې ډېر وپرچل مراد او موخه به ئې ستونزمن وي.

## پوښ یا تېکی

که چا توره له تېکي څخه راوکښله په دې مانا چي زوی به و دنیا ته راوړي.
د چړې پوښ یا تېکی هم دا مانا لری.

## پسه

پسه به خوب کي غنیمت دئ. که چا پسه حلال کړ په دې مانا چي پر دښمن غلبه پیدا کوي.

که چا وزې او مېږي درلودې او هغه هم ښکروري وې په دې مانا چي سړی په غښتلی وي او واک به ولري.

## په اوبو کي ډوبېدل

که څوک په ډېرو او ژورو اوبو کي وغورځېږي، مگر لاندي د اوبو تل ته و نه رسيږي. دنيا به ئې ډېره پراخه سي، ځکه دنيا هم ژور بحر دئ، او يا به خوښي او نعمت تر لاسه کړي.

# [ت]

## تاج یا جوغه

تاج په خوب کي د حاکمانو له پاره سلطنت او پاچهي ده او د ښځو له پاره مېړه او د عادي خلکو له پاره ښه حال او زېری دئ. که چا د سرو زرو او جواهراتو تاج درلود قدرت او منزلت ئې لوړیږي، مگر په شرعي اموراتو کي به ضعیفه وي.

که چیرته لوړپوړی چارواکي تاج د چا پر سر ورکښېښود په دې مانا چي غښتلې ښځه به ئې په برخه سي چي ډېره ښایسته به هم وي.

که چیرته تاج د چا له سر څخه ولوېدی او مات سو په دې مانا چي خپلي ښځي ته به طلاق ورکړي او که چا تاج د هغه له سر څخه لیري کړ په دې مانا چي له ښځي څخه به بېل سي.

که ښځي چي مېړه و نه لري په خوب کي ئې تاج پر سر ولیدی، په دې مانا چي مېړه کوي او که ئې مېړه درلود نو په خپلو سیالانو کي ئې مرتبه او درجه لوړیږي او که تاج ئې چا له سر څخه واخیست په دې مانا چي مېړه ئې بله ښځه کوي او دې ته طلاق ورکوي.

## تیاره

په خوب کي تیاره گمراهي ده، هغه هم په دین کي.

که څوک په تیاره کي وو او هغه په رڼا تبدیله سي داسي مانا لري توبه به وکاږي او د دین لاري ته به سیخ سي.
تیاره په خوب کي غم او ویر دئ.

## تاوه یا تبخی

تاوه په خوب کي د کور چوپړ کوونکی وي که چا نوې تاوه درلوده او یا چا ورکړه په دې مانا چي امانت کاره خدمتگاره به پیدا کړي.
که چا د تبخي پر سر څه شي خوړل په دې مانا چي د هم هغه خوړو په اندازه گټه ورته رسیږي، که چیرته خواړه تروه او بې خونده وي په دې مانا چي ویرجن کیږي.

## تبه

که چا په خوب کي ولیدل چي پرله پسې تبه لري او هیڅ ئې نه خوشي کوي او تبه ئې نه شکیږي په دې مانا چي پخپله دوامداره په گناه او فساد بوخت دئ. باید توبه وکړي تر څو له دې بلا څخه وژغورل سي.
که د چا تبه ډېره اوږده وي په دې مانا چي عمر ئې ډېر اوږد وي.

## تبر

تبر په خوب کي د بېرندوکي سړي په مانا سره دئ، چي تل خلك په جنگ سره اچوي او د خلکو تر منځ بېلوالی راولي. که چا تبر درلودی او یا چا ورکړ په دې مانا چي د هم دغسي سړي سره به دوستي وکړي.

## تبله یا طبله

تبله په خوب کې ښه خبر نه دئ.

که چا د تبلې سره نڅا او رقص کاوه د غم او وير په مانا سره ده او که يوازې ئې تبله وهله په دې مانا چې درواغ وايي او بې مانا خبرې کوي يا ناوړه کار وکړي، چې په هغه باندې مشهور سي.

که چا تبله وهله په دې مانا چې ناروا او باطل کارونه کوي او خلکو ته د درواغو وعده ورکوي.

## تخت

که چا په خوب کې وليدل چې پر تخت ناست دئ او پر تخت څه شي هوار نه دئ، په دې مانا چې په سفر ځي او که پر تخت روجايي او کوم بل پوښ هوار وي او دی پر هغه پروت وي په دې مانا چې قدر او بزرگي ئې ډېرېږي او خپلو دښمنانو ته ماته ورکوي.

که چيرته تخت مات سو او هغه ولوېدی په دې مانا چې د بزرگۍ او مقام څخه لوېږي.

## تخم کرل

که چا په خوب کې تخم وکري او حاصلات ئې ټول کړل په دې مانا چې لوړ مقام، شرف او بزرگۍ ته رسيږي.

د خپل کر حاصلات هغه څه چي ئې کرلي وه وخوري مانا ئې ډېره ښه ده، د لوړو درجو او خوښیو خاوند کیږي.

که ئې تخم کرلی وو او حاصلات ئې نه درلوده او یا په پوه نه سو چي حاصلات ئې څه شي دي مانا ئې غم او ویر دئ.

که ئې غنم کرل په دې مانا چي خیر او نېکي ورته رسیږي او که ئې وربشي کرلي وې په دې مانا چي مال او دولت ئې ډیریږي، که ئې بږدن کرلي وه لږ ګټه ورته رسیږي.

که چا په خوب کي په خپله مځکه کي وني کښېنولې په دې مانا چي په هم هغه اندازه ئې عزت او پت ساتل کیږي.

## ترازو

ترازو په خوب کي قاضي دئ. که چا نوی ترازو درلودی او یا چا ورکړ په دې مانا چي په هغه سیمه کي یو پاک نفسه قاضي ټاکل کیږي.

د ترازو کاڼي د قاضي د عدل او انصاف په مانا سره دئ. که د ترازو دواړي پلې سره برابري وې په دې مانا چي قاضي عدل او انصاف کوي او که ترازو مساوي او برابر نه وو په دې مانا چي قاضي رشوت خوره دئ او عدالت نه کوي.

## ترب

د ترب لیدل په خوب کي غم او ویر دئ. په تېره بیا که ئې وخوري په هره اندازه چي ئې وخوري په هم هغه اندازه په غم او ویر اخته کیږي.

که چا ترب ورکړ په دې مانا چي د هغه سړي څخه غم ورته رسيږي. که چا ترب له کوره څخه وايستی او هيڅ ئې و نه خوړی په دې مانا چي له غم او وير څخه ژغورل کيږي.

## ترياک

که په خوب کي څوک ويني چي ترياک د ناروغۍ له کبله خوري په دې مانا سره چي له ناروغۍ څخه ژغورل کيږي او که ئې څوک په بل مقصد خوري د غم او زيان مانا لري.

## تنده

تنده په خوب کي ښه مانا نه لري. که څوک ډېر تږی وي او اوبه نه سي پيدا کولای په دې مانا چي زيار او زيان ور رسيږي.
که څوک ډېر تږی وي اوبه نه پيدا کوي او يا څوک اوبه ورکوي او هغه ئې نه چښي د ربړ او زحمت څخه ژغورل کيږي او مراد ته رسيږي.

## تعويذ

که چا په خوب کي تعويذ کاوه له سختۍ او غم څخه ژغورل کيږي، که پوروړی وي د هغه څخه خلاصيږي، که ناروغ وي شفا مومي، که په سفر کي وي په سلامتي سره کور ته راځي.

که چا تعویذ لیکی او خلکو ته ئې ورکاوه په دې مانا چي خلکو ته ئې گټه رسیږي او که ئې د تعویذ په بدل کي له خلکو څخه پیسې اخیستې په دې مانا چي غمگین او سرگردانه کیږي.

## تنور

تنور په خوب کي د کور مېرمن ده.

که چا تنور په کور کي درلود چي ډوډۍ پر پخوي د روغتیا په مانا سره دئ او که ئې تنور وران او ونړېدی مانا ئې رنځ او افت دئ. که ئې په تنور کي ډوډۍ وهله په هم هغه اندازه به حلاله روزي ومومي او کارونه به ئې پر مخ ولاړ سي.

## توبره

توبره په خوب کي خیر او برکت دئ له گټي سره په تېره بیا که نوې وي.

که چا توبره درلوده او یا چا ورکړه د هغه چا له خوا به خیر او گټه ور ورسیږي.

## تلل

که څوک له ښار او یا کوم بل ځای څخه دباندي تلل او نه پوهېدل چي چیرته ځي په دې مانا چي بدبخته او بېچاره کیږي.

## تاجر

که څوك ځان په خوب کي په دوکان کي وګوری او شاوخوا ئې سامانونه ایښي وي، په تجارت کی به پرمختګ وکړي، که تجارت نه کوي د فقر او غریبۍ څخه به وژغورل سي.

## تمساح (کره کدیل)

په خوب کي تمساح لیدل د غله یا پولیس مانا ورکوي. همدارنګه د ظالم تاجر په مانا هم راځي. که څوك په خوب ووینی چي تمساح ئې اوبو ته راکشوي، نو پولیس به ئې ونیسي یا غله به ئې مال واخلي.

## توت

په خوب کي توتان لیدل د پراخ کسب او ګټي په مانا سره دي. د توت ونه په مالونو او اولاد لرونکي کس باندي دلالت کوي.

څوك چي توتان وخوري، د دین سمون، ښه یقین او بدني روغتیا په مانا سره دئ. د خوږو توتو خوړل په خوب کي روزي او رزق دئ.

## تیږه (ډبره)

په خوب کي تیږي لیدل د مړي مانا ورکوي او یا د جاهل انسان مانا لري. ځکه چي حکیمان د جاهل انسان تشبیه له تیږي سره کوي.

## تشناب

په خوب کې د تشناب لیدل له مشکل او تکلیف څخه د وتلو دلیل دئ، او ځیني وخت د هغې ښځې په مانا راځي، چې خپل خاوند سره یو ځای کیږي.

## تیاره

په خوب کې تیاره ګمراهي او حیرانتیا ده. که څوک له تیارې څخه رڼا ته ووزي که کافر وي مسلمان به سي، که ګناهکار وي توبه به وباسي، که زنداني وي آزاد به سي، که ناروغ وي روغ به سي.

## توره

که چا په خوب کې توره ولیدله چې په پوښ کې وي د ښځې مانا لري، مګر بېله پوښه بیا د مال او دولت مانا لري.

که ښځه په خوب کې ووینې چې توره ئې په لاس کې ده په دې مانا چې زوی په نړۍ ته راوړي او که توره ئې په پوښ کې ماته سوه په دې مانا چې اولاد ئې په ګېډه کې له منځه ځي.

که څوک په خوب کې څوک په توره ووهي نوم ئې مشهوره کیږي او که چا توره تر ملا کړه په دې مانا چې عمر ئې اوږدیږي.

## تندی

تندی په خوب کې قدر او عزت دئ او ځیني وایي چې تندی په خوب کې د زوی په مانا دي او کورنۍ ئې د بخت او طالع څخه برخورداره کیږي او که

د چا پر تندي ټپ یا بله نښاني وي په دې مانا چي خاوند ئې مشهوره او پرهېزګاره کیږي.

که د چا تندی وپړسېدی په دې مانا چي مال او دولت ئې ډېرېږي.

## تی یا تییان

د تیو لیدل په خوب کي د لور په مانا ده.

که له تي څخه شیدې راوتې په دې مانا چي د لور رزق او روزي ئې ډېرېږي او حلال مال په لاس راوړي. که ئې تییان ډېر اوږده وه په دې مانا چي لور به دنیا ته راوړي.

که د نارنیه په تي کي شیدې وې او ښځه ئې نه درلوده په دې مانا چي ښځه غواړي او د اولاد خاوند به سي او که ځوانه ښځه داسي خوب ويني په دې مانا چي عمر ئې اوږدیږي.

په خوب کي د نارینه تی د ښځي په مانا او د ښځي تی بیا د لور په مانا دئ. که د ښځي دواړه تي غټ سوي وي په دې مانا چي اولاد ئې نېک او صالح وي او یا خپله لور و مېړه ته ورکوي.

# [ج]

## جادو

جادو په خوب کي بې مانا او بېکاره مانا لري.

که چا جادوګري کوله په دې مانا چي بې ګټې او باطل کار کوي او ځيني بيا په دې نظر دي چي جادو فتنه ده.

جادوګر په خوب کي د دښمن په مانا سره دئ.

## جارو

جارو په خوب کي خادم، چوپړ يا خدمتګار دئ.

که چا خپل کور جارو کاوه په دې مانا چي مال به ئې ورک سي او که ئې د بل چا کور جارو کاوه په دې مانا چي د بل چا مال ورته رسيږي. په تېره بيا که ئې هغه خاوره خپل کور ته يووړه.

## جامې يا کالي

جامې په خوب کي د سړي کاروبار دئ.

که چا په خوب کي خپلي جامې ښې وليدلې په دې مانا چې کسب او کار ئې ښه کيږي.

که څوک خپلي جامې توري ويني، د هغه د ښه حال او احوال په مانا سره دئ. دا د لوړ مقام او لوړپوړي له پاره دي.

که عادي خلک خپلي جامې توري ويني د غم او وير مانا لري. ژړه جامه به خوب کي د ناروغۍ مانا لري. سره کالي په خوب کي بريا او تازګي ده. شنې جامې بيا د جنتيانو په مانا دي.

د حيوانانو له پوست څخه جامې بيا په دې مانا دي چې خير او برکت به ور ورسيږي.

که ئې په خوب کي د خره له پوست څخه جوړي سوي جامې اغوستي وې په دې مانا چې سرلوړي او عزت مومي.

په خوب کي ډېره ښه جامه د پنبې ده چې په هغه کي ورېښم نه وي کار سوي.

پراخي او ارتي جامې او کالي په خوب کي د بزرګۍ او مقام په مانا سره دي. که چا په خوب کي پاکي جامې او ښې پاکيزه اغوستي وې په دې مانا سره چې د خلکو سره سخاوت وکړي.

که د چا جامې وسوځلې په دې مانا چې له دوستانو څخه به ئې يو وفات سي او که د چا جامې څيري سوې د ستونزو او مصيبت مانا لري. د کاليو او جامو ليدل په خوب کي د زوی په مانا سره هم دي. که ئې ښه سپيني جامې اغوستي وې زوی ئې صالح او صادق وي او که د چا جامې توري وې په دې مانا چې زوی ئې قاضي، خطيب او يا نصيحت کوونکی وی.

## جرابي

په خوب کي جرابي د خدمتگاري ښځي په مانا سره دي، که چا په خوب کي نوي جرابي اغوستي وې په دې مانا چي اصله خدمتگاره به ولري.

که چا ښايستې وړيني جرابي درلودې په دې مانا چي د ډېري ښايستې ښځي سره به واده وکړي.

که ئې ژړي جرابي درلودې په دې مانا چي خدمتگاره به ئې ناروغه وي او که ئې سرې جرابي درلودې په دې مانا چي شوخه او بې شرمه خدمتگاره به پيدا کړي.

که د چا جرابي زړې او خيرني وې په دې مانا چي خدمتگاره به ئې تور پر ولگوي. که د چا جرابي د اوښ له پوست څخه وې په دې مانا چي خدمتگاره ئې لوړ صفت او اصلزاده وي.

## جوالي

جوالي په خوب کي خطر دئ. که ئې بل چا ته جوالي گيري کوله او پيسې ئې نه ځني اخيستې وړيا ئې درانه بارونه ورسره وړل په دې مانا چي د خلکو سره خيل او احسان کوي، که چا جوالي گيري کوله او پيسې ئې اخيستلې د غم او وير په مانا سره دي. په تېره بيا که ئې درانه بارونه په شا وي او ده ته زيار رسوي.

## جواهر، مرغلري، طلا، سپين زر او نور ...

**یاقوت:** که چا یاقوت په خوب ولیدل د مال، دولت او زوی په مانا سره دي. او که چا لعل په خوب ولیدل دولت او عزت دئ او که چا زمرد په خوب ولید و خپل مراد ته رسیږي او کارونه ئې سم پر مخ ځي او که چا الماس په خوب ولیدل و لوړ مقام او عزت ته رسیږي.

که چا فیروزه په خوب ولیدل خپل مراد ته رسیږي.

که څوک مرغلري په خوب ووینې د زوی خاوند کیږي او که سپین زر وي بیا د مځکي له لاري مالونه ورته رسیږي او خوښي ئې په برخه کیږي.

که چا تشت، کټوری، ګډوه، ګیلاس، څراغ، پایه، هاون، دیګ، دستشوی او نور د کور سامان په خوب ولیدل دولت، عزت او ګټه پیدا کوي.

## جوغې، ګوتمۍ، کړۍ، غوږوالي، او غامي په خول لیدل

که چا په خوب کي لنګۍ ولیدله رتبه ئې لوړیږي او که ئې شنه لنګۍ ولیدله په دواړو جهانو بې غمه دئ او خپل مراد ته رسیږي.

که چا په خوب کي لنګۍ تړله سفر کوي که د چا خولۍ پر سر وه و دولت ته رسیږي. که چا ولیدل چي جوغه او فسر ئې درلود د خپلي رتبې څخه لوړي رتبې ته ځي. که چا غوږوالي او کړې په خوب ولیدل د ښځو له پاره نیک او ښه دي او که ئې نارینه ووینې د قرآن حافظ کیږي. که ئې غمي درلودل زوی او که ئې نه درلودل لور زیږوي.

## جغندر

جغندر په خوب کي د غم او ویر په مانا سره دئ.

که چا په خوب کي جغندر خوړی د هم هغه په اندازه غم ورته رسیږي، که چا جغندر له کور څخه دباندي وغورځاوه په دې مانا چي له غم څخه ژغورل کیږي.

## جنت

په خوب کي جنت لیدل زېری او تازگي ده.

که چا د جنت مېوه وخوړله د هم هغي مېوې په اندازه علم او پوهه زده کوي او د دین په لاره پوه سي مگر گټه نه لري.

که څوک د جنت له حورو سره وو په دې مانا چي ځکندن به ئې ډېر آسانه وي. که د جنت دروازه د چا پر مخ وتړله سي په دې مانا چي مور او پلار له ده څخه خوابدي دي.

که جنت ته نزدې ورغی او بیرته راوگرځېدی په دې مانا چي ناروغ به سي چي د مرگ تر حالته به ورسیږي مگر بیرته شفا مومي.

که چا د کوثر له حوض څخه اوبه وچښلې په دې مانا چي پر دښمن باندی بری مومي او که ئې په جنت کي یوه ښه ماڼۍ ورته ورکړه په دې مانا چي د ده د خوښي سره سم به د یوې ښځي سره واده وکړي.

# [چ]

## چاړه

که په خوب کي چا چاړه په لاس کي درلوده او په ده ئې اړه درلوده په دې مانا چي د زوی خاوند به سي او که د چړې په څنګ کي نوري وسلې هم ورسره وې د بزرګۍ په مانا سره دي او ځيني بيا وايی چي د خدمتګار او مينځي خاوند به سي.

## چرګ

که چا په خوب کي چرګ درلود په دې مانا چي زوی به ئې پيدا سي او يا د يوه نېک سړي سره به ئې ناسته او ولاړه وسي.

## چرګه

چرګه په خوب کي مينځه او غلام دئ که چا په کور کي ډېر چرګان درلودل په دې مانا چي لوړ مقام ته رسيږي او هم دا ډول کورنۍ چرګه د ښايستې ښځي په مانا سره ده، که چيرته چرګي هګۍ واچوله په دې مانا چي له ښځي څخه ګټه کوي.

## چرگي او هېلۍ

چرگي او هېلۍ په خوب کي د خدمتگار او خدمتگاري مانا لري.
که چا په کور کي ډېري کورنۍ چرگي درلودې په دې مانا چي بزرگۍ ته به ورسيږي او بريالی به وي.
کورنۍ چرگه د ښکلي او ښايي ښځي په مانا سره ده. که چيرته چرگي د چا په کور کی هگۍ واچوله په دې مانا چي له ښځي څخه گټه په لاس راوړي.

## چپنه

چا چي په خوب کي چپنه وليده، د ساده ښځي په مانا سره ده. که چپنه رنگ سوې وي مينه ناک زوی به پيدا کړي، که څوک په خوب کي چپنه واغوندي شتمن به سي.

## چنگوښه يا چنډخه

په خوب کي د عابد او پرهېزگاره سړي په مانا سره ده.
که څوک له ډېرو چنگوښو سره يو ځای وي له خپلوانو سره به ئې حالات ښه سي.

## چينه

که څوک د خوږو اوبو چينه په خوب ووينې، د ځوانمرده، سخي او غيرتي مانا لري. که ئې اوبه خړي، ورستې او بېخونده وې مانا ئط غم او وير

دئ که د چینې اوبه وچی سوې په دې مانا چي بزرگي، سخاوت او مړانه له هغې سیمي څخه ځي.

په خوب کي چینه د سړي، اور او عمر په مانا سره ده.

## چنګاښ

چنګاښ په خوب کي د بدخوی او پست سړي مانا لري چي تل عناد او کینه په زړه کي ساتي.

که چا چنګاښ ونیوی په دې مانا چي د بد اخلاق او وران سړي سره به مخامخ کیږي او له هغه څخه به لږ ګټه په لاس راوړي.

که چا چنګاښ مړ کړ او یا ئې لیري واچاوه په دې مانا چي د بدخوی او نامرد سړي سره چي ئې ناسته ولاړه درلوده له هغه څخه بېلیږي.

## چوغکه یا چڼچڼه

چوغکه په خوب کي د قدرمن سړي په مانا سره ده.

که ئې چوغکه له ځالګۍ څخه راپورته کړه د زیان او رنځ مانا لري. که ئې سره چوغکه ښکار کړه په دې مانا چي ډېره ښایسته ښځه به ئې په برخه سي.

او که ئې ژړه چوغکه پیدا کړه په دې مانا چی ناجوړې ښځه به ئې په نصیب سي. بل ځای بیا راغلي دي چي چوغکه د زوی په مانا سره ده.

د چوغکو بږغ او رېز په خوب کې د تسبيح په مانا سره دئ. که چا ډېري چوغکي درلودې په دې مانا چې د خپل قوم مشر به وي، ډېر مال او دولت به ولري.

چوغکه په خوب کې اته ماناوي لرى:

لومړى پاچا، دوهم والي، دريم بزرگوار او د قدر سړى، څلورم ښايسته غلام يا مينځه، پنځم قاضي، شپږم لار وهونكى غل، اووم خښمگين سړى، اتم بداخلاقه څوك.

## چيچل يا په غاښول

که په خوب کې چا وليدل چې بل چا وچيچى د هم هغه چيچلو په اندازه زيان ورته رسيږي.

د ټولو حيواناتو چيچل د زيان په مانا سره دي او يا د دښمنۍ په مانا سره.

## چيني لوښي

چيني لوښي په خوب کې د ښځې په مانا سره دي.

که چا په خوب کې ډېر چيني لوښي درلودل په دې مانا چې خدمتگاري ښځې به په هم هغه اندازه ډېري ولري.

که له چا څخه چيني لوښي مات سول په دې مانا چې خدمتگار يا خدمتگاره به ئې مړه سي.

# [ح]

## حج

که چا په خوب کي وليدل چي حج ته ولاړ، خدای پاک به ئې حج روزي کړي. که ناروغ وي جوړيږي، که پوررړوی وي هغه به ادا کړي، که بېره لري ډاډه به سي، که په سفر کي وي په سلامتي سره به بيرته کور ته راوگرځي.

که څوک حج ته تلی مگر د حج وخت ځني تېر سوی وي عمر به ئې اوږد سي، که چا به خوب کي په کعبه کي لمونځ کاوه په دې مانا چي د لوړو خلکو او بزرگانو له لوري به ئې کارونه سم او منظم سي.

په خوب کي حج اووه ماناوي لري: لومړی واده کول، دوهم مينځه نيول، دريم د حاکم او لوړپوړو سره ليدل، څلورم له خلکو سره ښه کول، پنځم د خير په کار کي زيار ايستل، شپږم ثوابي کارونه کول، اووم د علم او پوهي درلودلو کسانو سره ناسته ولاړه درلودل.

## حلوا

حلوا په خوب کي د غم او وير په مانا سره ده او خوړل ئې ناروغي ده. په بل عبارت حلوا په خوب کي حرام مال او دولت دئ.

بل ځای بیا راغلي دي چي حلوا د ډېر مال او دین په مانا سره ده. د یوې ګولۍ خوړل د زوی په مانا سره دي.

که په حلوا کي د بادام او یا بل شي مغز وي په دې مانا چي د یوه بخیل سړي څخه په هغه اندازه چي خوړلې ده ګټه رسیږي.

## حوض

اصلاً حوض په خوب کي علم او پوهه ده، که چا ځان په حوض کي پرېولی په دې مانا چي د ګناه او بدو کارو څخه لیري کیږي او بریا ئې په برخه کیږي.

که چا خپل ځان او جامې په حوض کي مینځلې په دې مانا چي کورنۍ ئې پر نېکه او سمه لاره روانیږي.

که چا په خوب کي د حوض اوبه چښلې کارونه ئې سمیږي او هغه حوض په اندازه مال او دولت لاس ته راوړي.

حوض په خوب کي څلور ماناوي لري:

لومړی نېک او ګټور خلک، دوهم بډای سړی، دریم د مال او دولت ټولول، څلورم له پوه سړي څخه علم او پوهه تر لاسه کول.

# [خ]

## خاوره

خاوره په خوب لیدل که لږ وي یا ډېره د پیسو په مانا سره ده، که چا ولیدل چي په کور کي ئې ځاوره وه داسي مانا لري چي په هم هغه اندازه بېله زیار څخه مال او پیسې په لاس راوړي.

که په خوب کي څوك پر خاورو ناست وو یا ئې خاوري ټولولې او یا ئط خوړلې په دې مانا سره چي د خپل ځان له پاره پیسې ټولوي.

## خوټي

که څوك په خوب کي ویني چي خوټي ئې غټي سوي دي په دې مانا چي قوت او مال ئې ډېر سي.

که ئې ولیدل چي دواړي خوټي ئې پرې سوي دي په دې مانا چي دښمن پر ده بری مومي.

که د چا خوټي اوږدې سوي وې په دې مانا چي ډېر مال او دولت به لاس ته راوړي.

# خر

په خوب کي د خره ليدل بخت او د سړي بزرگواري ده.

که چا خر درلودی او يا ئې کور ته راغی او هغه ئې وتړی په دې مانا چي د خير او خيرات ور د ده پر مخ پرانستل کيږي او د غم او وير څخه ژغورل کيږي. که ئې خره ډېر وليدل په دې مانا چي خير او نعمت او مال کي ئې ډېروالی راځي.

که څوك پر تور خره باندي سپور وو په دې مانا چي بزرگۍ ته رسيږي او که پر سپين خره سپور وو مانا ئې دا ده چي عزت او مال به ډېر پيدا کړي.

او که پر شنه خره باندي سپور وو په دې مانا چي زاهد او پرهېزگاره به سي او د دواړو جهانونو خوشبختي به ئې په برخه سي.

او که پر سره خره سپور وو په دې مانا چي د نړۍ په عيش او عشرت به بوخت سي. او که پر ژړ خره سپور وو دا مانا لري چي ناروغ به سي.

که چا په خوب کي د خره غوښي خوړلې په دې مانا چي د سوداگرۍ څخه به ډېر مال او نعمت تر لاسه کړي.

که څوك له خره څخه کښته سو او بيا بيرته پر سپور سو په دې مانا هره غوښتنه او طلب چي ولري ژر ورته رسيږي.

# خټکی

د ژړ خټکي په خوب ليدل د ناروغۍ په مانا سره دي او شين خټکی چي خوري نه وی تر ژړ خټکي ښه دئ.

په خوب کي د ختكي خوړل تاوان نه لري. بل ځای بیا وایي چي د ختكي خوړل په دې مانا سره چي د غم او ویر څخه ژغورل کیږي.

که چا ډېر ختكي درلودل په دې مانا چي په غم او ویر به بوخت سي.

## خوګ یا خرس

په خوب کي خوګ لیدل د پست او غله دښمن په مانا سره ده، که چا په خوب کي خوګ مړ کړ په دې مانا چي پر دښمن بری مومي. که ئې د خوګ غوښي خوړلې او یا ئې پوست له ځان سره درلود په دې مانا چي بېره ورته رسیږي.

بل ځای بیا راغلي دي چي په خوب کي خوګ لیدل د بدبخته او لېوني سړي په مانا سره دي.

## خرما

خرما په خوب کي مال او دارایي ده.

که چا خرما خوړل، په دې مانا چي د پوهي، لیات او اهلیت لري او پوهه ئې ډېریږي.

که چا خرما خوړله او مندکي یا زړي ئې غورځولې د شریعت احکام ئې پر ځای کړي دي.

بل ځای بیا راغلي دي که چا خرما وخوړله مانا ئې دا ده چي میراث تر لاسه کوي.

که په خوب کي د چا په کور کي د خرما ونه وه چي ډېره مېوه ئې نیولې وه په دې مانا چي د يوه اصيل او نېک چا سره به واده وکړي. که چيرته هغه د خرما ونه وچه سوې وي په دې مانا چي د دوی تر منځ په بېلوالي راسي.

او که د خرما ونه بيرته شنه سوه که څوک ناروغ وي شفا مومي او که ئې د خرما ونه پرې کړه په دې مانا چي په کورنۍ کي ئې څوک ناروغه کيږي.

که چا تازه خرما درلوده په دې مانا چي مال او دولت به په زيار او سختي سره په لاس راوړي.

په خوب کي خرما ليدل د خوښۍ او ګټې په مانا سره ده.

که چيرته خرما د چا په لاس پوری وموښلي په دې مانا چي د بډايي ښځي سره به واده وکړي او د شتو خاوند به سي.

په خوب د خرما ليدل حلال مال دئ. د تازه خرما ليدل د سترګو رڼايي او نېک اولاد دئ.

## خښته

خښته په خوب کي د ډېر مال راټولول او يو ځای کېدل دي. که چا خښتي وهلې او هغه وچي سوې په هم هغه اندازه مال په لاس راوړي.

که خښتي ټوټه ټوټه کړي او ايسته ئې واچولې په دې مانا چي خپل مال او دارايي و نورو ته مصرفوي.

د پخې خښتي په خوب ليدل د غم او وير په مانا سره دي، ځکه چي اور ور رسېدلی دئ.

## خطبه

که چا په خوب کې د منبر پر سر خطبه ویل، وعظ او نصیحت ئې کاوه په دې مانا چې عزت او بزرگي مومي.
که ښځې خطبه ویل او خلکو ته ئې پند او نصیحت کاوه په دې مانا چې د هغې ښځې مېړه رسوا سي.

## خلیفه

که په خوب کې خلیفه په ورین تندي او خوشحالي خبري ورسره کولې په دې مانا چې د دنیا او عقبی خیر او ګټه ئې ده.
که خلیفه د یوه ټاکلي کار له پاره دنده وروسپارله په دې مانا چې عزت او بزرګي ئې نوره هم لوړو درجو او مرحلو ته رسیږي.
که چیرته د خلیفه و سرای ته ورغی په دې مانا چې د خلیفه د خپلوانو او دوستانو په ډله کې به راسي.
که چیرته خلیفه څه شي ورته ډالۍ کړ په دې مانا چې مقام او بزرګي ئې ډېرېږي او یو پېژندل سوی او نامور کس څني جوړېږي.
که چا مړ سوی خلیفه ژوندی په خوب ولیدی خپر مراد او مقصد ته رسیږي، په تېره بیا که ئې په خوښي خبري ورسره وکړې.

## خم

خم په خوب کې د نېکۍ او پاك لمني ښځې په مانا سره دئ، دروند خم په خوب کې ګنج او خزانه ده. د اوبو خم غښتلې ښځه ده.

که چا په کور کي د اوبو ډک خم درلودی او له هغه څخه ئې اوبه چښلې په دې مانا چي ډېر مال او دولت پيدا کوي او د خير او نېکه لاره کي ئې مصرفوي.

که چا د سرکې خم په خوب کي وليدی دا بيا د پرهېزگاره سړي په مانا سره دي. د سرکې او غوړو خم د ډېر مال په مانا سره دئ.

د شاتو خم د حلال مال په مانا سره دئ.

## خنجر

که چا په خوب کي وليدل چي خنجر ئې په لاس کي وي په دې مانا چي د چا سره جنگ او دښمني وکړي.

که چا په خوب کي وليدل چي خنجر ئې ورک يا مات سو په دې مانا چي جنگ او دښمني ئې پای ته رسيږي.

که د چا په خوب کي خنجر بې له تېکي څخه په لاس کي وو هر هغه کار چي دی غواړي وئې کړي د چا له خوا مرسته ورته رسيږي.

که چا له خنجر سره نوري وسلې هم درلودې په دې مانا چي پر دښمن بری مومي.

## خندا

خندا په خوب کي غم او وير دئ.

که چا په خوب کي په کټ کټ خندل په هم هغه اندازه ئې غم ډېريږي.

ورو خندا په خوب کي خپل مراد او موخي ته د رسېدلو په مانا سره دي، بل ځای بیا وايي چي ورو خندا په خوب کي د نجیب زوی په مانا سره ده.

## خولۍ

که چا په خوب کي فولادي خولۍ پر سر وه، په دې مانا چي قدر او منزلت ئې ډېرېږي او ډېر غښتلی کیږي.

که څوک خولۍ پر خپل سر ووېني د هوښیار زوی په مانا سره ده. که د چا خولۍ ماته او یا ورکه سوه په دې مانا چي قوت او عزت ئې له منځه ځي.

خولۍ په خوب کي پنځه ماناوي لري: لومړی قوت او غښتلتوب، دوهم مال او بزرگي، دریم زوی، څلورم نېکي، پنځم اوږد ژوند.

## خواړه

په خوب کي هر ډول خواړه چي ښه بوی ولري نېکي او هغه خواړه چي بد خوند ولري د شر او بدۍ په مانا سره دي.

د پیاز او هوږي خوړل د غم او ویر په مانا سره دي.

که چا په خوب کي ترخه او بدخونده خواړه وخوړل د ملنگۍ او بېچارگۍ په مانا سره دي. د خوږو خوړو په خوب لیدل د عیش او عشرت په مانا سره دي.

## خوله

که چا په خوب کي ولیدل چي خوله ئې له وجود څخه روانه ده په دې مانا چي د هم هغي خولې په اندازه به ئې په مال او دولت کي کمبود او

لړوالی راسي. که ناروغ سړی په خوب کي خوله ولیدله په دې مانا چي روغتیا به ئې په برخه سي.

## خرس یا خوګ

خرس په خوب کي د قوي او غښتلي سړي په مانا سره دئ، مګر ناپوهه او بې همته به وي.

کورنی خوګ یا ایږ د بېرندوکي او بدکاره او بې دینه سړي په مانا سره دئ.

د ایږ بچی هم په خوب کي د غم په مانا سره دي. که څوک د خوګانو په منځ کي ناست وو د دې مانا لري چي پر غلیم یا دښمن بری پیدا کوي او بزرګي لاس ته راوړي.

## څنګ

څنګ په خوب کي د ښځي په مانا سره دئ، که د چا کېن څنګ پړسېدلی وو په دې مانا چي مینځه او ښځه به ئې دواړي میندواري سي. که چا څنګ ژړ وو په دې مانا د هغه به پوهه او پرهېزګاره زوی وي.

## ځان مینځل

ځان مینځل په خوب کي د ښایست او آرامۍ مانا لري. که چا ځان مینځی په دې مانا چي هغه امانت چي د ده پر غاړه پاته وي ادا کیږي.

## خوله

خوله په خوب کې د ټولو کارو کیلي (کلید) ده.

هر هغه شی چې په خوله کې خوړ او په آساني سره وخوړل سي د راحت او خوښۍ په مانا سره ده البته د عیش په هکله.

که د چا خوله غټه سوې وي په هم هغه اندازه روزي او نعمت ورته رسیږي.

که په خوب کې د چا خوله روغه او نېکه وه په دې مانا چې نېکي خبري به اوري.

که د چا له خولې څخه ښه بوی پورته کېدی په دې مانا چې خلك د ده صفت او ثنا وایي. او که ئې بد بوی له خولې څخه ولاړی برعکس ده. که د چا له خولې څخه مرغلري راوتلې په دې مانا چې د ده د علم او پوهي څخه خلك ګټه پورته کوي.

که چاټ اړړمی کښله په دې مانا چې د یو چا شکایت کوي.

په خوب کې خوله اووه ماناوي لري:

لومړی کور، دوهم خزانه، دریم د کارو پرمختګ، څلورم مال او دارایي، پنځم حاجت، شپږم وزیر، اووم مطلب ته رسېدل.

## ځمکه

د ځمکي لیدل په خوب کې د ښځي په مانا سره دي.

که چا ښه پاکه، هواره او یو لاس مځکه درلوده په دې مانا چې ښځه ئې ډېره راستکاره، پاکه او وفاداره وي چې د نورو ښځو په منځ کې لوړ مقام او

درجه لري. که د چا ځمکه ډېره وه په دې مانا چي د ښځي له خوا ډېره گټه ورته رسيږي.

که چا مځکه جوړول چي تخم پکښي وکري مانا ئې دا ده چي په لوی او غټ کاروبار به بوخت سي او له هغه ځخه به ډېره گټه تر لاسه کړي. که څوك خپله مځکه ودانه او آباده ويني په دې مانا چي کارونه ئې ورځ په ورځ په ښه توگه پر مخ ځي.

او که د چا مځکه شاړه او ورانه وي مانا ئې دا ده چي کارونه ئې مخ پر ورانېدو او کمزوری وي.

که څوك په خپله کرلې مځکه کي وي په دې مانا چي له چا سره شريك ياگډ سي او يا ښځه په نکاح کړي.

که د چا مځکه تر اوبو لاندي سوه مانا ئې دا ده چي له حاکم ځخه په امان او سلامتي خلاصيږي. په خوب کي د مځکي ليدل په څلور ډوله سره مانا کيږي:

لومړی ښځه، دوهم دنيا، دريم مال او څلورم ولايت او قوماندانی.

## خېمه

که چا په خوب کي لويه خېمه درلوده په دې مانا چي بزرگي او مقام تر لاسه کوي او ښايي د اردو يا وسله والو قواوو قوماندان سي او که چيرته دا لويه خېمه د حاکم وي په دې مانا چي د حاکم له لوري به احترام او عزت ورکړل سي.

که د حاکم خېمه ونړېدله په دې مانا چي د هغه شان او دبدبه له منځه ولاړه سي او که ئې خېمه وسوځله مانا ئې دا ده چي حاکم به وفات سي.

## خوشايي

د غويو او آسانو خوشايي مال او نعمت دئ.

په خوب کي په تېره بيا که چا ډېر خوشايي درلوده په هم هغه اندازه مال او نعمت ئې ډېر وي.

د خلکو خوشايي په خوب کي د حرام ملا په مانا سره دي.

## خوله (عرق)

که په خوب کي د چا له وجود څخه خوله روانه وه په هره اندازه چي ئې له وجود څخه خولې تللي وي په هم هغه اندازه ئې د مال او دارايي څخه لرېږي. که ئې خولې سپيني او ښه بوى درلود په دې مانا چي مال ئې حلال دئ. برخلاف په دې مانا چي مال ئې حرام دئ. که ناروغ ووينې چي خولې ئې کړي وي په دې مانا چي ناروغ شفا پيدا کوي روغ رمټ او سلامت به سي.

## ختي کول

که چا په خوب کي جومات، مدرسه يا خانقاه جوړه کړه، په دې مانا چي د دين له پاره ئې سم بنسټ کښېښود او که ئې کور، دوکان او دا ډول بل کوم شى جوړ کړ د دې دنيا ګټه به تر لاسه کړي.

چور

که په خوب کي څوک د چا مال او داريي چور کړي په غم او وير بوخت کيږي. که مسلمانان د کافرانو مال چور کړي ښېله د ګړي په وخت کي په لوی غم او وير اخته کيږي.

## خزانه

که چا په خوب کي خزانه وليده په دې مانا چي ناروغ به سي او که خزانه بيرته ورکه سوه نو بيا زيان نه ورته رسيږي.

## خوسکی يا ګيلګی

که چا نر خوسکی درلود په دې مانا چي زوی به ئې پيدا سي او که خوسکۍ وه بيا نو د لور خاوند کيږي.

که څوک پر خوسکي سپور سو په دې مانا چي د پاچا سره به اړيکه پيدا کړي او لوړ سړی به سي.

که چا سپين خوسکی درلود زوی به ئې ښايسته او پرهېزګاره وي که خوسکی نيم تور او نيم سپين وی نو د زوی په وجود کي به ئې خير او برکت ډېر وي. که ئې خوسکی ډېر چاغ او مزی وي زوی به ئې زوغ رمټ وي او که ئې خوسکی ډنګر وي بيا نو برعکس خبره ده.

## خوله

خوله په خوب کي د کارو کيلي (کليد) او د هغو پای دئ. هر هغه شی چي په خوله کي ښه خوند کوي د نېکۍ او ښو خبرو مانا لري او هر هغه شی چي په خوله کي بدخونده وي د رنځ او زيار په مانا سره دئ.

## خولۍ

د خولۍ لیدل په خوب کې د پت او عزت مانا لري.

که د چا په خوب کې سمه خولۍ پر سر وي مانا ئې دا ده چې ښه د برکت دنده او وظیفه به ئې په برخه سي.

که چا لنگۍ پر خولۍ تړلې وه په دې مانا چې خپل راز به سم وساتي او له خلکو څخه به پټ وي.

که د چا د دوبي خولۍ په ژمي کې پر سر وه په دې مانا چې خپل د زړه مراد ته به ورسیږي.

که د چا توره خولۍ پر سر وي د خیر او برکت مانا ورکوي. او که د چا له سره څخه خولۍ ولوېده زیان ورته رسیږي.

که د چا نوې خولۍ پر سر وي مقام او مرتبه ئې ډېریږي. که سپینه خولۍ وه عقیده، باور او دیانت ئې پاک وي.

## خلک

که چا په خوب کې داسي کسان ولیدل چې سپین یا شنه کالي ئې اغوستي دي د ښه او آرام ژوند په مانا سره دي او که چیرته خلکو خیرن یا تور کالي اغوستي وه د مصیبت او غم مانا لري.

# [ځ]

## ځانګه

په خوب کي د ځانګي ليدل زامن، ورونه او دوستان دي. که ئې وليدل چي د وني ځانګي ډېري ګڼي وې په دې مانا چي دوستان به ئې ډېر سي. که ئې کومه ځانګه له وني څخه ماته کړه په دې مانا چي د خپلو خپلوانو له ډلي څخه څوک له لاسه ورکوي. او که ئې ځانګه کمه سوه په دې مانا چي له خپلوانو څخه ئې څوک مړ کيږي.

که ئې د خرما ځانګه درلوده په دې مانا چي زوی به ئې وزيږي.

## ځوکۍ

ځوکۍ په خوب کي علم او پوهه ده.

د ځوکۍ ليدل په خوب کي شپږ ماناوي لري: لومړی عدل، دوهم انصاف، دريم عزت او شرف، څلورم نظم او ترتيب، پنځم ولايت او قوماندانۍ، شپږم د مقام لوړېدل.

که په آسمان کي پر ځوکۍ ناست وي په دې مانا چي کارونه ئې ټول په ښه ډول سره پر مخ ځي او خپلي موخي ته رسيږي او د خلکو په منځ کي عزت پيدا کوي. د لرګي ځوکۍ د ښځي په مانا سره ده. له هغې ځوکۍ څخه چي هر زيان او ګټه ور ورسيږي په ښځي پوري اړه لري.

# [ځ]

## ځاله

که څوک په خوب کي په خپل کور کي د مرغانو ځالګۍ ویني د هغو مرغانو په اندازه ګټه ورته رسیږي.

که څوک د لویو مرغانو په ځاله کي ځان ویني د لوړپوړو کسانو له خوا ګټه او خیر ورته رسیږي او که څوک د مرغانو ځاله ور ورانه کړي زیان ور اوړي.

## ځګ

که څوک د اوبو ځګ (کف) په خوب ویني په دې مانا چي د یوه لوړ مقام خاوند له خوا ګټه ور رسیږي.

# [د]

## دارو یا دوا

که چا د خپلي ناروغۍ له کبله دوا خوړله او هغه ښه پر ولګېده په دې مانا چي د دین سره به دوستي او علاقمندي ولري.

که چا د خلکو له پاره دارو جوړول په دې مانا چي خلکو ته ئې ګټه رسیږي.

که چا په خوب کي د بېسدۍ (بېهوښۍ) دوا وخوړله په دې مانا چي د غم او ویر څخه ژغورل کیږي. هر ډول دوا چي خوړل ئې آسانه وي په دې مانا چي روغتیا او آسودګي به ئې په برخه سي.

## د اوبو بند

په خوب کي ئې لیدل له تندي او ستونزي وروسته په آسانۍ او پراخۍ باندي دلالت کوي، اړتیا هم پوره کوي.

## د مړي ژوندي کېدل

که چا په خوب کي ولیدل چي مړی ژوندی سو او په ښه جامه کي وي خوشحاله وي په دې مانا چي حالت ئې ښه او نېک دئ.

له مړي څخه څه شي اخيستل: که په خوب کي مړي کوم شی چا ته ورکړ د هغه ځای او چا څخه چي هيله او اميد نه لري څه شي په لاس راوړي.

او که مړي چا ته خواړه ورکړل په دې مانا چي د حلال رزق او روزۍ خاوند به سي.

## درد

که چا په خوب کي وليدل چي د بدن ټول غړي ئې درد کوي په دې مانا چي شته او مال ئې له لاسه ولاړ سي.

که د چا سر درد کاوه په دې مانا چي ډېره گناه کوي، بايد توبه وباسي او صدقه ورکړي. که د چا تندي درد کاوه د ده د دين په زوال پوري اړه لري، په وير او غم اخته کيږي.

که د چا سترگو درد کاوه او دوا ئې پکښي واچول په دې مانا چي پر سمه لار او حقه لار روانيږي.

که ئې غوږ درد کاوه په دې مانا چي د هر چا څخه بدي او وراني خبري واوري. که د چا ځيگر درد کاوه په دې مانا چي پر خپل زوی مهربان او مينه ورسره لري.

خلاصه د وجود د غړو درد د زيان او تاوان په مانا سره دئ.

## دوږخ

که څوک په خوب کي و دوږخ ته ولاړ او بيرته راونه ووت په دې مانا چي ډېر گناهکار دئ بايد توبه وکاږي.

که چیرته دوږخ ویني او ده ته زیان و نه رسیږي په دې مانا چي په غم او ویر اخته سو. که څوك په خوب کي دوږخ ته ولاړ په دې مانا چي د ګناه کولو په وخت کي به مړ سي.

## د جامو یا کالیو اودل

د جامو اودل په خوب کي د سفر په مانا دي. پخپله اودونکی سفر کوي.

په بل ځای کي راغلي دي: د کالیو اودل د خصومت او دښمنۍ په مانا دي. د کالیو پرې کول هم د خطر او زیان مانا لري او که چا پړی پېچی هم د سفر په مانا دي.

که چا د ورېښمو پر ځای د مالوچو یا پنبې څخه پړی اودی د هغه شګون هم بد وي ولي چي د خیامت مانا لري.

که چا اودل کول په دې مانا چي له خلکو سره په دښمني اخته کیږي.

## دیو یا دېب

دېب د شیطان په مانا سره دئ.

شیطان بیا د لوی دښمن او مکار غلیم په مفهوم او مانا سره دئ. که چیرته شیطان د ده سره اړیکه ونیوله په دې مانا چي دی باید له ناوړه کارو څخه توبه وکاږي، تر څو د ده دښمنان د ده د ژوند اخیستلو نیت او قصد و نه کړي او پر ده غښتلي نه سي.

که چیرته ئې شیطان خوښ او خوشحال ولیدی په دې مانا چې د فساد، شهوت او نورو ناوړه کارونو باندی اخته کیږي او که چیرته شیطان ویرجن او غمګین ووینې په دې مانا چې ځان اصلاح کوي او عبادت ته مخه کوي.

## دېګ

دېګ په خوب کي د کور مېرمن او د کور ښځه ده.

هر عیب چي په دېګ کي ووینې هغه د کور په مېرمن کي وي.

که په دېګ کي ئې ښه خواړه لکه وریجي او غوښي وې په دې مانا چي رزق او روزي ئې بېله زیار څخه ورته رسیږي. که چیرته دېګ مات سو په دې مانا چي د کور مېرمن ئې وفات کیږي.

که چیرته چا نوی دېګ رانیوی او یا چا ورکړ په دې مانا چي و مېرمني ته زیان رسیږي، د دېګ لیدل په خوب کي ډېر مهم نه دي.

که چیرته په دېګ کي ښه خوندور خواړه وي د مېرمني له لوري ګټه ورته رسیږي او که په دېګ کي خوندور خواړه نه وه په دې مانا چي د کور مېرمني ته زیان اوړي.

که چا په خوب کي د پسه پښه خوړل مانا ئې دا ده چي په هم هغه اندازه ګټه ورته رسیږي او که چا د غوایي پښه خوړله په دې مانا چي په هم هغه کال کي پراخي د روزۍ او نعمت ډېروي.

## د اوبو ترمامیتر

په خوب کي لیدل ئې د الله تعالی له خوا باران او رحمت راتلو په مانا سره دي. که چیري اوبه ئې خپل حد ته رسیدلي وي. د زېري او خوشحالۍ په مانا سره دي او ځیني وخت او اخترو په مانا سره هم راغلي دي.

## دم او دعا

که خوب لیدونکی پر ناروغ هغه دمونه او سورتونه وايي، کوم چی په قرآنکریم او سپېڅلو سنتو کي راغلي وي. له دردونو، غمونو او تکلیفونو د ساتني او محفوظ کېدو په مانا دي.

او که چیري له دې پرته نور ګډوډ منترونه او دمونه وايي. د درواغ، ریا، ځانښودني او خلکو غولولو په مانا سره دي.

## درهم او روپۍ

که چیري د چا ښځه حامله وي او په خوب کي روپۍ ویني، نارینه اولاد به وزېږوي. همدارنګه د ذکر او تسبیح مانا هم ورکوي. د پیسو شمېرل د نېکو کارونو په مانا هم راځي.

د تور پیسو شرنګار او ږغونه اورېدل د نېکي خبري په مانا سره دي.

## درمل

په خوب کي درمل په دین کي د اصلاح او سمون په مانا سره ده. که څوك په خوب کي د خپل ځان د روغتیا له پاره درمل وخوري، د علم او نصیحت مانا ورکوي او له علم څخه به ګټه واخلي.

که مجرد سړی دا خوب ویني، له ځواني پېغلي سره به واده وکړي، که مینداره ښځه وي د اولاد په مانا سره دئ او که فقیر یا مسکین وي شتمن به سي.

## دېوال

په خوب کي دېوال ليدل د خوب ليدونکي په وينښه حال او احوال بيانوي.

که څوک په خوب کي پر دېوال ناست وو دېوال کلک او محکم وو په دې مانا چي په ژوند کي ئې حال او احوال ښه او نېک وي. که چا زوړ دېوال وراناوه په دې مانا سره چي مال او دولت په لاس راوړي. او که نوی دېوال ئې وراناوه بيا نو د غم او وير په مانا سره دئ.

که څوک پر دېوال ولاړ وو ښه راتلونکی نه لري. او که د دېوال څخه راولوېدی په دې مانا چي حالت اوضعيت ئې اوړي.

که چا کوږ دېوال سم کړ او يا ئې زوړ دېوال نوی کړ په دې مانا چي په ژوند کي ئې ښه والی او پرمختګ راځي.

بل ځای بيا راغلي دي چي دېوال په خوب کي د بزرګ او صادق سړي په مانا سره دئ.

## د ونو پاڼې

که چا په خوب کي وليدل چي د ونو پاڼې ټولوي په دې مانا چي د هغو په اندازه سره زر په لاس راوړي. او که ئې له ونو څخه مېوه ټولول د هغه اولادونه او نسل به ئې ډېر سي. که څوک په ونه کي ناست وي او مېوه ئې خوري د هغه په اندازه مال او دولت ورته رسيږي.

که چا ډېري د مېوې وني درلودې ډېر عمر به ولري او ښه بريا او کاميابي به ئې په برخه وي. که چا ونه پرې کول سخت به په ناروغي اخته سي او يا ئې په خپلوانو کي څوک مړ سي.

## درد

که په خوب کي د چا د وجود غړو درد کاوه په دې مانا چي ډېر مال او دولت به له لاسه ورکړي.

## د سر وېښتان خريل

که چا د سر خريل په خوب وليدل د خوارۍ او ذلت څخه وزي او له گناه څخه توبه کاږي. او که چا خپل وېښتان اوږده او ببر وليدل د غم او ستونزو سره به مخ سي. که چا خپل وېښتان سپين وليدل له غم څخه ژغورل کيږي او له گناه څخه توبه باسي.

## دښت

دښت په خوب کي روزي ده. د هم هغه دښت په اندازه. که څوک د يوې ډلي سره په دښت کي گرځېدی په دې مانا چي مال او دولت به له سفره څخه ډېر په لاس راوړي او روزي به ئې ډېره سي.
که څوک له دښت څخه راووت په دې مانا چي د غم او وير څخه به وژغورل سي او که څوک دښت ته ورننوت په دې مانا چي غمگين به سي.

# [ډ]

## ډوډۍ

د پاکي او خوندوري ډوډې په خوب کي ليدل د خوښۍ او تازگۍ په مانا سره ده.

که چا دوې يا درې ډوډې لاس ته راوړې په دې مانا چي له غم څخه ژغورل کيږي.

که چا ډوډۍ نه سوای خوړلای په دې مانا چي اجل ئې نزدې سوی دئ.

سپيني ډوډۍ پر پراخ او هوسا رزق باندي دلالت کوي، توري ډوډۍ بيا په تنگ ژوند باندي دلالت کوي.

که څوک ډوډۍ پخوي د رزق په لټه کي به وي. که د اوربشو ډوډۍ وي په تکليف سره به رزق تر لاسه کړي.

پراټې ليدل د ډېري گټې په مانا سره دي.

# [ر]

## رڼا

که څوک په خوب کي رڼا ویني کارونه ئې نېک دي. د مال او نعمت خاوند کیږي، کارونه ئې پر مخ ځي او د یوه مقام ریاست به ئې په برخه سي.

که د چا د کور دېوال نړېدلی وي او یا درز ئې کړی وي هغه ته لوی غم او مصیبت متوجه دئ. باید صدقه ورکړي. که چا په خوب کي شمع، ډېوه، روڼ قندیل ولیدل د خوارې څخه خلاصیږي.

که د چا له لاسه څخه شمع او یا بله رڼا مړه سوه عمر ئې لنډیږي.

که چا شمع او یا بل د رڼا شی په لاس ورکړ په دې مانا چي خدای به ئې د زوی خاوند کړي او په دواړو جهانو کي عزیز او نېکبخته وي.

## رنګیني جامې یا کالي

که څوک لنګی په خوب ویني د ښځي په مانا سره ده. که چا لڅي پښې په خوب ولیدې د زیار او ستونزو څخه ژغورل کیږي.

که چا شال په خوب وليدی د قوت او عزت په مانا سره دئ او که چا په خوب کي وليدل چي ملا ئې تړلې ده و بزرگۍ ته رسيږي او حلال مال مومي.

او که چا په خوب کي وليدل چي ملا ئې خلاصه سوه عمر ئې لنډيږي او د چپني ليدل هم د عزت په مانا سره ده او که چا نوی پټو يا ځادر په خوب وليدل د عزت خاوند کيږي او له بدو څخه توبه کاږي او د حج فريضه ادا کوي.

## رنګ يا بڼه

په خوب کي د چا رنګ او بڼه ليدل د شرف او نورانيت په مانا سره دي او د خلکو شرف او عزت دئ.

که مو وليدل رنګ ئې سور او پاک وي د خلکو په منځ کي به مشهور سي او لوړ مقام به ومومي که ئې رنګ ژړ او يا تور وي د زيان او تاوان سره مخ کيږي.

رنګ د سړي له پاره د هغه سينګار دئ که د چا پر رنګ او بڼه باندي وښتان وه په دې مانا چي پوروړی کيږي.

د خوشحالۍ بڼه د نېکۍ او برکت مانا لري او ورانه او د خښم بڼه د غم او وير په مانا سره ده.

## رسۍ يا پړی

رسۍ په خوب کي وعده او قول دئ.

که رسی وشلېده او یوه ټوټه ئې چا ته په لاس ورغله په دې مانا چي قدر او عزت ئې لږ سي.

## رنګونه

په خوب کي سپینه جامه د صداقت، رشتینولی او د دین د پاکی په مانا سره ده. سره کالي د نارینه وو له پاره رنځ او زیار دئ مګر د ښځو له پاره نېکي او خوشبختي ده.

شین لباس بیا د ټولو له پاره په دین او دنیا کي د خیر په مانا سره دئ.

ژړه جامه بیا د رنځ او بیماری په مانا سره ده.

توره جامه بیا د غم او ویر په مانا سره ده مګر هغه کسان چي په ویښه کي تور کالي اغوندي د هغو له پاره زیان نه لري، بل ځای بیا راغلي دي سپین او شین رنګ د خیر او برکت او عزت په مانا سره دي ولي چي د جنت جامه هم په دغو رنګو ده.

## روژه

که چا په خوب کي ولیدل چي روژه لري او قرآن وایي داسي مانا لري چي له حرامو خوړلو او ګناه کولو څخه توبه کاږي.

که چا پر روژه سربېره غیبت کاوه او یا ښکنځل ئې کول داسي مانا لري چي طاعت او عبادت ئې ریایي دئ او د دین په لاره کي صداقت نه لري.

په خوب کي روژه پر څو ډوله ده: بزرگي، رياست، روغتيا، مقام او مرتبه، له گناه څخه توبه، پر غليم باندي برى، د نعمت ډېروالى، حج، جهاد او د زوى خاوند به سي.

## رڼا

رڼا په خوب کي ليدل لارښوونه ده.

که پر چا باندي رڼا ولگېدله په دې مانا چي علم او پوهه به تر لاسه کړي.

تياره په خوب کي بې ديني ده.

که رڼا د چا پر ټټر ولگېده په دې مانا چي سپېڅلى دئ.

رڼا په خوب کي څلور ماناوي لري:

لومړى الهي دين او لارښوونه، دوهم پوهه، دريم پاکه او سپېڅلې لار، څلورم ايمان او پاک باور.

## ريحان

که څوک په خوب کي تازه ريحان ويني چي ډېر ښه بوى لري په دې مانا چي د زوى خاوند به سي.

## رسۍ يا پړى

رسۍ په خوب کي سفر دئ.

که چا له وړیو څخه پړی اودی په دې مانا چي په سفر ځي او له هغه سفر څخه خیر او نېکي ورته رسیږي. او که دا پړی له پنبې یا ورېښمو څخه اوبي په دې مانا چي حلال کار کوي.

که ښځي خوب ولیدی چي له وړیو څخه پړی اوبي په دې مانا چي مسافر ئې له سفر څخه راځي او که ئې پړی وشلېدی په دې مانا چي مسافر ئې په سفر کي ډېر پاتیږي.

که چا ډېر پړي درلودل په دې مانا چي اوږد عمر به ولري.

# [ز]

## زمری

که چا په خوب کي له زمري سره جنګ کاوه د دښمن سره به په شخړه سي که چیرته پر زمري غښتلی سي پر خپل دښمن به بری ومومي او که زمری و ده ته ماته ورکړي دښمن به ئې پر ده بری پیدا کړي.
د زمري لیدل په خوب کي د پاچا په مانا او د زمري ښځه بیا د ملکې په مانا سره ده.

## زغره (د اوسپني واسکټ)

د زغري اغوستل په خوب کي د نېکمرغۍ او خوښۍ په مانا سره دي او هم د دښمنانو څخه په مانا وي او هغه هیڅکله پر ده بری لاس ته نه ور وړي. که چیرته ئې له زغري سره وسله هم درلوده د شر او فساد له خلګو څخه په امان کیږي.
زغره په خوب کي شپږ ماناوي لري:
لومړی بزرګي، دوهم پناه، دریم قوت، څلورم مال او دولت، پنځم ژوند او شپږم یار او ملګری.

## زر یا طلا

زر په خوب کي د نارينه و له پاره غرامت او وير دئ. مگر د ښځو له پاره نېك او مناسب شی دئ.

که چا زر په خوب کي درکړل په دې مانا چي مال ئې تباه او بربادیږي او یا ئې زيان ورکړي او یا څوك ورته په خښم سي.

که چا په خوب کي طلا یا سپين زر سره گډول په دې مانا چي د خلکو و خولې ته لويږي او نوم ئې بدیږي. که چا يو خروار زر کور ته یووړه په دې مانا چي ډېر مال او دولت به په لاس راوړي.

له طلا څخه جوړ سوي شيان د خلکو له پاره بد مگر د ښځو له پاره ښه دي. که سره زر او سپين زر په يوه ځای کي سره ټول وه په دې مانا چي عزت او لوړوالی لاس ته راوړي.

که چا د سپينو زرو کان وليدی په دې مانا چي د ډېري ښايستې او پېژندل سوي نجلۍ سره به واده وکړي.

## زره یا د اوسپني جامې

که چا په خوب کي زره اغوستې وه په دې مانا چي د دشمن له شر څخه به په امن کي سي.

که چا ولیدل چي زره ئې ورکه سي په دې مانا چي دښمن برى پر پیدا کوي. که چا په خوب کي زره درکړه او تاسي واغوستل په دې مانا چي هغه څوک د دښمن په ماتولو کي ستاسي ملاتړ دئ.

او که چا د زري په څنګ کي وسله هم درلوده بیا نو د ټولو خلکو له شر څخه ژغورل کیږي.

زره په خوب کي شپږ ماناوي لري:

لومړى ټېکاو، دوهم د دین ساتل، دریم قوت، څلورم مال، پنځم ژوند او شپږم نېکي.

زره جوړونکى په خوب کي داسي مانا لري چي خلکو ته فرهنګ او ادب ورښیي.

## زعفران

که چا ولیدل چي زعفران ورسره دي په دې مانا چي خلك په هغه اندازه د ده صفت او ثنا وایي په تېره بیا ښه تازه زعفران. که چا زعفران واړه کول په دې مانا چي ناروغ به سي. که چا د زعفرانو رنګ له ځان څخه لیري کاوه په دې مانا چي د ناروغۍ څخه به شفا ومومي.

## زکات

د زکات ورکول په خوب کي داسي مانا لري چى مال او دلت ئې ډېرېږي. که چا د خپل مال زکات ورکاوه مال ئې حلال، له بلا او افت څخه ژغورل کیږي.

د زکات ورکول په خوب کي اووه ډوله مانا لري:

لومړی دلاوري او تازګي، دوهم خیر او برکت، دریم د ستونزو حل، څلورم د حاجت او غوښتني حاصل، پنځم رڼايي، شپږم له غم څخه خلاصون، اووم د مال ډېروالی.

## زلزله

که چا په خوب کي زلزله ولیدله چي مځکه ښوري په دې مانا چي د هغې سیمي و خلکو ته زیان او بلا رسیږي. ناروغي او وبا هم پر نازلیږي.

## زنځیر

زنځیر په خوب کي ګناه او مصیبت دئ.

که چا زنځیر پرې کړ او لیري ئې واچاوه په دې مانا چي له ګناه څخه توبه کوي او د خدای و لوري ته راګرځي.

که چا ولیدل چي زنځیر ئې په غاړه کي دئ په دې مانا چي ظلم ئې کړی دئ. او که ئې زنځیر په لاسو کي وي په دې مانا چي د خلکو مال ته ئې لاس ورغځولی دئ او له حرامو څخه ئې پرهېز نه دئ کړی. او که ئې زنځیر په پښو کي ولیدی په دې مانا چي د خلکو سره ئې ظلم کړی دئ.

## زندان

که څوک ځان په زندان کي ووینې داسي زندان چي هیڅکله ئې نه وی لیدلی د مرګ مانا لري او که شناخته زندان کي وي بیا نو د غم په مانا سره

دئ. که چيرته په زندان کي ولچك او زولانه وو په دې مانا چي په هغه کار چي بوخت دئ تر ډېره وخته به ورسره مل وي.

## زهر

زهر په خوب کي حرام مال او ناحقه شخړه او مرگ دئ او که څوك زهر خوري په هم هغه اندازه حرام مال خوري او يا د چا وينه په ناحقه تويوي.

## زيتون

په خوب کي خوندور زيتون بد نه دي او که چيرته تور او ترخه زيتون څوك په خوب کي ويني دا نو بيا د غم او وير مانا لري، که ئې څوك خوري په هم هغه اندازه غم خوري.

## زين

که چا زين په خوب وليدی چي د حيواناتو پر شا نه وي پروت بده مانا لری او که ئې د حيوان پر شا وليدی ښه او نېك خبر دئ.

که چا زين رانيوی او يا چا ورته ورکړ مانا ئې دا ده چي ښځه به وکړي که ئې زين په طلا پوښ سوی وي په دې مانا چي ښځه ئې ډېره متکبره او مغروره وي. او که ئې زين تور او ساده وي نو ښځه ئې ديندارە او امانتکاره وي.

# [ژ]

## ژرنده

د ژرندي په خوب ليدل جنګ او شخړه ده. که څوك په ژرنده ځان ووينې په دې مانا چې له چا سره په جنګ او شخړه اخته کيږي.

ژرنده په خوب کې پنځه ماناوي لري:

لومړی حاکم، دوهم رئيس، دريم توان او طاقت، څلورم زړه ور سړی، پنځم سرګرداني.

# [ږ]

## ږلۍ

ژلۍ په خوب کي عذاب او خپگان دئ، مگر د لږ وخت له پاره.

که په ژمي کي وي نو د هغې سيمي د خلکو له پاره سرسبزي او ډېره روزي رسيږي او که بې وخته ږلۍ وه بيا نهو د غم او بېچارگۍ مانا لري.

د ږلۍ اورېدل په خوب کي پنځه ماناوي لري:

لومړۍ بلا، دوهم دښمني، دريم لښکر، څلورم بيماري او پنځم کاختي.

## ږيره

په خوب کي ږيره د نارينه سينگار او ښايست دئ.

که د چا ږيره ډېره اوږده وه د غم او وير په مانا سره ده. که چا ږيره ږمونځوله او عطر ئې په وهله په دې مانا چي و کوم چا ته به وظيفه او کار ورکړي او خلك به ځني خوښ او راضي وي او مننه به ځني کوي.

# [س]

## ساطول یا ساطور

ساطول په خوب کې د دلاوره او زړور سړي په مانا سره دئ. که چا ساطول درلود او یا چا ورکړ په دې مانا چې د دغسي دلاوره او زړه ور سړي سره به ئې ملګرتیا سي او له هغه څخه به خیر او ګټه ور ورسیږي.
که ئې ساطول مات سو د دغسي ملګري څخه به بېل سي.
په بل ځای کي بیا راغلي دي چې د ساطول لیدل په خوب کي د داسي سړي چې ډېر ستونزمن کارونه د هغه په واسطه د خلکو له پاره اسانه کیږي.

## ستوري

ستوري په خوب کي د امیرانو، لویانو او بزرګانو په مانا سره دي. لمر د پاچا په مانا سره دئ. سپوږمی د وزیرانو په مانا سره ده. نور ستوري لکه مشتري، زحل، مریخ، عطارد، اورانوس او نور بېلي بېلي ماناوي لري څرنګه چې موږ تر اوسه په سترګو نه دي لیدلي نو د مانا او تعبیر څخه ئې د اوس له پاره تېریږو.

## سر

سر په خوب کي بزرګ دئ. که چا په خوب کي ولیدل چي پرې سوی سر ئې په لاس کي وي په دې مانا چي ډېر ښه دوست پیدا کوي او له هغه څخه خیر او ګټه ور رسیږي.

## سرکه

په خوب کي د سرکې لیدل حلال مال او د برکت مال دئ او د هغې خوړل ښه او نېک شګون لری.

ځیني وايي تروه سرکه په خوب کي غم او ویر دئ.

## ساړه

ساړه یا یخ په خوب کي رنځ، زیان او افت دئ. که د چا ساړه وسول په هم هغه اندازه غریبي او بېچارګي ورته پېښیږي.

که سړو د چا و بدن ته زیان ورساوه په دې مانا چي خپلوان ئې و ده ته زیان وراړوي.

## سفر

که چا په خوب کي سفر کاوه او کوم ځای ته ورسېدی کوم چي د ده د اوسېدو تر ځای ښه وي نو د ده حال او احوال په ښو او نېکو سره الیشیږي او که داسي ځای ته ولاړ چي د ده تر اصلي ځای وران وي نو حال ئې د بدو او ورانۍ پر لوري ځي.

که چا سفر کاوه او نه پوهېدی چې چیري ځي په دې مانا چې له ښځې څخه به بېل سي او یا له خپل کور څخه بل کور ته کډه وکړي

## سقاو

سقاو په خوب کې د دینداره او ښه سړي په مانا سره دئ.

که چا په خوب کې سقاوي کوله او خلکو ته ئې اوبه ور رسولې په دې مانا چې د خلکو سره نېکي او احسان کوي.

او که ئې خلکو ته وړیا اوبه ورکولې په دې مانا چې د آخرت په کار بوخت کیږي.

## سکنجبین

یو ډول گاڼه شربت دي چې خلك ئې له کاهو سره خوري. که چا په خوب کې ولیدل چې خواږه وي د مال او روزۍ په مانا سره دي او که تروه وه د ویر او غم په مانا سره دي.

که ناروغ په خوب کې دا شربت ولیدل که خواږه وه ژر شفا مومي او که تروه وه بیا ئې نو ناروغي اوږدیږي.

## سپی

د سپي لیدل په خوب کې د یوه ناکاره او بېکاره دښمن په مانا سره دي. مگر سپۍ بیا د بدې ښځې په مانا سره ده. که په خوب کې سپي څوك وداړی په دې مانا چې د دښمن له خوا زیان وراوړي.

که ئې سپي کالي ورڅيري کړل په دې مانا چي په مال او دولت کي زيان او تاوان ورته رسيږي. که په خوب کي چا سپي ته ډوډۍ ورکوله په دې مانا چي روزي ئې ډېريږي. که سپی له چا څخه تښتېدی په دې مانا چي دښمن له ده څخه ډاريږي.

او که سپي په خوب کي د چا و جامو ته خوله ورواچوله په دې مانا چي ناراحته کيږي.

## سوی (خرگوش)

په خوب کي سوی ليدل د ښځي په مانا سره ده. که چا سوی ونيوله نو ښځه به په نکاح کړي. که چيري ئې حلاله کړه ښځه به ئې ځني بېله سي.

بل ځای بيا راغلي دي چي سوی ليدل د ډارېدونکي سړي په مانا ده، که چا په خوب کي د سوی غوښه رانيوله په هماغه اندازه به له ښځي څخه خير او برکت ورسيږي.

## سوالگر (فقير)

په خوب کي سوالگر ليدل د علم او پوهي طلب دئ. که څه ورته ورکړل سي علم به تر لاسه کړی، عاجزي او بريالیتوب دئ. که چا د سوالگر چا څخه کوم شی واخيست دې کس ته به غم، سوچ او فکر ورسيږي.

بل ځای بيا راغلي دي چي سوالگر په خوب کي زده کوونکی دئ.

## سره زر

په خوب کي سره زر ليدل د بدکار مانا ورکوي.
ځيني نور بيا وايي سره زر غم دئ. که څوک په خوب کي وګوري چي سره زر ئې اچولي دي، د داسي قوم څخه به واده وکړي چي د ده سيال به نه وي که څوک په خوب کي سره زر ويلي کوي په ناروا کار به بوخت سي.

## سرکه

په خوب کي سرکه ليدل د مال، تقوا او په ژوند کي د برکت په مانا ده. که څوک ئې له ډوډۍ سره وخوري د خوشحالۍ مانا ورکوي. که څوک سرکه وچښي د کورنۍ د دښمنۍ مانا ورکوي، که چيري بندي داسي خوب ووينې چي سرکه چښي د آزادۍ مانا لري.

## سلام

که په خوب کي ستاسي دوست سلام درته کوي په دې مانا چي دښمن دي سوله درسره کوي.
که کوم نابلده سلام درته وکړ په دې مانا چي د کوم بېچاره او غريب سړي سره دوست او ملګری کيږي.
که چا سلام درواچاوه چي د هغه سره دي تجارت او سوداګري ګډه درلوده او تا ئې سلام ته وعليکم ووايه په دې مانا چي سوداګري مو پای ته سره رسيږي.
که ښځي سلام درواچاوه په دې مانا چي خوښي دي په برخه کيږي.

## ستن

که په خوب کي د چا ستن په لاس کي وه او کوم شی ئې ګنډی داسي مانا لري چي کارونه ئې په ښه ډول سره پر مخ ځي. حاجت او غوښتنه ئې بشپړيږي. که له چا څخه ستن ورکه سوه حال او احوال ئې خرابيږي او هغه هيله چي لري نه ور رسيږي او که ئې ستن په کوم ځای کي وتړومل کارونه ئې په خير کيږي او خپلي هيلي او موخي ته رسيږي.

که چا ستن ورته ډالۍ کړه په دې مانا چي هغه کس ئې د مهربانو دوستانو څخه دئ او که ئې ډېري ستني درلودې د خير او برکت په مانا سره دي.

## سيل يا سېلاب

سيل په خوب کي د لوی دښمن او يا ظالم پاچا په مانا سره دئ. که د سيل سره مقابله وي په دې مانا چي د کوم دښمن سره لاس او ګرېوان کيږي.

که له سيل څخه روغ راووت په دې مانا چي پر دښمن بری مومي.

که سيل کوم ځای وراناوه په دې مانا چي پاچا پر هغه سيمه ظلم کوي.

## سينه يا بوتل

د سينې ليدل په خوب کي د ښځي په مانا سره دي او ځيني بيا نظر لري چي د مينځي يا خدمتګاري په مانا سره دي.

کا چا سينه يو چا ته ورکړه په دې مانا چي د فقير ښځي سره واده کوي که چيرته بوتل مات سو په دې مانا چي ښځه بې مړه سي.

که په بوتل کي عطر وه په دې مانا چي ناروغ به سي که چا سينبه وپلورل يا ئې له ځانه ليري کړل په دې مانا چي د غم او وير څخه ژغورل کيږي.

## سيند

که چا په خوب کي سيندونه وليدل د سلطنت او بزرگۍ مانا لري، که چا د هغه سيند اوبه وچښلې عزت او پت مومي او د خپل قوم مشر به سي او هم دا ډول دولت او نعمت تر لاسه کوي.

که چا لوی رود په خوب وليدی او يا په هغه کي ولمبېدی د ډېر دولت خاوند به سي او کارونه به ئې ښه پر مخ ځي. او له ټولو غمونو څخه ژغورل کيږي. که ناروغ وي شفا مومي، او که چا وچ رود په خوب وليدی حج ته ځي او که چا وياله په خوب وليدله بزرگي ئې په برخه کيږي او که ئې د هغې ويالې څخه اوبه وچښلې مال او دولت په لاس راوړي او کارونه ئې مخ پر ښه کېدو کيږي.

که اوبه روښي وې حلال مال به ئې په نصيب سي او که اوبه خړې وې حرام مال په لاس راوړي.

که د اوبو څخه ډارېدی پر دښمن بريا مومي او که ناروغ وي شفا مومي.

# [ش]

## شمع

شمع په خوب کي عزت، دولت، نعمت او بريا ده.

که څوک په خوب کي ويني چي لګېدلې شمع ئې په لاس کي وي په دې مانا چي عزت او دولت ئې ډېرېږي.

که چا په خپل کور کي شمع وليدله چي لګېدله او کور ئې رڼا کړی وي په دې مانا چي په هغه کال کي نعمت او دولت بيخي ډېر وي او که ئې لګېدلې شمع د ده له لاس څخه بل چا واخيسته ده ته قوت او عزت رسيږي.

که د چا په لاس کي لګېدلې شمع مړه سوه په دې مانا چي ښځه ئې مړه کيږي.

که څوک په خوب کي لګېدلې شمع په لاس کي ولري که ښځه ولري د زوی خاوند به سي، که مجرد وي د ښځي خاوند به سي، که د چا دوست مسافر وي هغه به له سفر څخه راسي.

## شاتمچی

په خوب کي د شاتو مچی د شتمنی او فصلونو پر ډېروالي دلالت کوي.

که څوك شات راوباسي حلال مال به تر لاسه کړي. د عسکرو له پاره مچۍ په خوب ليدل د جگړې په مانا سره دي.

# [ص]

## صابون

که چا په خوب کي خپلي جامې په صابون سره پرېوللې په دې مانا چي له بدو کارو څخه لاس پر سر کيږي او که ئې د بل چا جامې په صابون سره ورمينځلې په دې مانا چي له بدو کارو څخه ئې راگرځوي.
که چا په خوب کي صابون خوړی په دې مانا چي کوم حرام شی خوري، که چا ډېر صابون درلود په دې مانا چي خپلي موخي او هدف ته رسيږي.

## صحرا

که چا په خوب کي صحرا او دښت په خوب وليد د هم هغي صحرا په اندازه د پاچا له خوا ده ته خير او گټه رسيږي.
که چا خپل ځان د غټي او شنې صحرا په منځ کي وليدی په دې مانا چي د پاچا له نژدې خلکو څخه به سي. او که صحرا له ازغيو او خځلو څخه ډکه وه په دې مانا چي د کوم ظالم چا سره به ئې ناسته ولاړه سي.

## صدقه

صدقه ورکول په خوب کي په هر ډول چي وي د دواړو جهانو نېکبختي او سعادت دئ.

که عالم صدقه ورکړي په دې مانا چي د ده له عمر څخه خلکو ته ګټه رسيږي، که پاچا صدقه ورکړي په دې مانا چي د ده عدل او انصاف ټولو ته رسيږي.

که بندي صدقه ورکړي له بنده خلاصيږي، که پوروړی وي له پور څخه خلاصيږي، که ناروغ وي شفا پيدا کوي.

## صراط

که چا په خوب کي وليدل چي د صراط پر پله ولاړ دئ په دې مانا چي کاره کارونه د ده په لاس سم سي.

که څوک د صراط له پله څخه تېر سو په دې مانا چي له غټي بلا څخه ژغورل کيږي او که له پل صراط څخه و دوږخ ته ولوېدی په دې مانا چي په بلا به اخته سي.

بل ځای بيا راغلي دي که د صراط له پله څخه تېر سو نېکه او د خير لار به ونيسي او کړنه به ئې صالح سي.

## طاوس

په خوب کي د طاوس ليدل د بدکاري او فاسدي ښځي په مانا سره دي.

که په خوب کي له چا سره طاوس خبري وکړې په دې مانا چي لوړ مقام ته به ورسيږي.

که د چا له کور څخه طاوس والوتی په دې مانا چې ښځه به طلاقه کړي، که چا په خوب کې طاوس مړ کړ په دې مانا چې له نجلۍ سره به یو ځای سي.

# [ط]

## طبیب

که چا په خوب کي ولیدل چي طبیب د چا درملنه کوي په دې مانا چي څوك د ورانکارۍ او ګناه څخه و سمي او راسته لاري ته رااړوي.
که طبیب و چا ته دارو او درمل ورکړل او د هغه درملنه په وسوه مانا ئې دا ده چي د علم او پوهي سره کړنه او عمل کوي.

## طلاق

که چا یوه ښځه درلوده او هغه ئې هم په خوب کي طلاقه کړه د شرف، لوړوالي او بزرګۍ مانا لري.
او که چا دوهمه ښځه هم درلوده د مقام او بزرګۍ څخه لوېږي.

## طوطي

طوطي په خوب کي د زوی او یا نوکر په مانا سره دئ.
که د چا له لاس څخه طوطي والوتی په دې مانا چي زوی به ئې په سفر ولاړ سي. که طوطي خبري د هغه سره وکړې په دې مانا چي دی به په ټولنه کي داسي یو نېک کار وکړي چي خلك به هك پك سي.

## طوق یا غاړگۍ

که د چا په خوب کي د طلا طوق په غاړه وو د هغه په اندازه قدر او عزت پیدا کوي او هم انصاف او عدالت ساتي.

او که طوق یا غاړگۍ د اوسپني وي بیا نو زیان ورته رسیږي.

# [غ]

## غنې (عنکبوت)

غنې په خوب کې د کمزورۍ او ګمراه سړي په مانا سره دي. که چا غنې ونیوله په دې مانا چې پر دا ډول خلکو بریالی کیږي.

## غاښ لګول

په خوب کې غاښ لګول د حسد او بدبینۍ په مانا سره دي. ځینې بیا وایي د ډېر محبت دلیل هم دئ.

که څوک په خپلو ګوتو باندې غاښ ولګوي هغه ضدی سړی دئ.

## غریبي

په خوب کې شتمني ده، که څوک په خوب کې فقیر سي ډېر رزق به تر لاسه کړي، که څوک دومره فقیر سي چې له خلکو سوال کوي دا به ډېرې دعاګانې غواړي.

که څوک ورته څه شي ورکړي له سترڼیا پرته به مال تر لاسه کوي.

## غنم

په خوب کي غنم ليدل د مال او شرف د خاوند کېدو په مانا دي.

که څوك د غنمو پلورلو ته اړتيا ولري ذلت او خواري ورته رسيږي. که لوړپوړی چارواکی غنم خرځوي له کار څخه به گوښه سي.

که څوك غنم تر لاسه کړي، عزت او شرف به تر لاسه کړي. همدارنگه تر سختئ وروسته به آساني پر راسي. د رزق او نېك عمل مانا هم ورکوي.

که چيري د غنمو شنه وږي وگوري، د کښتونو او فصلونو زياتېدو مانا ورکوي.

وچ وږي په خوب ليدل د مشکلاتو په کال باندي دلالت کوي.

## غشی جوړونکی

په خوب کي جاسوس دئ او خلکو ته د شيطانت امر کوي او همدارنگه د سفر، غم، تکليف او جگړې مانا هم ورکوي.

## غزا يا جهاد

که چا په خوب کي د خدای له پاره غزا کوله هيڅکله نه خواريږي او که ئې د ځان په گټه غزا کوله د جهاد نوم وربدوي.

## غسل

که چا په خوب کي وليدل چي په اوبو گډ سو او په هغه کي ئې غسل وکړ غم ئې ليري کيږي او که ناروغ دا خوب وليدی ناروغي ئې له منځه ځي

که پوروړي وي پور ئې ادا کيږي، که بندي وي له بنده خوشي کيږي او که چا په تودو اوبو غسل وکړ او لاس او مخ ئې هم پرېولل دوې نېکۍ به تر سره کړي.

په خوب کي غسل د دين پاکي ده.

## غوړ

که چا په خوب کي له دانو او نورو شيانو څخه غوړ ايستل په دې مانا چي داسي نېک او ښه کار به وکړي چي خلك به ئې په نړۍ کي په ښه او نېك نوم سره مشهور کړي او صفت به ئې کوي.

## غم او وير

غم په خوب کي د خوښې په مانا سره دئ، که څوك غمگين وو، خوښ خوشحاله به سي.

## غبږ

که څوك په خوب کي د چا په غبږ ورغلی وو او هغه ئې له مځکي وواهه په دې مانا چي پر هغه کس باندي برى مومي په گټه ئې تماميږي او که دواړه سره مساوي او برابر وه په دې مانا چي يو او بل ته زيان اړوي.

## غونډۍ

په خوب کي غونډۍ ليدل د خطرناك سړي په مانا سره دي. که څوك ويني چي پر غونډۍ ولاړ دئ، هم دومره عزت او شرافت به تر لاسه کړي او پر هم هغه ځای به ودانۍ جوړيږي.

ځوك كه داسي يوه مځكه ووينې چي غونډۍ پكښې وي، د هم هغي مځكي په اندازه به ورته د دنيا پراخي وركړل سي.

## غاړگۍ

په خوب كي د ښځو لاكټ او غاړگۍ زينت او ښايست دئ او د نارينه وو له پاره تقوا، پرهېزگاري او عاجزي ده. د ښځي غاړگۍ خاوند او زوی دئ.

كه چا واده نه وي كړی د ښايستې ښځي نكاح كولو مانا لري. او كه ئې واده كړی وي او ښځه ئې ميندواره وي، هوښيار زوی به پيدا كړي.

# [ف]

## فال

که په خوب کي چا فال لیدی او فال ئې ښه او نېک وو په دې مانا چي پر دښمن بری مومي او که ئې فال بد وو نو بیا د زیان په مانا سره دئ.

فال په خوب کي درې ماناوي لري:

لومړۍ مانا ئې پر دښمنن بری، دوهمه خپلي موخي او هدف ته رسېدل، دریمه هم د حاجت روا کېدل.

## فیروزه

په خوب کي فیروزه بریا او قوت دئ او غوښتنه ئې هم ځای نیسي.

که چا ډېره فیروزه درلوده په هم هغه اندازه مال او دولت پیدا کوي.

که په خوب کي فیروزه د چا له لاسه څخه ولاړه په دې مانا چي خپلي موخي او هدف ته نه رسیږي. فیروزه په خوب کي درې ماناوي لري: لومړۍ بریا، دوهم قوت او دریم ولایت.

## فیل

داسي ویل کیږي چي د شپې یا ورځي خوب لیدل کوم توپیر نه سره لري.

که چا په خوب کي وليدل چي پر فيل سپور دئ دا مانا لري چي بدکاره ښځه به ئې په برخه سي. که ئې دا خوب د ورځي وليدی په دې مانا چي خپله ښځه به طلاقه کړي، که ئې فيل مړ کړ په دې مانا چي يو لوړپوړی چارواکی به ووژني او يا ټينګه محاصره او قلعه ماته کړي.

# [ق]

## قالین یا غالۍ

که چا په خوب کي ولیدل چي قالینه ئې غوړولې ده په دې مانا چي عمر ئې اوږدیږي او رزق او روزي ئې هم ډېریږي.

که څوک پر کوچنۍ غالۍ ناست وو په دې مانا چي عمر به ئې لنډ وي.

او که تر هغه لاندي قالینچه لویه او غټه سوه په دې مانا چي رزق او روزي ئې پراخیږي.

## قرباني

که چا په خوب کي اوښ، غویی او یا پسه قرباني کړ که ناروغ وي شفا مومي، که بندي وي خوشي کیږي، که آزاد وي بختور او نېکمرغه کیږي، که چا بېره درلوده ډاډه کیږي.

که چیرته دا خوب د لوی اختر په شاوخوا کي ووینې اغېزه ئې ډېریږي.

قرباني څلور ماناوي لري:

لومړی له بېري څخه ژغورل کېدل، دوهم موخې او هدف ته رسېدل، دریم خیر او برکت، څلورم د کاختۍ او قیمتۍ څه وتل او بله مانا ئې هم زېری او ښایست دئ.

## قصه

که چا په خوب کي قصه کوله په دې مانا چي د ظالمانو له ظلم څخه ژغورل کيږي او هم خپل مراد او موخي ته رسيږي.

که ئې د شر او فساد کيسه کوله په ويښه هم هغه ويني.

## قفس

که چا به خوب کي قفس درلود په دې مانا چي په يوه تنگ ځای کی به ولوېږي يا به بندي سي که ئې قفس مات سو په دې مانا چي له بند څخه وزي او خلاصيږي.

## قفل

که چا په خوب کي وليدل چي قلف خلاص سو په دې مانا چي ټول کارونه ئې سم پر مخ ځي او ښايي و حج ته هم سفر وکړي. که قلف ورته خلاص نه سي په دې مانا چي کارونه ئې په ځنډ مخته ځي.

قلف څو ماناوي لري: د کار موندل، مراد ته رسېدل، گټه، ښځه او باور او اعتماد.

## قلم

د خوب مانا کوونکي د قلم پر مانا اختلاف سره لري.

ځيني وايي قلم په خوب کي ملايکه ده چي د خدای په امر او فرمان عمل کوي. ځيني بيا وايي که څوك قلم په خوب ويني د پاچا سره به ئې سروکار سي.

که ئې قلم په لاس کي وو په دې مانا چي د فاضل او هوښيار زوی خاوند به سي او که ئې په قلم ليکل کول په دې مانا چي علم او پوهه به تر لاسه کړي.

# [ک]

## کاریز

که چا په خوب کي په کاریز کي کار کاوه په دې مانا چي د خلکو سره چل و ول او مکر و حیله کوي.
که ئې اوبه ښکاره سوې او رواني سوې مانا ئې نکاح او واده دئ، که څوك په کاریز کي ولوېدی په دې مانا چی په مکر او چل سره اخته کیږي.

## کاسه

په خوب کي لرگینه کاسه چي په هغه کي خواړه وي په دې مانا چي له سفر څخه حلاله روزي او خواړه لاس ته راوړي. که چیرته کاسه تشه وي د زیان په مانا سره ده.
د سیبنې کاسه بیا د ښځي په مانا سره ده. که په کاسه کي کوم خوندور خواړه وه د گټي مانا لري او که تروه یا ترخه خواړه وي بیا د غم او ویر مانا لري.

## کاغذ

که چا به خوب کي سپین او پاك کاغذ درلود په دې مانا چي حلال مال او دولت مومي. که چیرته کاغذ په اوبو کي ولوېدی او یا وسوځي په دې مانا چي مال او دولت ئې لږیږي.

که چا ډېر کاغذ درلود په دې مانا چې په علم او پوهه کې به ښه شهرت تر لاسه کړي.

کاغذ درې ماناوې لري:

لومړی حلال مال، دوهم کسب او کار، دریم بریا او کامیابي.

## کښتۍ

که څوك کښتۍ په خوب ووینې یا پکښې سپور سي له غمونو څخه نجات پیدا کوي او له ستونزو څخه ساتل کیږي. که څوك د کښتۍ څخه راووت غښتلی کیږي کارونه ئې سم پر مخ ځي او د عزت خاوند کیږي. که څوك د کوم مقام څخه لوېدلی وي بیرته هغه مقام ته رسیږي. که مسکین او غریب وي بډای کیږي.

د څاه یا کوهي اوبه هم په خوب کې د غښتلتوب مانا لري، که چا کارېز او یا چینه په خوب ولیدله حلاله روزي په لاس راوړي.

که چا له کوهي څخه اوبه راکښلې او څښلې ئې د علم او پوهي خاوند به سي او که په هغو اوبو ځان ومینځي د ستونزو او غم څخه ژغورل کیږي او که ئې هم هغه اوبه کور ته وړلې بیا نو مال او گټه په لاس راوړي.

مقصد اوبه په خوب کې رڼا ده که هر شی اوبه وي لکه د سیند، رود، ویالې، کوهي، کارېز او یا بل کوم شي اوبه د گټې او بزرگۍ په مانا سره دي.

## کوتره

کوتره په خوب کې د ښځې مانا لري.

که چا کوتره ونیوله او یا چا ورکړه په دې مانا چي ښځه به وکړي.

که چا د کوتري غوښي وخوړلې په دې مانا چي د ښځي مال ئې وخوړی، که چا ډېري کوتري کوتري درلودې په دې مانا چي د ښځي څخه به خیر یوسي. که چا کوتره درلوده په دې مانا چي ورک سوی مسافر به ئې له سفر څخه راسي.

که چا ډېري کوتري په خپل کور کي درلودې په دې مانا چي د ډېرو اولادو خاوند به سي او ډېر مال او دولت به په لاس ورسي.

په خوب کي سپینه کوتره د ښه بخت مانا لري او که ښځې په خوب کي کوتره ولیدله په دې مانا چي مېړه به وکړي او ډېري لوښي به وزېږوي.

## کتاب

که چا په خوب کي کتاب وایه په دې مانا چي د دین لاره به وټاکي او ستونزمن کارونه به ورته آسانه سي.

که چا اخبار او حدیث وایه په دې مانا چي د پاچا له دوستانو څخه به سي.

## کدو

که د چا په کور کي کدو شین سوی وو او او وده ئې کړې وه په دې مانا چي رزق او روزي ئې ډېرېږي، که ناروغ وي شفا مومي او که پوروړی وي له پور څخه خلاصیږي. که بندي وي له بند څخه خلاصیږي، که کافر وي مسلمان کیږي که مسافر وي خپل کور ته په خیر و خیریت رسیږي. که

بدلارى وي و لاري ته سميږي، كه چا پوخ سوى كدو وخوړى هر حاجت او مراد ئې حاصليږي.

د كدو نوري ماناوي هم دا دي: عزت، مقام، مال، نعمت، د روا كارو پرمختگ او گټي.

## كميس

په خوب كي د لنډ لستوني كميس اغوستل د قوت او غښتلتوب مانا لري.

كه چا په خوب كي نوى او سپين كميس اغوستى وي په دې مانا چي له غم څخه ژغورل كيږي.

كه ئې كميس له وريښمينو څخه جوړ وو په دې مانا چي لوړ ځاى او مقام پيدا كوي. كه د چا كميس ورك سو د قوت له پاره ئې زيان دئ.

## كوڼ

كه څوك په خوب كي كوڼ وي پر غريبي او بېچارگي باندي دلالت كوي چي تباهي، نامرادي، مسكيني هم ورسره تړلې ده.

هم دا ډول د منافق، فتنې او مصيبت مانا هم لري.

كه گونگى يا كوڼ سړى په خوب كي ويونكى او يا اورېدونكى سو په دې مانا چي ستونزمن كارونه ورته آسانيږي او خپل مراد او موخي ته رسيږي.

كوڼوالى دا لاندي ماناوي هم لري:

فقر او ملنگي، تباهي، غم او وير.

## کرهڼه

که چا په خوب کي کښت رېبی په دې مانا چي په هغه سیمه کي به څو کسان مړه سي.
که چا په کرهڼه کي ښه وتلی نوم درلود په داسي نېک عمل به لاس پوري کړي چي د دین او دنیا له پاره گټور وي.
که څوك به کښت کي روان وو په دې مانا چي جنگ او جهاد ته ځي.
که په کښت کي اور ولگېدی او هغه ځای وسوځېدی په دې مانا چي هلته به کاختي او قیمتي راسي.
که په خوب کی چا رسېدلی کښت رېبی د گټي په مانا سره دئ او که چیرته ئې شین کښت چي رسېدلی نه وي رېبی د ناروغۍ په مانا سره دئ.

## کښتۍ

په خوب کي د کښتۍ لیدل د غم او اندېښنې په مانا سره ده. په تېره بیا که د کښتې څخه نه راووتی او دریاب ته ولاړی.
که څوك په کښتۍ کي وو روغ رمټ ځني راووت په دې مانا چي د غم او مصیبت څخه ژغورل کیږي.
که څوك په کښتۍ کي وو او حرکت ئې نه کاوه په دې مانا چي ډېر وخت په سفر کي پاتیږي.

## کوړ (کفتار)

د کوړ ليدل په خوب کي د بدي او ناکاري ښځي په مانا سره دي.
که د چا په کور کي کوړ تړلی وي مانا ئې دا ده چي د وراني ښځي سره به واده وکړي. د کوړ غلاکول او نيول هيڅ خير او برکت نه لري.

## کلنګ

کلنګ په خوب کي د بېچاره، اسکېرلي او مسکين سړي په مانا سره دئ.
که چا کلنګ واخيست په دې مانا چي د عزبت او مسکين سړي سره اړيکه پيداکوي او يو له بله په ګټه سره تماميږي.
که چا ډېر کلنګان درلودل په دې مانا چي د غريبانو د ډلي مشر به سي.

## کلچه

په خوب کي کلچه د ښه او آسوده ژوند په مانا سره ده.
که چا په خوب کي کلچه خوړله په دې مانا چي مال او دولت په لاس راوړي.
کلچه په خوب کي څو ماناوي لري، لکه حلال مال او دولت، د روزۍ پراخي، ډېر نعمت او ښه آسوده ژوند.

## کيلي يا کليد

په خوب کي کيلي د داسي يوه سړي په مانا سره ده چي ستونزي حلولای سي او هم دا ډول پر دښمن يا غليم باندي د بري په مانا سره ده.

که چا په خوب کي ډېري کلياني درلودې د بزرگی او گټي مانا لري.

که چا د اوسپني کيلي درلوده په دې مانا چی غښتلی او قوي کيږي او که چا د مسو يا ژړو کيلي درلوده په دې مانا چي خبره ئې پر نورو ښه اغېزه کوي او ورته د منلو وړ ده.

او که چا د سرو زرو يا سپينو زرو کيلي درلوده په دې مانا چي بډای کيږي.

## کليسا

که په خوب کي څوک کليسا ته ورغی او د اسلام قبلې ته ئې لمونځ وکړ په دې مانا چي له گناه څخه توبه وکاږي او دين به ئې قوي سي په دې خاطر چي کليسا دعبادت ځای دئ.

## کمان يا غشی او لېنده

که چا په خوب کي غشی او لېنده درلودل په دې مانا چي له سفر څخه گټه تر لاسه کوي.

او که چا غشی ورکړ په دې مانا چي د زوی يا ورور خاوند به سي. که چا په لاس غشی او لېنده جوړ کړل په دې مانا چي کارونه به ئې سم پر مخ ولاړ سي.

## کمربند

که چا په خوب کي کمربند تړلی وو د هم هغه په اندازه مال او دولت پيدا کوي او هم د ده اولادونه به د ده کلک ملاتړي وي.

نه یوازي دا چي مال او دولت لاس ته ورځي پت او عزت ئې هم په ټولنه کي ډېرېږي او عمر ئې هم اوږدوي.

که چیرته د چا کمربند وشلېدی او یا ورك سو و ده ته زیان رسیږي، نوري ماناوي ئې دا دي: ګټه، زوی، بزرګي، اوږد عمر، مراد، اخلاص او د دین پاکي.

## کوزه

که چیرته چا خاورینه کوزه په خوب ولیدله، په دې مانا چي یا به ښځه وکړي او یا به مزدوره یا مینځه پیدا کړي او که چیرته کوزه د مسو یا رویي وه بیا به مزدور یا غلام پیدا کړي او که ئې په کوزه کي اوبه وڅښلې د مزدورۍ سره به یو ځای سي.

کوزه په خوب کي د ښځي، مینځي، غلام، زوغتیا، اوږد عمر، مال او دلت، خیر و برکت، د ښځي میراث او نوري ماناوي لري.

# [گ]

## گوره خر

که چیرته گوره خر و چا ته نژدې سو داسي مانا لري چي گټه او فایده تر لاسه کوي.

که چا گوره خر په ښکار کي ونیوی په دې مانا چي خیر او گټه لاس ته راوړي. که گوره خر جنگ ورسره کاوه او له ده څخه ئې سر واخیست یاغي سو، ده ته غم او ستونزي مخ کوي.

گوره خر د جاهل او بېعقل سړي په مانا سره دئ.

## گوډ

په خوب کي گوډ لیدل علم او پوهه ده.

د سفر مانا هم ورکوي. گوډوالی د عمر، دین او علم ډېروالي باندي دلالت کوي. د چا چي ښی پښه گوډه سي زوی به ئې ناروغ سي، که ئې چپه پښه گوډه وي او لور ولري څوک به ئې لور ته به مرکه ورسي.

# [ل]

## لامبو

که څوک په خوب کي په بحر کي لامبو وهي او لامبو ئې هم زده وي. په علم او پوهه کی به خپلي موخي ته ورسيږي.

ځيني بيا وايي چي لامبو د زندان په مانا سره ده. که څوک په وچه کي لامبو وهي زندان به ئې ځای سي.

که څوک په بحر کي ښه لامبو وهي او د څپو او باډاکسو څخه تېريږي لوړ مقام ته به ورسيږي.

## لويه کاسه

په خوب کي د لرگي کاسه دنيا او مال دئ. که څوک کاسه ځني رزق به ئې خلاص سي او د مرگ نېټه به ئې نژدې وي. کاسه د ښځي او خادم مانا هم ورکوي.

## لېمو

په خوب کي لېمو ملامتي او ستړيا ده، که چيري لېمو ژړ وي د مرض په مانا سره دئ. که ئې ونه خوري او يوازي ئې تر لاسه کړي، د مال په مانا

راځي او شين لېمو تر ژړ ښه دئ. د لېمو ونه خلکو له پاره ګټور سړی دئ. ځيني بيا داسي نظر لري چی د لېمو شنه ونه شتمنه ښځه ده.

## لېوه

په خوب کي لېوه ليدل د ظالم، دښمن، غله او درواغجن په مانا سره دي. که څوك وګوري چي لېوه ئې کور ته راننوتلی دئ نو غل به کور ته وردننه سي.

# [م]

## ماهی

په خوب کي ئې لیدل د قسم په مانا دئ.

ځیني بیا وایي چي نېکانو او ښو خلکو به عبادت خوني او جومات باندي هم دلالت کوي.

په خوب کي د ماهي لیدل په تودو اوبو کي د سختۍ او بلا مانا ورکوي او که ئې په سړو اوبو کي ولیدی ښه او نېکه خبره ده.

که چا ډېر او تازه غټ ماهیان درلودل غنیمت په لاس راوړي او کوچنی ماهی بیا د غم په مانا سره دئ.

## ماهۍ

په خوب کي ماهۍ لیدل د فاسق سړي له پاره شاتګ، کمزوري، د مال او قدرت لړېدل مانا ورکوي. او د نېک سړي له پاره د کارونو آسانۍ او پورونو خلاصېدو مانا ورکوي، که څوک ماهۍ ته ننوزي د نېکمرغۍ لوري ته ځي او دین به ئې وساتل سي.

## مټ (بازو)

په خوب کي د ورور او زوی په مانا دئ.

که په مېږ کي قوت وګوري ورور او زوی کي ئې د قوت په مانا دئ.

## مرغابۍ

په خوب کي مرغابۍ لیدل د ښکلو، مالدارو او مشهورو ښځو په مانا ده.

## مسواک

که څوک په خوب کي مسواک وهي او له غاښونو څخه ئېويني راځي له ګناهونو څخه به پاک سي او يا د خير او برکت په کارونو به لاس پوري کړي.

## مشوانۍ

مشوانۍ په خوب کي د پاکي او پوهي ښځي په مانا سره ده.

که چا مشوانۍ درلوده په دې مانا چي د دغه ډول پاکي ښځي سره به واده وکړي او له هغې څخه به خير او برکت او هم دا ډول ګټه تر لاسه کړي.

که د چا مشوانۍ ورکه سوه خپله يا د دوستانو ښځه به ئې وفات سي.

په خوب کي مشوانۍ ليدل د عزت، دولت او لوړ منصب په مانا ده. همدارنګه پر مال او ښځي هم دلالت کوي. که څوک په خوب کي له مشوانۍ څخه ليکل کوي ښځه به په نکاح کړي.

که کوم ناروغ په خوب کي مشوانۍ ووينې پاک الله به ئې روغتيا ور په برخه کړي.

## منه

په خوب کې منه لیدل د اولاد مانا ورکوي او هم دا ډول د ښایسته مخونو په مانا سره هم ده.

خوږه منه د حلال رزق مانا ورکوي، تروه او بې خونده منه د حرام مال په مانا سره ده.

د منو ونه لیدل د مؤمن انسان په مانا سره ده.

که څوک د منو نهال ایږدي، دا کس به د یتیم پالنه کوي.

که څوک منې شکوي د نېک انسان څخه به ورته مال ورسیږي.

که څوک په جومات کې منې بوی کړي د نکاح کولو په مانا سره ده.

به خوب کې په منې خوله لګول د ښېګڼې او ګټې په مانا سره ده.

## منګل یا منګاچه

که په خوب کې څوک ځان لکه مرغه د منګلو خاوند ووینې په دې مانا چې به عیش او ساعتېرې کې بریالی وي، که چا د مرغانو منګل په واک کې درلود په هم هغه اندازه ګټه ورته رسیږي.

که په خوب کې د چا د وجود غړی په منګل باندې ټپي سو په دې مانا چې د ناوړو کسانو له خوا زیان ورته رسیږي. که د چا منګل ورک سي او یا ئې چا ته ورکړي په دې مانا چې د ناوړو کسانو څخه ځان لیرې ساتي.

## مور

په خوب کي خپله مور ليدل ښه مانا ورکوي.

که څوك بېوزله او فقير وي پراخي به پر راسي. که څوك بندي وي آزاد به سي، که څوك ناروغ وي روغ به سي.

## مينه

په خوب کي عشق او محبت د امويښت په مانا دئ.

که څوك په خوب کي عاشق وي، امتحانات او ازمويښتونه به پر راسي او د زړه مينه د فتنې دليل دئ. که څوك چا ته ووايي چي ته مي خوښېږې، د هغه سره به بغض لري، که بغض وکړي محبت به لري. عشق ټول غم او خپګان دئ او همدارنګه په فقر، مرګ، ناروغي او زيان باندي هم دلالت کوي.

## مار

مار په خوب کي پټه دښمني ده.

که چا په خوب کي مار په خپل کور کي وليدی په دې مان چي کورنۍ دښمني ده او که ئې په صحرا کي وليدی په دې مانا چي بېګانه دښمن دئ.

که له مار څخه وتښتېدی په دې مانا چي دښمن غلبه پر کړېده، که چيرته مار له چا څخه وتښتېدی په دې مانا چي دښمن ته ئې ماته ورکړېده.

که چا مار پر منځ دوه ځایه کړ په دې مانا چي د دښمن مال خوري، که چیرته ئې ولیدل چي مار مړ دئ په دې مانا چي د زیان او آفت څخه په امان دئ.

## میاشت

په خوب کي میاشت د وزیر په مانا سره ده.

که چا میاشت په غیږ کي ونیوله په دې مانا چي ښایسته ښځه به وکړي.

که دا خوب ښځه ووینې د هغې بیا ښایسته میړه په برخه کیږي.

که چیرته میاشت د ده څنګ ته راغله په دې مانا چي زوی به ئې ډېر پوه او عالم وي.

## مجلس

که یو چا په یوه مجلس کي د یارانو سره شراب خوړل مانا ئې دا ده چي د حرامو په خوړل مانا ئط دا ده چي د حرامو په خوړلو او عیش او عشرت به بوخت سي او که د شرابو په مجلس کي ناست وو او ده شراب نه چښل په دې مانا چي د حرامو او فساد په کولو کي رضایت ولري.

او که څوک د ساز او آواز په مجلس کي وو په دې مانا چي په مصیبت به اخته سي.

## مجامعت

مجامعت یا د ښځي سره یو ځای کېدل په خوب کي یا شیطان بازي ورکول د حاجت پوره کول او سر ته رسېدل دي. که څوك له نجلۍ سره یو ځای سو په دې مانا چي په هغه کال به ښځه وکړي.

که څوك له حيوان سره يو ځای سو په دې مانا چي کارونه به ئې پر مخ ولاړ سی.

که څوك له اوښ سره دا د خير کار وکړي مانا ئې دا ده چي د زيان او سختې څخه به وژغورل سي او پر دښمن به بری ومومي.

## مړی

که چا مړی په خوب وليدی چي ښه جامې ئې اغوستي وي په دې مانا چي د ايمان سره تللی دئ او که مړي سپين کالی وي په دې مانا چي به آخرت کي ئې ښه نېک حال لري او که ئې توري جامې اغوستي وې بده مانا لري.

که په خوب کي مړي چا ته څه شی ورکړ په دې مانا چي د کوم ځای څخه چي هيله او اميد نه لري مال ورته رسيږي او که ئې د خوړلو شی چا ته ورکړ په دې مانا چي حلال رزق او روزي ئې ډېريږي.

که ئې خپل کالي مړي ته ورکړل په دې مانا چي په مصيبت به اخته سي، که مړي جامې پلورلې هغه ډول جامې گرانيږي.

که چا په خوب کي مړی په عذاب وليدی په دې مانا چي مړی په دنيا کي بد بد کارونه کړي دي.

## مرغه

مرغه په خوب کي ليدل که هر څومره غټ وي په هم هغه اندازه گټمن دئ.
که د ډېرو مرغانو نارې وې بيا په هغه ځای کي د مصيبت علامه او بېلگه ده.

که ئې ولیدل چي مرغانو هګۍ اچولي دي د اولاد خاوند به سي.

## مرغلره

مرغلره په خوب کي د اولاد په مانا سره ده او هم د ښایستې ښځي په مانا سره ده.

که چا ډېري مرغلري درلودې په دې مانا چي په هغه اندازه به مال او دولت تر لاسه کړي.

که چا مرغلري شیندلي او تیت و پرک ولیدلې د عملي خبرو مانا لري.

## مزدوران

که چا په خوب کي ولیدل چي ډېر مزدوران او کارګران ئې په کور کي کار کوي په دې مانا چي د چا سره به دښمني او خصومت کوي.

## مسجد

مسجد یا جومات په خوب کي د خیر او برکت مانا لري. که چا په خوب کي مسجد جوړ کړ په دې مانا چي د مسلمانانو سره مرسته کوي.

بل ځای بیا راغلي دي که چا د مسجد بنسټ یا تهداب کښېښود په دې مانا چي له یوې دینداري ښځي سره به واده وکړي. که چا د جومات څراغ ولګاوه په دې مانا چي په کارو کي به ئې رڼا او پرمختګ راسي.

## مشک

د اوبو مشک په خوب ليدل په دې مانا چي په سفر ځي او مال په لاس راوړي.
که چيرته مشک سوری وو په دې مانا چي له سفر څخه زيانويني.

## مکه

که چا مکه شريفه په خوب وليدله په دې مانا چي د مکې شريفي زيارت ته به ولاړ سي او که ئې مکه ښه ودانه وليدله په دې مانا چي ښه مال او دولت به تر لاسه کړي.

## مچ

د مچ ليدل په خوب کي د بدو خلکو په مانا سره دي.
که مچان پر راټول وه په دې مانا چي د بې غيرتو او پستو خلگو څخه به څه شي په لاس راوړي.
که په خوب کي د چا په غوږ مچ ننوتی په دې مانا چي د ورانو او سفله خلکو له خوا به وراني خبري واوري او په تنگ به سي.
که چا په خوب کي مچ مړ کړ په دې مانا چي سخت او کنجوس سړي ته ئې ماته ورکړې ده.

## موزه

د موزې ليدل په خوب کي د ژمي په وخت کي د خير په مانا ده. د دوبي په وخت کي د غم او وير په مانا سره ده.

که چا د موزې سره وسله هم درلوده دښمن ورڅخه په ډار او اندېښنه کي وي. که چا د څرمني موزې درلودې په دې مانا چي ښځه کوي.

## موږک

موږک په خوب کي د ښځي په مانا سره دئ چي په ظاهره کي پاکه او پرهېزگاره وي مگر په باطن کي بدکاره وي.

که چا موږک ونیوی په دې مانا چي هم داسي ښځه کوي که د چا په کور کي ډېر موږکان وه په دې مانا چي ډېري ښځي به ئې په کور کي سره راټولي سي.

که د چا په بستره کي موږک وو که ښځه وي یا نارینه په دې مانا چي د بل چا سره به ناروا اړیکي ولري.

## ممیز

ممیز یا کشمش په خوب کي مال او نعمت دئ.

که چا له ممیزو څخه اوبه وایستلې په دې مانا چي حلال مال به په لاس راوړي، که هر څوک په خوب کي ممیز وخوري په کاروبار کي به ئې برکت راسي.

## مېخ

که څوک مېخ په کوم شي کي وویني لوړ نوم او عزت په دنیا او آخرت کي ورته په برخه کیږي.

مېخ په خوب کې د ورور په مانا سره دئ. که چا مېخ په دېوال کې ټک واهه په دې مانا سره دئ چې له منافق سړي سره به دوستي وکړي. که مېخ د هډوکي څخه وي د قوت او غښتلتوب مانا لري او که چا د اوسپني مېخ درلودی په دې مانا چې د زوی خاوند به سي.

مېخ په خوب کې د ورور، زوی، دوست او ښځې په مانا سره دئ.

## مېږ

مېږ په خوب کې د شریفي او نېکي ښځې په مانا سره ده.

که چا مېږ درلوده په دې مانا چې د یو بزرګ او نېک سړي څخه به ګټه تر لاسه کړي. که چا د مېږي پوست وکښی په دې مانا چې پر خپل مخالف باندي به غښتلی سي او مال به ئې تر لاسه کړي.

که چا د مېږي سره چنګ کاوه په دې مانا چې ښځې به ئې مکر او ټګي کوي او که چا د مېږي شیدې خوړلې په دې مانا چې ناروغ به سي او که چا مېږ ورته ډالۍ کړه په دې مانا چې د زوی خاوند به سي.

## مېوه

که چا په خوب کې د خپل وخت مېوه وخوړله په دې مانا چې مال او دولت به ټول کړي.

هره مېوه د هغې په ونه پوري اړه لري که د ښې وني مېوه وي ښه او نېکه مانا لري او که بده ونه وه او مېوه ئې هم تروه یا ترخه وي بده مانا لري.

اومه مېوه د حرام مال په مانا سره ده او که چا د دوبي مېوه په ژمي خوړل ناروغ به سي.

که له وني څخه مېوه شکول د هم هغي مېوې په اندازه مال په لاس راوړي، او که مېوه له وني څخه پر مځکه لوېدلې وه بې له زيار او زحمت څخه مال په لاس راوړي.

## مرغۍ

مرغۍ په خوب کي عزت، منصب او ښايست دئ. د سوداګر له پاره ګټه ده. که د چا ښځه ميندواره وي او نر مرغه ووينې، نر اولاد به ئې پيدا سي، توري مرغۍ ګناهونه دي او سپيني مرغۍ نېکۍ دي.

# [ن]

## نارنج

که نارنج ژړ رنګ لري په هر صورت ښه بوی لري او د جنت له مېوو څخه ده، که چا په خوب ولیدی ښه او نېکه خبره ده. که چا څو دانې نارنج درلودل، د زامنو په مانا سره دي او ډېر نارنج ئې درلود د مال او نعمت مانا لري.

که چا یو خروار نارنج درلودل ډېر مال او دولت به په لاس راوړي.

## نرګس

د نرګس لیدل په خوب کي د ښایسته سړي په مانا سره دي.

که ښځه دا خوب ووینې چې تازه نرګس لري ښایسته لور به دنیا ته راوړي او که مېړه نه لري ښایسته مېړه به ئې په برخه سي. او که چا نرګس له مځکي څخه وشکاوه په دې مانا چې ښځې ته به طلاق ورکړي او که ښځې خپل مېړه ته نرګس ورکړ په دې مانا چې له هغه څخه به بېله سي.

## ناسته

که څوک پر مځکه ناست وو په دې مانا چې له سفر څخه به ګټه تر لاسه کړي.

## نال یا نعل

که چا د آس نعل درلود په دې مانا چې د لوړپوړو کسانو څخه به ګټه تر لاسه کړي او که چا د خره نال درلود په دې مانا چې له سفر څخه به ګټه تر لاسه کړي او که چا پخپله حیوانان نعلول په دې مانا چې په سفر به ولاړ سي.

## نوی

په خوب کې د هر نوي شي درلودل د خیر او برکت په مانا سره دي.

## نهنګ

د نهنګ لیدل په خوب کې د غله په مانا سره دي. که چا د نهنګ سره جنګ وکړ او پر بریالی سو په دې مانا چې پر خپل دښمن بریالی کیږي.

## نېزه

نېزه په خوب کې د زوی په مانا سره ده.

که چا د نېزې سره بله وسله هم درلوده په سیمه کې به لوړ مقام او واک ولري.

## ناوه

په خوب کې د ناوې ليدل د نېکو خاوند دئ. که څوك وګوري چې ناوه له باران پرته بهيږي د شر او فتنې دليل دئ او که د باران په وخت کې ناوه بهيږي له ستونزو څخه ژغورل کيږي.

که له ناوې څخه پاکې او روڼې اوبه رابهيږي د هوسايني او آرامۍ په مانا سره دي او که خړې اوبه وي د ناروغيو مانا لري.

## نايي (دلاك)

په خوب کې نايي ليدل غريبانو، بېوزلانو او فقيرانو ته ګټه رسوونکې سړي په مانا سره دئ او همدارنګه د هغه ناورا پوليس په مانا هم دئ چې له خلکو څخه په زور او جبر څه شي اخلي.

که څوك خپل برېتونه لنډ کړي خير او برکت به ئې په برخه سي. که سر او ږيره يو ځای وخريي که ناروغ وي روغتيا به ئې په برخه سي.

## نجار

نجار په خوب کې مؤدب سړی دئ چې خلکو ته ادب ورښيي. د ښار نجار ګټه ده.

## نکاح

په خوب کې نکاح کول لوړ منصب دئ.

که ځوک خپل دشمن په نکاح کړي پر هغه به بري ومومي.

نکاح د قرض خلاصولو مانا هم ورکوي، که ځوک بربنډه ښځه په نکاح کړي له غم څخه به وژغورل سي. که ځوک زناکاره ښځه په نکاح کړي حرامه دنيا په ئې په برخه سي.

## نوکان

که چا په خوب کي خپل نوکان اوږده وليدل په مصيبت اخته کيږي او يا خپل بدن په وېښتانو ډک ويني هم په غم او وير اخته کيږي.

که چا خلاصه دروازه په خوب وليدله کارونه ئې پر مخ ځي او که چا تړلې دروازه په خوب وليدله او کيلي ئې هم ورکه کړې وي د خپل کاروبار سلسله ځني ورانيږي.

که ځوک بالښت په خوب ويني خوښي ئې په برخه کيږي، او که ځوک بستره په خوب ويني و لوړ مقام او رتبې ته رسيږي. که ځوک ځوکۍ يا تخت په خوب ويني و لوړي رتبې ته رسيږي او که ځان پر ځوکۍ ناست ويني ډېري لوړي مرتبې او مقام ته رسيږي او د قوم مشر ټاکل کيږي.

که ځوک زانګو په خوب ويني خپل مطلب او مراد ته رسيږي، که ځوک خېمه او يا کيږدۍ په خوب ويني مانا ئې پاچاهي ده او خپل مراد او موخي ته رسيږي او کارونه ئې پر مخ ځي.

که ځوک پايه په خوب ويني د کلي ملک يا مشر به سي او خپلي موخي ته رسيږي.

## نېکان

چا چي په خوب کي نېکان وليدل د ښه ژوند مانا ورکوي او نېکان خلك خپلو ملګرو ته نصيحت او لارښوونه کوي. که په هره سيمه کي نېکان وليدل سي په هغه سيمه کي به پراخي، آساني، خوشحالي، عدل او انصاف وي.

## نېکي

که څوك په خوب کي ويني چي کوم نېک کار ئې کړی دئ، خپلوي به پالي او مسکينانو ته به صدقه ورکوي.

که څوك نېك کارونه کوي که په ويښه څه غم ولري د هغه غم او خپګان څخه به وژغورل سي. که سوداګر وي پر ښو ګټو به واوړي او له پورو څخه به خلاص سي.

# [و]

## واوره

که څوک په خوب کي ويني چي بې وخته واوري او ژلۍ اوريږي خوب ليدونکی به ناروغ سي او بيرته به روغ سي.

که چيرته دغه واوري پر خپل وخت او موسم برابره اوريږي په دې مانا چي غمونه او خپګان به ختم سي او پر دښمنانو به بری ومومي.

واوره ليدل د ګټي په مانا سره ده. ځيني بيا وايي چي د ميني او محبت مانا هم ورکوي. که څوک ويني چي واوره پر اوريږي ليري سفر به وکړي. که څوک واوره واخلي ګټه به وکړي، که څوک ويني چي پر وچه مځکه واوره اوريږي پاک خدای به باران وکړي.

## وعده

په خوب کي له چا سره وعده کول خير، نعمت او د عمر پر ډېروالي باندي دلالت کوي. که دښمن ئې وعده وکړي خير او خوښي به ورته ورسيږي.

که چا ته دښمن نصیحت وکړي دوکه به ورسره وکړي او وعده قرض دئ، که چا وعده وکړه او پر هغه باندي ئې عمل وکړ او پوره ئې کړه د ایمان او ښه باور په مانا سره ده.

## ورکېدل

که څوك په خوب کي ورك سي، د لیري سفر په مانا دئ. که څوك په مځکه کي ورك سي د دنیا په طلب کي به مغروره وي.

## ورېښم

ورېښم په خوب لیدل د خیر او ګټي کار دئ. که ژړ وه د ناروغۍ مانا لري. پاخه ورېښم تر اومو ورېښمو په ګټه دي. د ورېښمو جامې د نارینه وو له پاره زیان او د ښځو له پاره ګټمن دي.

## وزیر

که چا په خوب کي ولیدل چي وزیر دئ په دې مانا چي په دولت کي به لوړ مقام ته ورسیږي.

که وزیر هغه ته خولۍ او ډالۍ ورکړه په دې مانا چی پر خلکو به قوماندانی کوي او که وزیر د چا کور ته ولاړ د غم او ویر په مانا سره دئ او که چا د وزیر سره خواړه خوړل و مقام او بزرګۍ ته رسیږي.

## وړی

د غنمو وړی په خوب کي که شين او تازه وي د زوی او مال د ډېروالي په مانا سره دي او که وچ وړي وي د داسي زوی مانا لري چي اوږد ژوند ولري.

د خرما او انگورو وړي چي تازه وي ډېر ښه وي.

## ورون

ورون په خوب د ده او د خپلوانو د قوت او زور په مانا سره دئ. که د چا ورون مات سو په دې مانا چي د خپلو خپلوانو څخه بېليږي او وجود ئې کمزوری کيږي.

## ورځي

که څوک د شنبې ورځ په خوب ويني کار دي پيل کړي په گته ئې دي.

## وني

په خوب کي د وني ليدل نېک او گټور تماميږي.

که څوک د ونو وهل، ماتتول، کښل په خوب ويني غم او مصيبت دئ د هغه کس له پاره چي داسي خوب ئې ليدلی دئ.

مګر د وني کښېنول په خوب کي د زوی او مال په مانا سره ده. که څوك رواني اوبه، شینګیاه په خوب ویني ورځي ئې په خوښي او عیش سره تېرېږي او ګټه تر لاسه کوي.

که څوك وچه ونه په خوب ویني منافق خلك دي په تېره بیا د خرما ونه.

هغه ډول ونې په خوب لیدل چي خلکو ته ګراني او د قدر وړ وي په دې مانا چي د یوه شریف او بزرګ سړي لیدل دي. هره ونه ځانته بېل بېل تعبیرونه او ماناوي لري لکه:

**د الو ونه:**

په خوب کي د الو ونه د طبیب سړي په مانا سره ده چي ګټه ئې و ټولو خلکو ته رسیږي. د ژړو الو ونه بیا د ناروغۍ په مانا سره ده.

**د انارو ونه:**

په خوب کي د انارو ونه د داسي سړي په مانا سره ده چي ډېر مال او نعمت لري او هم د بډای او ښایستې ښځي په مانا سره ده.

**د انځر ونه:**

د انځر ونه په خوب کي د غښتلي سړي مانا لري.

**د انګورو ونه:**

په خوب کي د مهربانه، ښایستې او نېکي ښځي په مانا سره ده.

**د بادام ونه:**

د بادام ونه د بدکاره ښځې په مانا سره ده.

**د پستې ونه:**

د بډای مګر بخیل سړي په مانا سره ده.

**د چنار ونه:**

د نېک سړي په مانا سره ده چې ګټه ئې ټولو خلکو ته په تېره بیا خپلو خپلوانو ته رسیږي.

**د اغزي ونه:**

د بدکاره سړي په مانا سره ده چې خلکو ته ئې زیان رسیږي ځیني بیا وایي د ناروغ سړي په مانا سره ده چې هیچا ته ئې ګټه نه رسیږي.

**د خرما ونه:**

د شریف او عالم سړي په مانا سره ده که چا ولیدل چې د خرما ونه ئې په کور کي ده په دې مانا چې د ښه او پوه سړي سره به ملګری او وپېژني.

**د زردالو ونه:**

په خوب کي د ناروغ سړي په مانا سره ده.

**د زيتون ونه:**

د داسي سړي په مانا سره ده چي د ښه اصل او نسب خاوند وي مگر مال او دارايي ډېره نه لري او خلکو ته ئې لږ گټه رسيږي.

**د سنځلي ونه:**

د خوبں او نېک سړي په مانا سره ده.

**د مڼو ونه:**

د ښه قد او قامت سړي په مانا سره ده.

**د شفتالو ونه:**

د غښتلي او پوه سړي په مانا سره ده چي د خلکو سره په پسته ژبه رغيږي.

**د خټکي جوړنگ:**

د ښه سړي په مانا سره ده مگر ژر له منځه ځي او مړ کيږي.

**د صنوبر ونه:**

د ملنگ سړي چي نه دين لري او نه دنيا.

**د کډو جوړنگ:**

د داسي طبيب په مانا سره ده چي د ښه کلتور او فرهنګ خاوند وي او په ښه پوهه سمبال وي.

**د ګلانو ونه:**

د خوښ او زړه وړونکي سړه په مانا سره ده چي ډيري ښې خوږې خبري کوي.

**د نارنجو ونه:**

د ناروغ او لټ سړي په مانا سره ده.

**د نل يا کړکي ونه:**

د خشک او دردمن سړي چي د يوه خبره بل ته وړي او چغلي هم کوي په مانا سره ده.

# ماخذونه

۱. تعبیر خواب
۲. د خوبونو مستند تعبیر

# د لیکوال چاپ او ناچاپ آثار

**چاپ:**

۱. د ټوکو ډالۍ

۲. خندا

۳. اوس نو ورته خانده

٤. خندا روغتیا ده

۵. وخانده چې نړۍ درته وخاندي

٦. راشه وخانده

۷. راځئ چې وخاندو

۸. خندا مینه ده/ لومړی ټوک

۹. خندا مینه ده/ دوهم ټوک

۱۰. خندا د ژوند مالګه ده

۱۱. خندا خوند دئ

۱۲. هم له ځان او هم له خلکو سره وخانده

۱۳. خندا ښایست دئ

۱٤. چې نه خاندې هم وخانده

۱۵. خندا ژوند دئ

۱٦. د ګلالیو ماشومانو ټوکې

۱۷. ټوکه څه شي ده؟

۱۸. ټوکه خندا ده

۱۹. جوکس

۲۰. تریخ حقیقت

۲۱. خواږه او ترخه

۲۲. د لندن طوطي

۲۳. انساني کرامت

۲٤. د غازي امان الله خان د خولې خبري

۲۵. سنگسار

۲٦. د اولس بږغ

۲۷. د کندهار اولسي دودونه

۲۸. د ښځو په وړاندي تاوتریخوالی

۲۹. افغانستان څنگه جوړېدای سي؟

۳۰. یوه ځولۍ پښتو گړني

۳۱. پښتو هممانیزونه

۳۲. د کندهار نامیان

۳۳. شگون یا انگېرني

۳٤. د خوب مانا (تعبیر)/ همدغه اثر

**ناچاپ:**

۱. د شنه پاکټ گولۍ

۲. پښتو سیمه ییز قاموس

۳. له ټوکو څخه خوند واخلئ!